ټول حقوق د طبع محفوظ دی

**نوم د کتاب** : دَ زندان ملغلرې

**تاليف** : علامه مولانا مفتی مجتبیٰ عامر حفظه الله .

**کمپوزنګ** : عبدالمقيد بن سرتاج الحق عفا اللّٰه عنهما شمشه خيل صوابی .

**طبع اول** : ١٤٤٣ هجـ ٢٠٢١ ء

**تعداد** : ٢٢٠٠

**ناشر**: مکتبه جواهر القران سليم خان صوابی .

**د ملاويدو پته**

مکتبه جواهر القرآن سليم خان صوابی .

٠٣١١٩٣٨٤٠٠٦ ،٠٣١٢٧٣٤٨٨٠٢

سلمان UBLبينک جهانګيره

تاج کتب خانه ٠٣١٢٩٢١٦٨٨٧

مکتبه انوارالعلوم نزد حافظ صاحب مدرسه خار باجوړ ٠٣٠٤٩٦٩٦٨٠٠

مکتبه اسلاميه قيصر خان پلازه کالج چوک سواړئ بونير ٠٣٣٢٩٦٠١٦٠٠

مکتبه الحسن محله عسيٰ خيل نيو روډ منګوره سوات

۰۳۴۶۹۴۱۵۱۸۱

مکتبه حسینیه اینډ خوشبو محل شیوه اډه ۰۳۱۴۹۹۹۶۲۸۰

لوند خوړ ۰۳۴۴۹۱۰۷۸۲۹

## ګرانوکتونکو

ډیرو ګرانو او محترمو لوستونکو رونړو دا اصول د قران کریم زما مشفق او محترم استاذ په مونږه د هرچانه ګران او ډیرو زړونو اسیر حالا مسجون محتاج دعا او د هر وفادار شاګرد او طالب جان او د هر دین پسند مسلمان ، داعی د اسلام ، محسن د هر رور مسلمان ، د اشاعت سرخیل او دخپلو مشفقو استاذانو دعا جناب مفتی مجتبیٰ عامر صاحب سلمه الله د بیاض دپاره په لنډو لیکلی دی خو د بیاض چهاپ کیدو کښې لاوخت وو نو مونږه ځنو ملګرو دا مشوره اوکړه که چرته دا جدا د یو پمفلیټ په شکل چهاپ شی او په جماتونو او کورونو کښې د ماشومانو کلاسونو کښې په وړو ماشومانو په یاده یاد کړې شی نو ډیره فائده به وی او نارینو او زنانو ته به فائده اورسی . الله تعالی دِ د مفتی صاحب دا سعی په خپل دربار کښې قبوله کړی او چې چاته او د چا وړو وړو د ګلونو پشان بچو ته ددې کتاب نه فائده اورسی .

نو مفتی صاحب محترم او غم زپلو اسیرانو د هجران او بیلتون په اور سوو ګیله منو احساس منو قیدیانو رونړو د آزادئ دپاره دعاګانی ضروری کوئ .الله مو خوشحاله کړه .

ستاسو رور احمد سعید بن سرور دین تور ډهیر

مدرس مدرسه جواهر القران سلیم خان صوابی

| نمبر شمار | عنوانات | صفحه نمبر |
|---|---|---|
| ۱. | په امید امید | ۵ |
| ۲. | مقدمه | ۱۰ |
| ۳. | اوله خبره تعارف د قران | ۱۱ |
| ٤. | ﴿۱﴾ د قران کریم تعریف | ۱۲ |
| ۵. | ﴿۲﴾ اسماء القران | ۱۳ |
| ٦. | ﴿۳﴾حکمت د نزول د قران | ۱۵ |
| ۷. | ﴿٤﴾ اداب د زده کولو د قران کریم | ۱۷ |
| ۸. | ﴿۵﴾ فضیلت د قران کریم | ۱۸ |
| ۹. | دویمه خبره موضوع د قران کریم | ۲۰ |
| ۱۰. | مقاصد ثمانیه | ۲۲ |
| ۱۱. | التوحید | ۲۳ |
| ۱۲. | د توحید قسمونه | ۲۳ |
| ۱۳. | (۳) توحید فی الافعال : | ۲۵ |
| ۱٤. | (٤) توحید فی الحقوق یا توحید فی العبادة : | ۲۵ |
| ۱۵. | شرک | ۲۷ |
| ۱٦. | د شرک اعتقادی قسمونه | ۲۹ |
| ۱۷. | شرک فی العلم | ۲۹ |
| ۱۸. | شرک فی التصرف | ۳۱ |

| | | |
|---|---|---|
| ۱۹. | شرک فی العبادة | ۳۳ |
| ۲۰. | شرک فی الدعاء | ۳٤ |
| ۲۱. | شرک فی الحکم | ۳٦ |
| ۲۲. | شرک فعلی | ۳۹ |
| ۲۳. | تحریمات العباد : | ۳۹ |
| ۲٤. | نذورالعباد | ٤۰ |
| ۲۵. | شفاعت قهریه | ٤۲ |
| ۲٦. | شرک فی البرکة | ٤٤ |
| ۲۷. | دویم مقصد ایمان بالکتاب | ٤۵ |
| ۲۸. | دریم مقصد ایمان بالرسول | ٤٦ |
| ۲۹. | څلورم ایمان بالاخرة | ٤۷ |
| ۳۰. | پنځم مقصد الجهاد فی سبیل الله | ٤۸ |
| ۳۱. | شپږم مقصد الانفاق فی سبیل الله | ٤۹ |
| ۳۲. | اووم مقصد التنظیم | ۵۰ |
| ۳۳. | اتم مقصد اداب | ۵۰ |
| ۳٤. | د مقاصدو مینځ کښې ربط | ۵۱ |
| ۳۵. | دریمه خبره قران خپله خبره چاته کوی؟ مخاطب د قران | ۵۲ |
| ۳٦. | مومنان | ۵۳ |
| ۳۷. | دهریان | ۵۳ |

| | | |
|---|---|---|
| ۳۸. | مجوس | ٥٤ |
| ۳۹. | مشركين | ٥٤ |
| ٤۰. | مشركين بالعبادالصالحين | ٥٤ |
| ٤۱. | مشركين بالملائكه | ٥٥ |
| ٤۲. | مشركين بالجن | ٥٥ |
| ٤۳. | مشركين بالكواكب | ٥٥ |
| ٤٤. | يهود | ٥٦ |
| ٤٥. | نصارى | ٥٦ |
| ٤٦. | منافقين | ٥٧ |
| ٤۷. | تبصره | ٥٧ |
| ٤۸. | څلورمه خبره دا مسئلې قران كريم څنګه بيانوى؟ يعنى انداز بيان د قران | ٥۸ |
| ٤۹. | دعوت بالحكمة | ٥۸ |
| ٥۰. | دليل عقلى | ٥۹ |
| ٥۱. | دليل نقلى | ٦۰ |
| ٥۲. | دليل وحى | ٦۱ |
| ٥۳. | الحلف | ٦۱ |
| ٥٤. | وضاحت د دعوى دپاره | ٦۲ |
| ٥٥. | الموعظة الحسنة | ٦۳ |
| ٥٦. | زجر | ٦۳ |

| | | |
|---|---|---|
| ۵۷. | تخویف | ٦٤ |
| ۵۸. | بشارت | ٦٤ |
| ۵۹. | تزهید من الدنیا | ٦۵ |
| ٦۰. | التحذیر عن وسوسة الشیطان | ٦٦ |
| ٦۱. | الابتلاء بالنعم والنقم | ٦۷ |
| ٦۲. | دعوة بالجدال | ٦۷ |
| ٦۳. | الامور الممدّه للداعی | ٦۸ |
| ٦٤. | الامور المصلحة | ٦۹ |
| ٦۵. | التسلیة | ٦۹ |
| ٦٦. | التشجیع | ۷۰ |
| ٦۷. | العقبات | ۷۱ |
| ٦۸. | پنځمه خبره چې بیان اوکړې نو څه به اوشی ؟ یعنی اثر د قران کریم | ۷۱ |
| ٦۹. | دویم قسم اصول اصول د زده کولو د سورت | ۷۳ |
| ۷۰. | ترتیب نزولی او مصحفی | ۷٤ |
| ۷۱. | ربط د سورت | ۷٤ |
| ۷۲. | دعوی د سورت | ۷٤ |
| ۷۳. | تقسیم او خلاصه د سورة | ۷۵ |
| ۷٤. | امتیازات | ۷۵ |
| ۷۵. | دریم قسم اصول د زده کولو د آیت | ۷٦ |

| | | |
|---|---|---|
| ۷۶. | د قرآن کریم خلاصه | ۷۸ |
| ۷۷. | د سورتونو د نومونو ربط | ۸۰ |
| ۷۸. | دا ربط اسمی په نظم کښې د مدرسه جواهر القران یو مخلص قیدی طالب العلم محمد ادریس (سوات کبل) د قلم نه | ۸۵ |
| ۷۹. | د ټول قران کریم لنډه خلاصه | ۹۱ |
| ۸۰. | قرانی معلومات | ۱۰۶ |
| ۸۱. | دعا | ۱۲۵ |

بسم الله الرحمن الرحیم

## په امید امید

الحمد لله الذی نزّل الفرقان ، وخصّ من شآء لخدمته بالفضل والاحسان ، والصّلٰوة والسلام علی سید الانس والجان ، الذی کان خلقه القرٰان . وعلی اصحابه الذین فازوا بالعلم والایقان ، الذین نصروا دین الرحمن ، وعلی من اقتدوا بهدیهم بالارکان والجنان ، واشاعوا علم القران بالبرهان ،

امابعد فاعوذ بالله من الشیطن الرحیم بسم الله الرحمن الرحیم الرَّحْمَنُ (١) عَلَّمَ الْقُرْآنَ (٢) خَلَقَ الْإِنْسَانَ (٣) عَلَّمَهُ الْبَيَانَ (٤)

وقال النبی ﷺ خیرکم من تعلم القران وعلمه او کما قال النبی ﷺ .

الله رب العزت چې کله خپل خصوصی رحمتونه او برکتونه دنیا ته د خودلو اراده اوکړه نو دنیا ته ئې د رحمت مجسمه نمونه خپل خوږ کتاب ، کلام عزیز ، فرقان حمید را اولیږلو . چې هغه مجسم رحمت ، سراپا مهربانی ، د مهربانۍ باران ، او د الطاف الهیو مرکز دې د هغې سره هر قسمه تعلق او محبت د رحمت ذریعه ده څوک هم د الله تعالی رحمتونه او مهربانۍ ځان طرفته راخکل غواړی نو قرآن له دِ سینه ورکړی هغې سره دِ تعلق جوړ کړی ایمان ئې رحمت ، عمل ئې رحمت ، وئیل اوریدل ئې رحمت ، زده کول او خودل ئې رحمت ، محبت مینه ورسره لرل رحمت دې او ولې به نۀ وی چې رحمن ذات د رحمت خزانه دنیا ته رالیږلې ده " الرحمن علم القران " مهربان ذات قران

کريم خودلې دې " اشاره چې دا قران کريم ئې د خصوصی رحمت مظهر دې . قران کريم ته هم رحمت وائی .

"وَلَقَدْ جِئْنَاهُمْ بِكِتَابٍ فَصَّلْنَاهُ عَلَى عِلْمٍ هُدًى وَرَحْمَةً لِقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ " الاعراف : ۵۲

" او يقينی ده چې راوړې مې دې دوئ ته کتاب په تفصيل جدا کړې دې مونږه دې لره په علم سره هدايت او رحمت دې دپاره د هغه قوم چې ايمان لری "

او مونږه ته ئې د هغې چينې د رحمت نه د اغستلو طريقه خودلی ده چې د هغې منل او عمل او وئيل او اوريدل ادب او احترام او زده کول خورول يعنی ددۀ سره تعلق لرل ئې د حصول ذريعه ده.

"وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَأَنْصِتُوا لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ" الاعراف : ۲۰٤

" او کله هم چې قران مجيد لوستلې کيږی نو تاسو هغې ته غوږ کيږدئ . او چپ شئ ددې دپاره چې مهربانی درباندې اوکړې شی "

"وَهَذَا كِتَابٌ أَنْزَلْنَاهُ مُبَارَكٌ فَاتَّبِعُوهُ وَاتَّقُوا لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ " الانعام ۱۵۵:

" او دا کتاب دې چې ما راليږلې دې برکتی دې نو اومنئ دې او اويريږئ اميد دې چې په تاسو به رحم اوکړې شی "

د قران کريم دا مهربانی په دې باندې حاصليږی چې دا زده کړې شی او تدبر پکښې اوکړې شی د هغې حلال حلال اوکنړلې شی او حرام ئې حرام اوګنړلې شی د هغې په آيتونو کښې سوچ اوکړې شی او عبرت ترينه حاصل کړې شی ددې زده کړې ډير محنتونه شوی دی څۀ لنډ او څۀ اوږدۀ . هرچا د خپل وس مناسب خدمتونه کړی

دی په دې صدئ کښې دا خدمت الله تعالی د مولانا حسین علی صاحب رح د شاګردانو په برخه کړې وو د هغهٔ خصوصی شاګرد امام الانقلاب شیخ القرآن مولانا محمد طاهرﷺ زبردست خدمت د قران فهمئ اوکړو لوئ لوئ شاګردان ئې پیدا کړل الله تعالی دِ خپل دربار کښې قبول کړی د هغوئ د طرز یو خصوصی امتیاز دا وو چې د سورتونو مقصدونه او ربطونه معلوم شی او د آیتونو تړون او مناسبت هم معلوم شی پدې مختلف تصانیف اوشو شیخ القرآن علیه الغفران یو امتیازی کتاب "سمط الدرر" پدیکښې لیکلې وو د هغې مختلف وضاحتونه اوشو کله د کتابونو په شکل کښې او کله د قران کریم د حاشیو په شکل کښې . بنده عاجز هم د سمط الدرر شرح په پښتو ژبه کښې په دوو جلدو کښې د الله تعالی په فضل لیکلې ده چې لا تر اوسه چهاپ شوی نده په جیل کښې ووم چې د ځنو ملګرو درخواست باعث شو چې د قرآن په حاشیه مختصر طریقی سره د ایتونو او سورتونو ربطونه اولیکلې شی د هغه رونړو (مولانا محمد اسحاق ، مولانا محب الله ، مولانا احمد سعید ) خبره راباندې ګرانه وه او غورځول راته ګران شو اګر چې سوچ مې کولو نو ډیر داسې محنتونه موجود وو خصوصا ځما د محترم رور مفتی محمد آیاز صاحب او د شیخ القران مولانا عبدالجبار صاحب په معیت کښې د محترم رور مفتی شریف حسین صاحب او د حضرت مولانا بادشاه منیر صاحب او مولانا عبدالوهاب صاحب داسې محنتونه وو چې ځما د عاجز محنت ته هیڅ ضرورت نهٔ وو بیا د جیل

د ملګرو اصرار وو نو پدې اراده مې شروع اوکړه چې په پښتو کښې د عوامو رونړو دپاره ربط معلومول آسان شی د هغه بیاضونو نه علماء او طلباء ډېر په آسانه مستفید کیدې شی او عوام رونړه ډېر په آسانه فائده نشې اغستلې نو په پښتو کښې د هغې اراده اوکړې شوه او د خادمانو په فهرست کښې به شمار شی  او په امید امید د هغې شروع اوشوه او ورسره د مشکلاتو لیکلو اراده اوشوه چې زیاته فائده به ئې وی د عوامو ډېر خیال ساتلې شوې دې نو ددې وجې نه علمی اصطلاحات پکښې کم ملاویږی . الحمد لله د الله تعالی په فضل باندې او د الله تعالی په خصوصی فضل باندې تقریبا سره د جیل د ماحول نه او د ظاهری مشکلاتو سره او د علمی کمی او د اسبابو او د وسائلو کمی سره الله تعالی ډېر په آسانه ٤٥ ورځو کښې سرته اورسولو او امید د الله تعالی نه دې چې قبول به ئې کړی او د خپلې رضا ذریعه دِ اوګرځوي . هرقسمه مرسته کونکو ته دِ الله تعالی اجر ورکړی امین یا رب العالمین.

مجتبیٰ عامر ولد عبدالمتین سلیم خان صوابی

حالا فضاګټ جیل سوات

✤ ✤ ✤

## مقدمه

د هرکتاب یو مزاج وی چې هغه مزاج اوپیژندلې شی نو د هغې زده کول او د هغې نه فائده اغستل آسان شی قرآن کریم د اللّٰه رب العزت کتاب دې ددې زده کول او ددې نه فائده اغستل دا ځمونږه ذمه واری ګرځولې شوی ده نو د قران کریم مزاج باندې هم ځان پوهه کول ضروری دی د قرآن کریم ایتونه داسې دی لکه چې ملغلری په تار کښې یو بل سره تړلې شوې وی خو چې کله د قرآن کریم په طرز او انداز سړې پوهه شی د هغې د پوهې دپاره مشرانو شیوخ کرامو یو طرز ایخې دې چې په هغه طرز وی نو تلل آسان شی او پوهیدل آسان شی د هغې دپاره ځنې اصطلاحات زده کول ضروری دی لکه د علم طب خپل اصطلاحات وی او د سائنس خپل اصطلاحات وی او د ریاضۍ خپل نو علم القرآن مستقل علم دې د هغې خپل اصطلاحات دی ځمونږه استاذان هغې ته اصول د قران کریم وائی . پدې مختلف کتابونه لیکلې شوی دی خو پدې اوسنی وخت کښې د ټولو کتابونو چینه د شیخ القران علامه محمد طاهر پنج پیری علیه الغفران کتاب دې " العرفان فی اصول القران " روستنی خلق د هغې نه اخذ کوی لنډول اوږدول آسانول کوی د هغې په طرز و طریقه هغه اصطلاحات د قران کریم نه د فائدې دپاره مخکښې لیکلې کیږی ځکه دننه قران کریم کښې خلاصو او د آیتونو په ربط کښې د شیخ القرانؒ طرز امام ګرځولې شوې دې د هغۀ د مایه ناز شاګردانو ځما درنو استاذانو ملغلرې په تار کړې

شوې هغه اصول هم د اصطلاحاتو د پيژندګلو دپاره ليکلې کيږې .
دا په درې قسمه دی ــ(١) چې د ټول قران سره يې تعلق لرى ــ(٢) چې د سورت د پوهې سره ــ(٣) چې د آيت د فهم سره تعلق لرى .
اول هغه اصول چې د کل قران سره تعلق لرى نو ددې اصولو مونږ د پنځو سوالونو په شکل وضاحت کوو چې يادول ئې آسان شي .
ټولې پنځه خبرې دي د هغې وضاحت
(١) قران کوم کتاب دې ؟ تعارف د قران ــ(٢) قران څۀ وائى؟ موضوع د قران ــ(٣) قران خپله خبره چاته کوى ؟ يعنى چاته ئې وائى مخاطب د قران ــ(٤) قران خپله خبره ځنګه کوى ؟ انداز بيان د قران ــ(٥) چې قران بيان اوکړى نو څه به اوشى ؟ اثر د قران کريم .

## اوله خبره تعارف د قران

هرکتاب چې بنده وائى نو د هغې پيژندل ضرورى دى يعنى قران کريم کوم کتاب دې ؟ نو په پيژندلو سره به د قران کريم عظمت او لوئ والې په زړۀ کښې نور هم سيوا شى ځکه چې د کوم کتاب قيمت نوى معلوم شوې نو د هغۀ قدر د بنده سره نۀ وى او چې صحيح طريقې سره معرفت اوشي نو قدر او عظمت سيوا شي نو د قران کريم د معرفت دپاره مونږ پنځه خبرې کوو (١) د قران کريم تعريف ــ(٢) اسماء د قران کريم ــ(٣) حکمت د نزول القران ــ(٤) د قران کريم د زده کړې اداب ــ(٥) فضيلت د قران کريم .
ددې پنځو خبرو تفصيل صرف د وضاحت د اصطلاحاتو دپاره کوو .

## ﴿۱﴾ د قران کریم تعریف

د قُرْاٰن لفظ مصدر د قَرَءَ دې په وزن د فُعْلان لکه غُفْران په عربئ کښې قَرَءَ په معنی د لوستلو ، مطالعه کولو ، جمع کولو او رایوځائ کولو په معنی باندې راځی . نو قراٰن مصدر په معنی د مَقْرُوءٌ دې نو معنی دا چې لوستلې شوې ، مطالعه کړې شوې او جمع کړې شوې . او بله د نقل پکښې هم پرته ده په لوستلو کښې ټکی راجمع شی او بیا نقل شي د خلهٔ نه نو ځکه قرأت ته قرأت وائی نو قران کریم جمع کړې شوې دې او نقل کړې شوې دې ځکه ورته قران وائی دا نوم د قران عَلَم دې او نور ټول ددهٔ اسماء صفتی دی چې کله علم شی نو غیر منصرف وی او چې کله علمیت ترینه ختم شی او صرف د لوستلې شوی په معنی شی نو بیا منصرف وی د قران کریم تعریف اصولیان په خپله ژبه بل شان کوی مونږه د قران کریم زده کړه کوو نو د قران کریم تعریف د قران نه خهٔ دې قران کریم ځان خپله داسې ښائی .

وَإِنَّهُ لَتَنْزِيلُ رَبِّ الْعَالَمِينَ (١٩٢) نَزَلَ بِهِ الرُّوحُ الْأَمِينُ (١٩٣) عَلَى قَلْبِكَ لِتَكُونَ مِنَ الْمُنْذِرِينَ (١٩٤) بِلِسَانٍ عَرَبِيٍّ مُبِينٍ شعراء:١٩٢تا ١٩٦.

"او یقینا دا قران رالیږلې شوې د رب الٰعلمین دې راوړې دې دهٔ لره اعتمادی ملائیکې ستا زړهٔ ته چې شی تهٔ یرونکې په ژبه صافه د عربی"

كَلَّا إِنَّهَا تَذْكِرَةٌ (١١) فَمَنْ شَاءَ ذَكَرَهُ (١٢) فِي صُحُفٍ مُكَرَّمَةٍ (١٣) مَرْفُوعَةٍ مُطَهَّرَةٍ (١٤) بِأَيْدِي سَفَرَةٍ (١٥) كِرَامٍ بَرَرَةٍ عبس ١١، تا ١٦

” داسې نده پکار دا آيتونه نصيحت دي نو د چا چې رضا شى نو ياد دې کړى ليکى دې په پاڼو د عزت کښې اوچتې شوى پاکې دى په لاسونو د ليکونکو کښې دې چې معزز او نيک دى“

ددې آيتونو نه دا معلومه شوه چې قران کريم الله تعالى نازل کړې دي نو کلام د الله تعالى دې دويم راوړونکې جبرئيل ﷺ دې او ژبه ئې عربي ده او په نبى ﷺ راغلې دې .

## ﴿۲﴾ اسماء القران

د قران کريم عظمت د قران کريم د نومونو نه معلوميږى ځکه مشهوره خبره ده چې ” كثرة الاسماء تدل على شرافة المسمّٰى “ ډير نومونه په عزت دلالت کوي د قران کريم نومونه صفتي دي دا خائى چې دا ټول د قران کريم کمالات دي هر يو نوم د قران کريم مستقله فلسفه او حکمت ښائى چې دومره غټ کمال پکښې دې . دلته صرف د نمونې دپاره پنځه نومونه ليکلې کيږي .

(۱) الفرقان : تَبَارَكَ الَّذِي نَزَّلَ الْفُرْقَانَ عَلَى عَبْدِهِ لِيَكُونَ لِلْعَالَمِينَ نَذِيرًا فرقان : ۱

” خير والا دې هغه ذات چې راليګلې دې هغۀ فرق کونکې کتاب په بنده خپل چې شى د عالَم دپاره ويرونکې“

نو دا فلسفه خائى چې قران کريم د حق او باطل او خالق او مخلوق مينځ کښې بيلتون راوستونکې دې او بل فرقان د فيصلې کتاب ته وائى نو قران د فيصلې کتاب دې .

(۲) هدًى : ذَلِكَ الْكِتَابُ لَا رَيْبَ فِيهِ هُدًى لِلْمُتَّقِينَ البقرة : ۲

"پدې کتاب کښې څۀ شک نشتې خودنه ده دپاره د ویریدونکو"
دا حقیقت دا ایت کریمه په ډاګه کوی چې د ژوند په کومه لار کښې درنه لار ورکه شوه نو هغه به درته قران خائی . نو قران لار ښود ، رهبر ، رهنما دې .
(۳) شفاء : يَا أَيُّهَا النَّاسُ قَدْ جَاءَتْكُمْ مَوْعِظَةٌ مِنْ رَبِّكُمْ وَشِفَاءٌ لِمَا فِي الصُّدُورِ وَهُدًى وَرَحْمَةٌ لِلْمُؤْمِنِينَ ، قُلْ بِفَضْلِ اللَّهِ وَبِرَحْمَتِهِ فَبِذَلِكَ فَلْيَفْرَحُوا هُوَ خَيْرٌ مِمَّا يَجْمَعُونَ يونس :۵۷، ۵۸
" اې خلقو! راغې تاسو ته وعظ د رب ستاسو نه او شفا د مرض د زړونو او خودنه او مهربانی د پاره د مومنانو ، اووایه په فضل د الله او د رحمت د هغه سره نو په دې دې خوشحاله شی دې غوره دې د هغه نه چې دوئ جمع کوی"
دا ایت دا خائی چې قران د مرضونو علاج دې په سینه کښې غلط عقائد وی ، یا غلط اعمال بغض کینه ، حسد ، تکبر وغیره یا د خواهشاتو محبت وی نو قران علاج او دارو دی .
(٤) نور : يَا أَيُّهَا النَّاسُ قَدْ جَاءَكُمْ بُرْهَانٌ مِنْ رَبِّكُمْ وَأَنْزَلْنَا إِلَيْكُمْ نُورًا مُبِينًا نساء : ۱۷٤
اې خلقو! یقینا راغې تاسو ته دلیل د رب ستاسو نه او را اوږم لیږله تاسو ته رنړا ښکاره"
اشاره ده چې د قران نه علاوه په زړۀ کښې او په عالم کښې ظلمت او تیارۀ ده که خپل زړۀ او خپله معاشره او ملک رنړا کول غواړی نو قران کریم له راشه او دا عملی کړه او د ژوند قانون ئې کړه رنړا به درته نصیب شي .
(۵) الکتاب : ذَلِكَ الْكِتَابُ لَا رَيْبَ فِيهِ هُدًى لِلْمُتَّقِينَ البقرة : ۲

"پدې کتاب کښې څۀ شک نشته خودنه ده دپاره د ویریدونکو"

تَنْزِيلُ الْكِتَابِ لَا رَيْبَ فِيهِ مِنْ رَبِّ الْعَالَمِينَ الم سجده : ۲

نازلول ددې کتاب بې شکه د رب العٰلمین د طرفنه دی"

الکتاب د قران کریم په ژبه کښې کامل مکمل نظام او دستور ته وائی . لیکلې شوی ته د قران په ژبه کښې نۀ وائی بلکه مکمل د ژوند نظام ته وائی نو قران مکمل نظام او دستور د ژوند دې .

تو نہ میدانی کہ آئینی تو چیست زیر گردوں سر تمکین تو چیست

آن کتاب زنده قران حکیم حکمت او لایزال ست و قدیم

"تاته پته نشته چې ستا د ژوند طریقه او د آسمان د لاندې د اوسیدلو راز څه دې . دا ژوندې قران کریم چې ددې قانون باندې فنا نۀ راځی"

## ﴿۳﴾ حکمت د نزول د قران

د قران کریم د فضیلت د معلومولو دپاره دریمه خبره د قران کریم د راتلو حکمت معلومول ځکه چې د چا مقصد څومره غټ وی نو دومره هغه عظیم وي د قران کریم د راتلو مقصد مختصر دا چې هدایت او رهبرئ له راغلې دې خو د څۀ هدایت او رهبری کوی او لار څه ته خائی او تفصیلی آیتونه ډیر دي یو څو ملاحظه کړه

الر كِتَابٌ أَنْزَلْنَاهُ إِلَيْكَ لِتُخْرِجَ النَّاسَ مِنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ بِإِذْنِ رَبِّهِمْ إِلَى صِرَاطِ الْعَزِيزِ الْحَمِيدِ ابراهیم:۱

الله پوهیږی په دې: دا کتاب دې ما رالیږلې دې تاته چه را اوباسې خلق د تیارو نه رڼړا ته په حکم د رب د دوی سره لارې د زبردست او صفتونو والا"

هَذَا بَلَاغٌ لِلنَّاسِ وَلِيُنْذَرُوا بِهِ وَلِيَعْلَمُوا أَنَّمَا هُوَ إِلَهٌ وَاحِدٌ وَلِيَذَّكَّرَ أُولُو

**الْأَلْبَابِ ابراهيم:۵۲**

"دا رَسوَل دی خلقو ته او چې او ويرَوَلې شی دوی په دې سره او چې پوهه شی دوئ چې يقينا هغه اله دې يو او چې سوچ اوکړی عاقلان"

**إِنَّا أَنْزَلْنَا إِلَيْكَ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ لِتَحْكُمَ بَيْنَ النَّاسِ بِمَا أَرَاكَ اللَّهُ وَلَا تَكُنْ لِلْخَائِنِينَ خَصِيمًا النساء:۱۰۵**

"يقينا راليږلې دې مونږه تاته کتاب رشتونې چې حکم اوکړې په مينځ د خلقو کښې هغه چې خودلې دې تاته الله او مۀ کيږه دوکه بازو لره فيصله مار ( طرفدار) "

**بِالْبَيِّنَاتِ وَالزُّبُرِ وَأَنْزَلْنَا إِلَيْكَ الذِّكْرَ لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ مَا نُزِّلَ إِلَيْهِمْ وَلَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُونَ نحل:۴۴**

"د دلائلو او کتابونو سره او راليږلې م دې تاته قران چې بيان کړې خلقو ته هغه کتاب چې راغلې دې دوئ ته او اميد دې چې دوئ فکر اوکړی"

**وَمَا أَنْزَلْنَا عَلَيْكَ الْكِتَابَ إِلَّا لِتُبَيِّنَ لَهُمُ الَّذِي اخْتَلَفُوا فِيهِ وَهُدًى وَرَحْمَةً لِقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ نحل:٦٤**

" او راليږلې م دې تاته کتاب چې بيان کړې دوئ ته هغه شې چې دوئ اختلاف کوی په هغې کښې او خودنه ده او مهربانی ده هغه قوم ته چې ايمان راوړی"

**قُلْ نَزَّلَهُ رُوحُ الْقُدُسِ مِنْ رَبِّكَ بِالْحَقِّ لِيُثَبِّتَ الَّذِينَ آمَنُوا وَهُدًى وَبُشْرَى لِلْمُسْلِمِينَ نحل:۱۰۲**

"اووايه راوړې دۀ لره روح پاک د رب ستانه په رشتيا سره چې تسلی ورکړی مومنانو ته او خودنه ده او مبارکی ده مسلمانانو لره"

**كِتَابٌ أَنْزَلْنَاهُ إِلَيْكَ مُبَارَكٌ لِيَدَّبَّرُوا آيَاتِهِ وَلِيَتَذَكَّرَ أُولُو الْأَلْبَابِ ص:۲۹**

"دا لوئ کتاب دې راليږې دې ما تاته برکتی دې چې سوچ اوکړی دوئ په

آیتونو ددهٔ کښې او چې نصیحت قبول کړی عاقلان“

قران کریم صرف د تلاوت او ثوابونو دپاره دنیا ته ندې راغلې دا مقصد د نزول قران ځان ته مخې ته کول غواړي .

## ﴿٤﴾ اداب د زده کولو د قران کریم

چې دومره لوئ کتاب د لوئ مقصد دپاره الله تعالی رالیږلې دې نو ددې د زده کولو به اداب وی او احترامات وی ځکه څومره چې څوک اوچت وی نو دومره د هغهٔ عزت او احترام اوچت وی نو د قران کریم هم عزت او احترام پکار دې چې فائده ترینه کامله حاصله شی اداب ډیر زیات دی دلته نمونی دپاره یو څو لیکلې شی .

(۱) **د نیت سمول**: قران کریم صحیح نیت خائی

وَمَا كَانَ الْمُؤْمِنُونَ لِيَنْفِرُوا كَافَّةً فَلَوْلَا نَفَرَ مِنْ كُلِّ فِرْقَةٍ مِنْهُمْ طَائِفَةٌ لِيَتَفَقَّهُوا فِي الدِّينِ وَلِيُنْذِرُوا قَوْمَهُمْ إِذَا رَجَعُوا إِلَيْهِمْ لَعَلَّهُمْ يَحْذَرُونَ توبة: ۱۲۲

”نده پکار چې مومنان ځی ټول (د علم دپاره) پس ولې نهٔ ځی د هرې ډلې د دوئ نه یو ټولې چې پوهه شی په دین کښې او چې اوویروی قوم خپل چې کله واپس شی دوئ ته امید دې چې دوئ اوویریږی“

یعنی کمال فی الدین او یرول د قوم خپل دا دواړه دپاره د رضا د الله تعالی چې د الله رضا حاصله شي .

(۲) **الطهارت**: لَا يَمَسُّهُ إِلَّا الْمُطَهَّرُونَ الواقعه :۷۹

”لاس به لګوی په دهٔ باندې صرف پاکان خلق“

(۳) **الاستماع والانصات**: وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَأَنْصِتُوا لَعَلَّكُمْ

تُرْحَمُونَ اعراف : ٢٠٤

" او كله چې لوستې شى قران نو غوږ كيدئ هغهٔ ته او چپ شئ چه په تاسو رحمت اوشى"

(٤) **تفكّر او تدبر**: كِتَابٌ أَنْزَلْنَاهُ إِلَيْكَ مُبَارَكٌ لِيَدَّبَّرُوا آيَاتِهِ وَلِيَتَذَكَّرَ أُولُو الْأَلْبَابِ ص :٢٩

"دا لوئ كتاب دې رالیږلې دې ما تاته بركتې دې چې سوچ اوكړى دوئ په آيتونو ددهٔ كښې او چې وعظ قبول كړى عاقلان"

(٥) **حضور د زړه مكمله توجه** : إِنَّ فِي ذَلِكَ لَذِكْرَى لِمَنْ كَانَ لَهُ قَلْبٌ أَوْ أَلْقَى السَّمْعَ وَهُوَ شَهِيدٌ ق: ٣٧

" بیشكه په دې كښې نصيحت دې هغه چالره چې وى هغهٔ لره زړهٔ او يا كيږدى غوږ او ددهٔ حضور برابر وى"

(٦) **د موانع د فهم القران نه ځان ساتل** : سَأَصْرِفُ عَنْ آيَاتِيَ الَّذِينَ يَتَكَبَّرُونَ فِي الْأَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ وَإِنْ يَرَوْا كُلَّ آيَةٍ لَا يُؤْمِنُوا بِهَا وَإِنْ يَرَوْا سَبِيلَ الرُّشْدِ لَا يَتَّخِذُوهُ سَبِيلًا وَإِنْ يَرَوْا سَبِيلَ الْغَيِّ يَتَّخِذُوهُ سَبِيلًا ذَلِكَ بِأَنَّهُمْ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا وَكَانُوا عَنْهَا غَافِلِينَ اعراف : ١٤٦

" واپس به كړم د آيتونو خپلو نه هغه خلق چې تكبر كوى په زمكه كښې ناحقه او كه اووينى هر قسم نشانه ايمان نهٔ راوړى په هغې او كه اووينى لار د هدايت نو نهٔ ګڼړى ئې لار (دكاميابۍ) او كه اووينى لار د غلطۍ نو ګڼړى هغه خپله لار دا خبره ځكه ده چې دوئ دروغژن ګڼړى ايتونه ځما او د هغو نه دى بې خبر"

## ﴿٥﴾ فضيلت د قران كريم

چې دا دومره لوئ كتاب چې لوئ مقصد له راغلې وو او په ادب او

احترام اووئيلې شی نومونږ له به الله تعالی څه راکوي دا فضائل او ثمرات مستقل مضمون دې پدې کتابونه ليکلې شوی دی يو څو آيتونه

(١) قران کريم ددين او دنيا د کاميابئ ذريعه ده دنيا کښې الفت رور ولی راولی او آخرت کښې د جهنم نه بچ کول کوي داسې زبردست انقلاب راولی دشمنئ په دوستئ بدلې کړي او دوزخی په جنتی بدل کړی.

وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللَّهِ جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُوا وَاذْكُرُوا نِعْمَتَ اللَّهِ عَلَيْكُمْ إِذْ كُنْتُمْ أَعْدَاءً فَأَلَّفَ بَيْنَ قُلُوبِكُمْ فَأَصْبَحْتُمْ بِنِعْمَتِهِ إِخْوَانًا وَكُنْتُمْ عَلَى شَفَا حُفْرَةٍ مِنَ النَّارِ فَأَنْقَذَكُمْ مِنْهَا كَذَلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمْ آيَاتِهِ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ ال عمران : ١٠٣

''مضبوطه اونيسئ رسئ د الله پاک ټول او مهٔ جدا کيږئ او ياد کړئ نعمت د خدائ چې په تاسو دې کله چې وئ تاسو دشمنان نو محبت ئې راوستو په زړونو ستاسو کښې نو شوئ تاسو په نعمت د خدائې رونړه او وئ تاسو په غاړه د کندې د اور نو بچ ئې کړئ تاسو د اور نه دغسې بيانوی الله پاک تاسو ته آيتونه خپل اميد دې چې تاسو لار بيا مومئ''

(٢) قران د خيرونو او برکتونو ذريعه ده

وَلَوْ أَنَّهُمْ أَقَامُوا التَّوْرَاةَ وَالْإِنْجِيلَ وَمَا أُنْزِلَ إِلَيْهِمْ مِنْ رَبِّهِمْ لَأَكَلُوا مِنْ فَوْقِهِمْ وَمِنْ تَحْتِ أَرْجُلِهِمْ مِنْهُمْ أُمَّةٌ مُقْتَصِدَةٌ وَكَثِيرٌ مِنْهُمْ سَاءَ مَا يَعْمَلُونَ المائده : ٦٦

''او که دوئ عمل کړې وې په تورات او په انجيل او په هغه چې نازل شوې دې دوئ ته د رب د دوئ نه نو دوئ به خوړلې وې د پاسه د دوئ نه او د لاندې د

خپو د دوئ نه ځني په دوئ کښې يو جماعت دې برابر او زيات د دوئ نه ناکاره کار کوى“

(۳) قران کريم خزانه ده او خيرکثير دې

يُؤْتِي الْحِكْمَةَ مَنْ يَشَاءُ وَمَنْ يُؤْتَ الْحِكْمَةَ فَقَدْ أُوتِيَ خَيْرًا كَثِيرًا وَمَا يَذَّكَّرُ إِلَّا أُولُو الْأَلْبَابِ البقرة : ۲۶۹

”ورکوى پوهه هغه چاته چې رضا ئې شى او هغه چاته چې ورکړې شوه پوهه نو يقينا ورکړې شو هغۀ ته خير ډير او نۀ کوى سوچ مګر عاقلان“

(٤) قران کريم سبب د فرح حقيقى يعنى د حقيقى خوشحالئ ذريعه ده .

قُلْ بِفَضْلِ اللَّهِ وَبِرَحْمَتِهِ فَبِذَلِكَ فَلْيَفْرَحُوا هُوَ خَيْرٌ مِمَّا يَجْمَعُونَ يونس : ۵۸

” اووايه په فضل د الله او د رحمت د هغۀ سره خوشحاله شى دې غوره دې د هغه شى نه چې دوئ جمع کوى“

(۵) قران د الله تعالى لاره ده الله تعالى پرې ملاويږى وئ ړوند د خدائ نه څه غواړى دوه سترګى بينا .

وَهَذَا صِرَاطُ رَبِّكَ مُسْتَقِيمًا قَدْ فَصَّلْنَا الْآيَاتِ لِقَوْمٍ يَذَّكَّرُونَ الانعام : ۱۲۶

”دا لار د رب ستا ده برابر يقينا بيان کړى مِ دى دلائل د هغه قوم دپاره چې سوچ اوکړى“

## دويمه خبره موضوع د قران کريم

د يوې خبرې وضاحت اوشو او دويمه خبره چې قران کريم څه وائى

؟ يعنې موضوع د قران كريم څه ده ؟ يعنې د هرڅا د بيان يو مقصد او موضوع وي چې د هغې نه بحث كوي نو د قران كريم مقصود بالبحث څه دي .اصل كښې د قران موضوع هغه د انسان سعادت خودل دى چې انسان به كمال او سعادت په څه حاصلوى او د شقاوت نه به په څه بچ كيږى نو د هغې معيار توحيد دې نو استاذان وائي چې موضوع د قران كريم توحيد دې ورسره د توحيد خادمان نو ټول اتهٔ مضامين قران كريم بيانوي .

أَلَّا تَعْبُدُوا إِلَّا اللَّهَ إِنَّنِي لَكُمْ مِنْهُ نَذِيرٌ وَبَشِيرٌ (٢) وَأَنِ اسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ ثُمَّ تُوبُوا إِلَيْهِ يُمَتِّعْكُمْ مَتَاعًا حَسَنًا إِلَى أَجَلٍ مُسَمًّى وَيُؤْتِ كُلَّ ذِي فَضْلٍ فَضْلَهُ وَإِنْ تَوَلَّوْا فَإِنِّي أَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ كَبِيرٍ هود : ٢ ، ٣

" چې عبادت مهٔ كوئ سوا د الله نه د بل هيڅا يقينا ځهٔ تاسو لره د هغهٔ نه ويرونكې او زيرې وركونكې يم او چې بخنه اوغواړئ د رب خپل نه بيا واپس شئ هغهٔ ته دربه كړى تاسو ته نفع ښه تر نيټې مقررې پورې او وربه كړى هر كامل ته بدله د عمل ددهٔ او كه تاسو مخ واړو نو يقينا زهٔ ويريږم په تاسو د عذاب د ورځې لوئ نه"

فَإِلَّمْ يَسْتَجِيبُوا لَكُمْ فَاعْلَمُوا أَنَّمَا أُنْزِلَ بِعِلْمِ اللَّهِ وَأَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ فَهَلْ أَنْتُمْ مُسْلِمُونَ هود:١٤

"نو كه دوئ نشى قبلولې خبره ستاسو نو پوهه شئ چې يقينا نازل شويدې په وحى د الله سره او چې نشتې اله سيوا د هغهٔ نه نو ايا تاسو حكم نهٔ منئ"

هَذَا بَلَاغٌ لِلنَّاسِ وَلِيُنْذَرُوا بِهِ وَلِيَعْلَمُوا أَنَّمَا هُوَ إِلَهٌ وَاحِدٌ وَلِيَذَّكَّرَ أُولُو الْأَلْبَابِ ابراهيم : ٥٣

دا رَسَول دى خلقو ته او چې اويرولې شى دوئ په دې سره او چې پوهه شى دوئ چې يقينا هغه اله يو دې او چې سوچ اوکړى عاقلان“

اتَّبِعْ مَا أُوحِيَ إِلَيْكَ مِنْ رَبِّكَ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ وَأَعْرِضْ عَنِ الْمُشْرِكِينَ انعام : ۱۰۶

”منه هغه کتاب چې وحى شوى ده تاته د رب ستا نه نيشتې لائق د عبادت مګر هغه دې او مخ واړوه د مشرکانو نه“

ددې آيتونو نه معلومه شوه چې قران کريم د توحيد دپاره نازل شوې دې .

بل نقول قولا كليًا ان كلّ آية فى القرآن فهى متضمنة للتوحيد شاهدة به وداعية اليه (مدارج الساكين)

” مونږه يو کلى او غونډه خبره کوو چې د قران کريم هر يو ايت په توحيد کښې دې د هغې دليل دې او دعوت ورکونکې دې ديته “

ان القران ما انزل الا لتقرير التوحيد (مرقات لملا على قارى )

”قران کريم ندې نازل شوې مګر دپاره د بيان د توحيد “

## مقاصد ثمانيه

څما محترم استاذ شيخ التفسير علامه محمد حسين نيلوى صاحبؒ به فرمائيل چې د قران کريم موضوع ده ”التوحيد وما يتبعه“ يعنى توحيد او د توحيد خادمان . توحيد د الله تعالى صحيح معرفت او پيژندګلو بغير د تعليم د الله تعالى نه نشى کيدې او دا بغير د معلم نه نشى کيدې او دا دنيا به ختميږى او دا درې واړه په يقين د آخرت منل نو دا شلور مقاصد عاليه شو . توحيد ، رسالت ، صداقت

الكتاب ، ايمان بالآخرة بيا ددې څلورو خدمت پکار دې نو څلور اصول ممدّه دي جهاد ، انفاق ، تنظيم ، آداب . لږ لږ مختصر تعريفونه او پيژندګلو ددې اصطلاحاتو چې د آيتونو پوهه او ربط آسان شي .

## التوحيد

توحيد په لغت کښې وئيلې کيږى " يکے دانستن " ته . يعنى يو منل ، دا نه چې صرف په خلهٔ يو وئيل بلکه " يو منل " .

د شريعت په اصطلاح کښې " فالتوحيد اعتقاد عدم الشريك فى الالوهية وخواصّها " (شرح مقاصد)

" دا عقيده لرل چې په الوهيت او د هغې په صفاتو کښې د الله تعالى شريک او حصه دار نشته دي "

" التوحيد اثبات صفات الكمال لله تعالى ، وتنزيهه من اضدادها وعبادته وحده لاشريك له

" کمالى صفتونه د کار سازيت صفتونه صرف الله تعالى له منل او د کمال چې کوم ضد وى يعنى د هرقسمه نقصان نه الله تعالى پاک کنړل او صرف د الله تعالى عبادت کول بغير د شريک او حصه دار نه" (ابن قيم)

مطلب دا چې الله په خپلو صفتونو کښې يکتا او يواځې ګنړل د الله تعالى هيڅ صفت بل چا لره نهٔ ورکول .

## د توحيد قسمونه

عالمانو هر چا د خپل دور مناسب د توحيد بيان کړې دې او قسمونه ئې بيان کړي دي . شاه ولى الله صاحب درجات د توحيد ځان له بيانوي په اوردو کتابونو کښې د هغې تفصيل کيږي دلته صرف د

شيوخو په طرز د توحيد قسمونه بيانوو چې په آيتونو پوهه آسانه شي . نو مونږ د توحيد څلور غټ قسمونه وايو .

(۱) **توحيد فى الذات**: يعنى الله تعالى په خپل ذات کښې تنها او يواځې ګڼړل چې د الله غونته بل الله نشته دې لکه چې مجوسيانو به وئيل او نه درې لکه چې عيسايانو به وئيل الله تعالى په خپل ذات کښې يو دې .

قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ (۱) الاخلاص :۱

" ورته اوويه چې هغه الله خو يک يو دې "

وَقَالَ اللَّهُ لَا تَتَّخِذُوا إِلَهَيْنِ اثْنَيْنِ إِنَّمَا هُوَ إِلَهٌ وَاحِدٌ فَإِيَّايَ فَارْهَبُونِ . النحل:۵۱

" او وائى الله تعالى چې مهٔ جوړوئ خدايان دوه . يقينى او بخه خبره ده چې هغه الله خو د عبادت لائق يک يو دې . نو صرف څما نه اويريږئ "

(۲) **توحيد فى الصفات** : چې الله تعالى په خپلو صفاتو کښې تن تنها او يواځې دې يعنى د الله تعالى صفتونه او کمالات صرف هغهٔ له ګڼړل لکه د علم غيب صفت دې چې الله تعالى په پټو پوهيږى بغير د ظاهرى اسبابو نو په مخلوق کښې هيڅوک که فرشته وى که نبى وى که ولى وى که پيرې وى نو هغه په پټو نهٔ پوهيږى . دارنګې مشکل کشا صرف الله دې تکليفونه او سختئ بغير د ظاهرى اسبابو لرې کونکې بغير د الله تعالى نه بل څوک نشته دې داسې نور د کمال او د خدائى توب صفتونه قران کريم ذکر کړى دى دا صرف الله تعالى له منل .

الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ . الفاتحه :۱

" د کمال او د خدائتوب صفتونه صرف د الله تعالی دي "

وَإِلَهُكُمْ إِلَهٌ وَاحِدٌ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ الرَّحْمَنُ الرَّحِيمُ . البقرة : ۱۶۳

" لائق د بندګۍ ستاسو لائق د بندګۍ دې یک یو نشته دې د خدائ توب د صفتونو والا بغیر د هغهٔ نه د عامو او خاصو مهربانو والا "

(۳) **توحید فی الافعال**: یعنی د الله تعالی د کارونو پشان ثوک کارونه نشی کولې الله تعالی چې ثنګ پیدائش کوی نو داسې ثوک کولې نشی ، الله تعالی چې ثنګه روزی رسان دې داسې ثوک کولې نشی . دا قسم د مخکښې دوؤ دپاره دلیل دې چې داسې کارونه ثوک نشی کولې نو ثنګه چې د هغهٔ د ذات پشان ذات نشته دې او د هغهٔ د صفت پشان صفت نشتې .

أَمْ جَعَلُوا لِلَّهِ شُرَكَاءَ خَلَقُوا كَخَلْقِهِ فَتَشَابَهَ الْخَلْقُ عَلَيْهِمْ قُلِ اللَّهُ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ وَهُوَ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ . الرعد: ۱۶

" آیا ګرځوي دوئ حصه دار چې هغوئ پیدائش کړې وی پشان د پیدائش د الله تعالی نو ګډوډ شوې دې مخلوق پشان د دوئ . ورته اووایه چې الله تعالی پیدا کونکې د هریو ثیز دې او هغه یک یواځې او زورآور دې "

(٤) **توحید فی الحقوق یا توحید فی العبادة**: چې هر کله الله تعالی په ذات او په صفاتو کښې تن تنها شو او د هغهٔ پشان کارونه ثوک کولې نشی نو د هر قسمه خدائی تعظیم ( رکوع ، سجده ، تعظیمی قیام ، طواف ، ذبح ، قربانی ، اطاعت مطلقه وغیره صرف د هغه حق دې نه کښې د بل چا ، ګویا دا مخکښې دریواړه قسمونه دلیل او دا ئې دعوی شوه . د لااله الا الله هم دغه معنی ده چې لائق د بندګۍ

صرف الله تعالی دې نه بل څوک دا قران کریم بیانوی او نزاع او جهګړه د خلقو په دې کښې وه
وَاعْبُدُوا اللَّهَ وَلَا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا . نساء : ۳۶
"بندګی او خدائی تعظیم صرف د الله تعالی اوکړئ"
توحید د قران کریم اصل مسئله ده د قران کریم نزول هم ددې دپاره شوې وو او د ټولو انبیاء او آسمانی کتابونو هم دا دعوت وو د کائنات پیدائش او د پیریانو او انسانانو پیدائش هم ددې دپاره شوې وو . دیته " اصل دعوی " د قران کریم وائی . قران کریم دا په مختلفو اندازونو او طرزونو پیش کوی د الله تعالی صفتونه او قدرتونه هر څه ددې دپاره بیانوی . پدې مسئله ځان پوهه کول د هر انسان فریضه ده
فَاعْلَمْ أَنَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ . محمد : ۱۹
" نو پوهه شه چې یقینی خبره ده چې نشته لائق د بندګئ او دخدائې توب صفت والا بغیر د الله تعالی نه "
د ژوند مقصد هم دا مسئله ده نو ځان پوهه کول پرې ضروري دي .
من علم انه لااله الا الله دخل الجنة (الحديث)
" چې په دې کلمه ځان پوهه کړی چې اله بغیر د هغهٔ نه نشته دې نو دغه کس به جنت ته داخل شی"
غرض پدې انداز ځان پوهه کول یعنی چې کوم دغه څلور قسمه د توحید ذکر شو دا اصل کښې د کلمې معنی وه په مختصر انداز سره . نو دا زده کول او د زړه نه ئې منل توحید دې چې پدې پوهه نهٔ وي او د زړهٔ نه دغه خبرې نهٔ مني نو اصل کښې دې په کلمه ندې پوهه

او ددهٔ کلمه صرف د خُلې خبره ده او دا کافی د ایمان او دنجات نده نو قران دا خبره ډیره تفصیلی بیانوی ددې د وضاحت دپاره ددې په غدّارو رد کوي په توحید کښې غدّاری شرک دې . نو قران کریم ځکه د شرک رد کوی لږ د شرک وضاحت کوو چې ځان ترې بچ کړې شی .

## شرک

شرک د عربۍ په ژبه کښې حصه دارۍ او برخه دارۍ ته وائی لکه زمونږ فلانکې په کاروبار کښې شریک دې یعنی حصه لري لکه " ان معاذا اباح الشرك فی الیمن " معاذ ﷺ په یمن کښې د برخې کاروبار جائز کړلو " دلته لغوی معنی مراد ده قران کریم کښې هم په لغوی معنی باندې استعمال شوې دې .

فَإِنْ كَانُوا أَكْثَرَ مِنْ ذَلِكَ فَهُمْ شُرَكَاءُ فِي الثُّلُثِ نساء:۱۲

" کچرته دوئ زیات وی ددې نه نو دوئ حصه دار دی په دریمه کښې "

**شرک په اصطلاح کښې** : " اثبات الشريك لله تعالى فی ذاته وصفاته "

شاولی الله ؒ صاحب داسې تعریف کوي .

"والشرك ان يثبت لغيرالله سبحانه وتعالى شيئا من صفاته المختصة به " (الفوزالکبیر)

"شرک دادې چې د الله تعالی دکمالی او خاصو صفتونو نه یو صفت د الله تعالی نه علاوه د بل چا دپاره ثابت کړې شي "

مطلب دا چې د الله تعالی د ذات پشان بل ذات اومنلې شی یا د الله تعالی یو صفت خاصه مخلوق له ورکړې شي او د یو خدائی تعظیم یعنی د عبادت مستحق بل څوک اوګنړلې شي . یعنی مخکښې چې کوم د توحید قسمونه بیان شو د هغې نه څۀ حصه بل چاله اومنلې شي . یعنی په مخلوق کښې هیڅوک نه پیر نه فقیر نه فرشته او نه پیغمبر هیڅوک د الله تعالی سره حصه دار نشته دې . شرک د الله تعالی سره غداری او خیانت دې ددې بخښنه نشته چې څوک دا ګناه د ځان سره یوسی او توبه ئې نۀ وی یستلی نو آخرت کښې د هغۀ معافی نشته دې . د شرک ډیر قسمونه دي هر یو عالم د خپل دور مطابق په خپل سوچ بیانوي مونږ دلته غټ څو قسمونه بیانوو .

اول شرک دوه قسمه دې شرک اعتقادي دویم شرک فعلی .

**شرک اعتقادی**: دیته وائی چې د الله تعالی یو صفت هغه په مخلوق کښې اوګنړلې شی لکه علم غیب ، اختیار او تصرف غیر له ورکړې شی چې څنګه د الله تعالی وی نو دغه شان بغیر د الله تعالی نه بل چاله اوګنړلې شی یعنی الله تعالی بغیر د اسبابو هره خبره په هر وخت کښې د هر ځائ نه اوری نو دغه شان مخلوق اوګنړلې شی نو دیته شرک اعتقادی وائی .

**شرک عملی او فعلی**: دیته وائی چې د الله تعالی یو مختص تعظیم ظاهرا غیر له اوکړې شي لکه سجده چې ظاهرًا غیر ته سر ښکته کړې شی خو عقیده دا نۀ وي چې دې مستحق د سجدی دې چې

عالم الغيب او متصرف دي ددې نه بغير سجده اوکړى نو شرک عملى دې .

## د شرک اعتقادی قسمونه

شرک اعتقادی غټ څلور قسمه دې ــ(۱) شرک فی العلم ــ(۲) شرک فی التصرف ــ(۳) شرک فی العبادت ــ(٤) شرک فی الدعاء. يو پنځم قسم شرک فی الحکم د دور مطابق زياتوو.

### شرک فی العلم

د الله تعالی صفت دې په پټو باندې بغير د اسبابو پوهيدل يعنی د دنيا او آخرت چې څه غيب او پټ دي په هغې الله تعالی پوهه دې بغير د څه ظاهری اسبابونه . د مشرکانو دا عقيده وه چې نيکانو بنديګانو محنتونه او خوارئ کړي دي نو الله تعالی دوئ له د خپل غيب نه څه حصه ورکړي ده نو ځنو داسې اووئيل په ټولو غيبو پوهيږی لکه د ځنې خلقو عقيده د نبی ﷺ باره کښې دا ده او ځنو داسې اووئيل چې د خپلې علاقې د غيبو پوهه ورله ورکړی لکه وائی فرض کړه پيربابا له د بونير يا د ملاکنډ د علاقې د غيبو پوهه ورکړې ده چې په دې سره تۀ د خپل متعلقينو حال احوال معلوموه نو هغه اوس بغير د اسبابو غيب معلوملې شی يا د بل چا باره کښې داسې عقيده اولری د ژوندی يا د مړی باره کښې نو داده حصه داری په صفت د علم کښې ديته شرک فی العلم وائی قران کريم صفت دعلم غيب الله تعالی له ثابتوی او د مخلوق نه نفی کوی کله

په طريقې د خصوص لکه د نبي ﷺ يا د بل نبي نه او کله د فرشتو او جناتو نه د توحيد فی العلم مقابله کښې شرک فی العلم دې دي کښې شرک فی السمع والبصر هم راځی ځکه هر څه وينی او هره خبره د هر ځائ نه اوري چې داسې بې اسبابو اوريدل او ليدل بل چاله ثابت کړی نو دا هم د علم يو قسم دې .

**وَعِنْدَهُ مَفَاتِحُ الْغَيْبِ لَا يَعْلَمُهَا إِلَّا هُوَ وَيَعْلَمُ مَا فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ وَمَا تَسْقُطُ مِنْ وَرَقَةٍ إِلَّا يَعْلَمُهَا وَلَا حَبَّةٍ فِي ظُلُمَاتِ الْأَرْضِ وَلَا رَطْبٍ وَلَا يَابِسٍ إِلَّا فِي كِتَابٍ مُبِينٍ. انعام : ۵۹**

''او هغهٔ سره کنجيانې د غيبو دی نهٔ پوهيږی په هغې څوک سوا د هغهٔ نه او پوهيږی په هغې چې په اوچه او په درياب کښې دی او نهٔ راغورزيږی هيڅ پاڼړه مګر هغه ئې پيژنی او نهٔ دانه په تيارو د زمکې کښې او نه لوند او نه اوچ مګر ټول په کتاب واضح کښې دی''

**وَهُوَ اللَّهُ فِي السَّمَاوَاتِ وَفِي الْأَرْضِ يَعْلَمُ سِرَّكُمْ وَجَهْرَكُمْ وَيَعْلَمُ مَا تَكْسِبُونَ . انعام : ۳**

''او صرف هغه الله متصرف دې په آسمانونو کښې او په زمکه کښې پوهيږی په پټه ستاسو او په ښکاره ستاسو او پوهيږی په هغې چې کوئ ئې تاسو''

**قُلْ لَا يَعْلَمُ مَنْ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ الْغَيْبَ إِلَّا اللَّهُ وَمَا يَشْعُرُونَ أَيَّانَ يُبْعَثُونَ . نمل : ۶۵**

''اووايه چې نهٔ پوهيږی هغه څوک چې په آسمانونو کښې او په زمکه کښې دی په غيبو مګر پوهيږی الله او نه دی خبر هغوئ چې کله به راپورته کړې شی''

## شرك في التصرف

د تصرف معنی ده کار کول اختيار لرل اړول راړول د الله تعالی صفت دې تصرف او اختيار بې د ظاهری اسبابونه يعنی الله تعالی پدې کائناتو کښې تصرف لری او کارونه کوی بغير د اسبابو نه بيمارول ، خه کول ، بارانونه ورول ، اولادونه ورکول ، سرخوږې خۀ کول ، عزت او ذلت ورکول دا ټول تصرفات او اختيارات د الله تعالی دي مړۀ کول ژوندی کول وغيره بغير د اسبابو دا اختيار صرف د الله تعالی دې دا دې توحيد فی التصرف ، د مشرکانو دا عقيده وه چې بزرګانو خوارۍ کړي دي نو هغوئ لره الله تعالی د خپلې علاقې دځنو کارونو اختيار ورکړې دې چې په هغې کښې اوس هغوئ خود مختاره دی په هغې د الله تعالی نه د اجازت ضرورت نه وی بې د څه ظاهری اسبابو د خپلو متعلقينو کارونه سرته رسوی لکه داتا ګنج بخش ته ځنې کارونه حواله کړی دي يا پيربابا ته ئې د اولاد زمه واری ورکړې ده نو اوس بغير د ظاهری اسبابو څوک چې ترې څه حاجت اوغواړی نو په هغې پوهيږی او هغه حاجت سرته رسولې شی نو دا دې شرک فی التصرف قران کريم کښې الله تعالی تصرفات ځان له ثابتوی او د غير نه ئې نفی کوی نو کله نفی په طريقې د عموم اوکړی نو نور مخلوق عاجزان دي او کله په طريقې د خصوص د انبياء کرامو نه او ملائکو ، اولياء کرامو او جناتو نه .. قران چې دا صفت الله ثابتوی نو په لفظ د مالك ، له ، لله ، وغيره سره ثابتوی .

**قُلْ مَنْ بِيَدِهِ مَلَكُوتُ كُلِّ شَيْءٍ وَهُوَ يُجِيرُ وَلَا يُجَارُ عَلَيْهِ إِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ . مومنون: ۸۸**

"اووایه چې څوک دي چې په قدرت د هغهٔ کښې بادشاهي د هرشی ده؟ او هغه امن ورکوی او ددهٔ نه څوک چاله نشی بچ کولې که پوهیږۀ تاسو"

**قُلِ اللَّهُمَّ مَالِكَ الْمُلْكِ تُؤْتِي الْمُلْكَ مَنْ تَشَاءُ وَتَنْزِعُ الْمُلْكَ مِمَّنْ تَشَاءُ وَتُعِزُّ مَنْ تَشَاءُ وَتُذِلُّ مَنْ تَشَاءُ بِيَدِكَ الْخَيْرُ إِنَّكَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ . ال عمران : ۲۶**

"اووایه اې خدایه مالکه د بادشاهۍ ورکوې تۀ بادشاهی هغه چاته چې رضا دِ شی او اخلې تۀ بادشاهی د هغه چا نه چې رضا دِ شی او عزت ورکوې تۀ چاته چې رضا دِ شی او ذلیل کوې هغه چې رضا دِ شی په لاس ستا کښې خیر دې یقینا تۀ په هر شی باندې قادر ئې"

**دا صرف د نمونې په طور ، د غیر نه نفی کوی لکه**

**قُلْ لَا أَمْلِكُ لِنَفْسِي نَفْعًا وَلَا ضَرًّا إِلَّا مَا شَاءَ اللَّهُ وَلَوْ كُنْتُ أَعْلَمُ الْغَيْبَ لَاسْتَكْثَرْتُ مِنَ الْخَيْرِ وَمَا مَسَّنِيَ السُّوءُ إِنْ أَنَا إِلَّا نَذِيرٌ وَبَشِيرٌ لِقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ . اعراف : ۱۸۸**

"اووایه زۀ مالک نۀ یم د ځان دپاره د نفعې او نۀ د ضرر مګر که رضا شی د الله او که څۀ وې چې پوهیدې په غیبو باندې نو ما به حاصل کړې وې خیر لره او نۀ به وو رسیدلې ما ته تکلیف او نۀ یم زۀ مګر ویرونکې او زیرې ورکونکې یم هغه قوم ته چې ایمان راوړی"

**وَإِنْ يَمْسَسْكَ اللَّهُ بِضُرٍّ فَلَا كَاشِفَ لَهُ إِلَّا هُوَ وَإِنْ يَمْسَسْكَ بِخَيْرٍ فَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ . انعام :۱۷**

"او که اورَسوی تاته الله تکلیف نو نیشتې لرې کوونکې د هغې بې د الله نه او که اورَسوی تاته خیر نو هغۀ په هر شی باندې قدرت والا دې"

يُولِجُ اللَّيْلَ فِي النَّهَارِ وَيُولِجُ النَّهَارَ فِي اللَّيْلِ وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ كُلٌّ يَجْرِي لِأَجَلٍ مُسَمًّى ذَلِكُمُ اللَّهُ رَبُّكُمْ لَهُ الْمُلْكُ وَالَّذِينَ تَدْعُونَ مِنْ دُونِهِ مَا يَمْلِكُونَ مِنْ قِطْمِيرٍ. فاطر : ۱۳

"داخلوی شپه په ورځ کښې او دا خلوی ورځ په شپه کښې او پکار ئې لګولی دی نمر او سپوږمۍ ټول روان دی تر نیټې مقررې پورې دا الله دې چې ستاسو رب دې صرف هغهٔ لره بادشاهی ده او چاله چې تاسو بَلئ بې د الله نه مالکان ندی د پوستکی د کجوری د هډوکی"

## شرک فی العبادة

چې دغه دوه عقیدې دعلم او د تصرف د چا باره کښې راشی چې ځما په حالاتو او حاجاتو پوهه دې او ځما په نفع او نقصان بغیر د اسبابو نه قادر دې نو چې اوس هغه له کوم تعظیم کیږی نو هغې ته عبادت وائی چونکه په کائنات کښې بغیر د الله تعالى نه داسې څوک نشته چې د علم الغيب او د تصرف د صفت خاوند وی نو عبادت صرف حق د هغهٔ دې دیته توحید فی العبادت وائی د مشرکانو چې کله د غیر باره کښې دا عقیده راغله چې ځمونږ په حالاتو پوهیږی فرشتې یا انبیاء یا اولیاء یا مړهٔ یا ژوندی او ځمونږه په حاجاتو پوره کولو قادر دې او ځمونږه په نفع او نقصان قادر دي نو مشرکانو د هغه بزرګانو او نیکانو دپاره تعظیمونه شروع کړل رکوع او سجدی د هغوئ د قبرونو طوافونه او د هغوئ د شکلونو او تصویرانو تعظیم کول نو دا وو شرک فی العبادت قران کریم پدې ډیر

رد کوي دا ثابتوي چې عبادت صرف حق د یو الله تعالی دې او د غیر نه ئې نفی کوي

وَاعْبُدُوا اللَّهَ وَلَا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا وَبِذِي الْقُرْبَى وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينِ نساء:۳٦

" او عبادت کوئ صرف د الله او مهٔ جوړوئ د الله سره حصه دار څه شې او د مور او پلار سره ښهٔ کوئ او دخپلوانو سره او د یتیمانو سره او د غریبانو سره "

يَا أَيُّهَا النَّاسُ اعْبُدُوا رَبَّكُمُ الَّذِي خَلَقَكُمْ وَالَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ البقرة:۲۱

"اې بنی آدمو! محتاجی کوئ صرف د رب خپل چې هغهٔ پیدا کړیدی تاسو لره او هغه کسانو لره چې په خوا وو ستاسو نه نو تاسو به ځان اوساتئ (د اورنه)"

قُلْ يَا أَهْلَ الْكِتَابِ تَعَالَوْا إِلَى كَلِمَةٍ سَوَاءٍ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ أَلَّا نَعْبُدَ إِلَّا اللَّهَ وَلَا نُشْرِكَ بِهِ شَيْئًا وَلَا يَتَّخِذَ بَعْضُنَا بَعْضًا أَرْبَابًا مِنْ دُونِ اللَّهِ فَإِنْ تَوَلَّوْا فَقُولُوا اشْهَدُوا بِأَنَّا مُسْلِمُونَ ال عمران:٦٤

"اووایه چې اې اهل کتابو راشئ یوې خبرې ته چې برابر ده په مینځ زمونږ او ستاسو کښې چې بندګی به نهٔ کوو مګر د الله او نهٔ به شریکوو ددهٔ سره چالره او نهٔ به جوړوو ځنې زمونږه ځنې نورو لره خدایان سیوا د الله تعالی نه نو که قبوله نه کړه دوئ نو اووایئ چې ګواه شئ چې مونږ مسلمانان یو"

## شرک فی الدعاء

د دعاء معنی ده بلنه او غوختل دا یو سره د اسبابو وی بل بغیر د اسبابو لکه یو سړی سره اوبهٔ دی تهٔ ترې اوغواړې دوائی ده ورسره او تهٔ ترې طلب کړی دا د اسبابو د لاندې چې اسباب جائز نو دا هم جائز چې اسباب غلط نو دا هم غلط دویم بغیر د اسبابو چې د چا

باره کښې دا عقیده راشي چې څما په حالاتو پوهیږی او څما د حاجتونو نه خبردار دې نو څنې ضرورت پوره کولې شی نو بیا ورته په غائبانه حاجتونو کښې رامدد شه وائی . دا دعا هم د عبادت یو قسم وو خو دا مشرکانو ډیر کولو او د عبادت یو اهم قسم وو نو څکه قران دا جدا ذکر کوی او استاذان هم دا جدا قسم شمیری . چې په حاجاتو کښې صرف الله تعالی ته رامدد شه اووایئ او غیر نه خپل حاجتونه مۀ غواړئ .

وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ فاتحه:٥

''او صرف ستا نه مدد غواړو مونږ نه د بل چانه ''

وَلَا تَدْعُ مِنْ دُونِ اللَّهِ مَا لَا يَنْفَعُكَ وَلَا يَضُرُّكَ فَإِنْ فَعَلْتَ فَإِنَّكَ إِذًا مِنَ الظَّالِمِينَ يونس: ١٠٦

''او مۀ بله سیوا د الله نه هغه چې نفع نۀ شی رسولې تاته او نه ضرر رسولې شی تاته نو که اودې کړه دا کار نو یقینا به ته په دغه وخت کښې د ظالمانو نه ئې''

(١٣) إِنْ تَدْعُوهُمْ لَا يَسْمَعُوا دُعَاءَكُمْ وَلَوْ سَمِعُوا مَا اسْتَجَابُوا لَكُمْ وَيَوْمَ الْقِيَامَةِ يَكْفُرُونَ بِشِرْكِكُمْ وَلَا يُنَبِّئُكَ مِثْلُ خَبِيرٍ فاطر:١٤

''که بلئ تاسو هغوئ لره نو نۀ آوری اواز ستاسو او که بالفرض واوری نو خبره نشې منلې ستاسو او په ورځ د قیامت به انکار اوکړی د شرک ستاسو نه او خبر به نۀ کړی تالره څوک دخبردار پشان''

وَمَنْ أَضَلُّ مِمَّنْ يَدْعُو مِنْ دُونِ اللَّهِ مَنْ لَا يَسْتَجِيبُ لَهُ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ وَهُمْ عَنْ دُعَائِهِمْ غَافِلُونَ احقاف:٥

'' او څوک دې لوئ ګمراه د هغوئ نه چې بلی سیوا د الله نه هغو لره چې نشې قبلولې دعا ددۀ ترقیامته پورې او د دوئ د عبادت نه به انکار کوی''

## شرک فی الحکم

حکم مطلب فیصله کول او حکومت ، حکومت او فیصله دوه قسمه ده یو د کائناتو یعنی تکوینی فیصله او اختیارات مړهٔ کول ژوندی کول دا ټول تصرفات تکوینیه مخکښې تیر شو دا صرف د الله تعالی وو دویم تصرفات تشریعیه دی یعنی شرعی تصرفات چې حلالول او حرامول د حدود مقرر کول انتظامی امورو دپاره قوانین مقرر کول دا تشریعی تصرفات دا هم د الله تعالی صفت دې چې حلالونکې او حرامونکې او حدود ، امور انتظامیه د امن مقرر کونکې د الله تعالی نه علاوه بل څوک نشته دې دا دې توحید فی التشریع ، توحید فی الربوبیة ، توحید فی الحکم ، ځنې خلق دا صفت د الله تعالی بل چاله ورکوي پیر ، ملا ، بادشاه ، لیډر د حل او حرمت ذمه وار اوګڼړی چې فلانکی پیر صاحب دارنګ دا څیز په مونږ بند کړې دې ، مونږ د هغې خلاف نشو کولې یا بادشاه او د حکومت ارکانو دا څیز حرام کړې دې او دا ئې حلال کړې دې او ددې جرم ئې دا سزا وئیلی ده په مقابله د قانون او حکم د الله تعالی کښې دا دې شرک فی الحکم والقانون چې د ربوبیت او د تشریع صفت د الله تعالی بل چا له ورکوی قران کریم دا هم رد کوی او توحید فی الحکم ثابتوی .

قُلْ إِنِّي عَلَى بَيِّنَةٍ مِنْ رَبِّي وَكَذَّبْتُمْ بِهِ مَا عِنْدِي مَا تَسْتَعْجِلُونَ بِهِ إِنِ الْحُكْمُ إِلَّا لِلَّهِ يَقُصُّ الْحَقَّ وَهُوَ خَيْرُ الْفَاصِلِينَ انعام:۵۷

" اووايه چې څۀ په صاف دليل يم د رب خپل او تاسو ئې نۀ منئ نيشتې څما سره هغه شې چې زر ئې غواړئ ندې حکم مګر الله لره دې بيانوی حق لره او دې غوره دې د فيصلو کونکو نه"

مَا تَعْبُدُونَ مِنْ دُونِهِ إِلَّا أَسْمَاءً سَمَّيْتُمُوهَا أَنْتُمْ وَآبَاؤُكُمْ مَا أَنْزَلَ اللَّهُ بِهَا مِنْ سُلْطَانٍ إِنِ الْحُكْمُ إِلَّا لِلَّهِ أَمَرَ أَلَّا تَعْبُدُوا إِلَّا إِيَّاهُ ذَلِكَ الدِّينُ الْقَيِّمُ وَلَكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ يوسف:۴۰

"عبادت نۀ کوئ تاسو د الله نه سيوا مګر د نومونو چې ايخودی دی تاسو هغه او پلار نيکه ستاسو نۀ دې راليږلې الله په هغې څه دليل ندې حکم مګر الله لره دې حکم ئې کړې دې چې عبادت مۀ کوئ بې د الله نه د بل چا دا دې دين برابر ليکن زيات د خلقو نه نۀ پوهيږی"

شَرَعَ لَكُمْ مِنَ الدِّينِ مَا وَصَّى بِهِ نُوحًا وَالَّذِي أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ وَمَا وَصَّيْنَا بِهِ إِبْرَاهِيمَ وَمُوسَى وَعِيسَى أَنْ أَقِيمُوا الدِّينَ وَلَا تَتَفَرَّقُوا فِيهِ كَبُرَ عَلَى الْمُشْرِكِينَ مَا تَدْعُوهُمْ إِلَيْهِ اللَّهُ يَجْتَبِي إِلَيْهِ مَنْ يَشَاءُ وَيَهْدِي إِلَيْهِ مَنْ يُنِيبُ شوری:۱۳

" مقرر کړې دې هغۀ تاسو لره هغه دين چې وصيت ئې کړې دې په هغۀ سره نوحؑ ته او هغه چې ما راليږلې دې تاته او هغه چې ما وصيت کړې دې په هغۀ سره ابراهيمؑ ته موسیؑ ته عيسیؑ ته چې برابر کړئ دين لره او جدائی مۀ کوئ په دين کښې غميږی په مشرکانو باندې هغه مسئله چې تۀ بلې دوئ لره هغې ته الله راکاږی ځانته هغه څوک چې د هغۀ رضا شی او رسوی ځانته هغه څوک چې ضد نۀ کوی"

أَمْ لَهُمْ شُرَكَاءُ شَرَعُوا لَهُمْ مِنَ الدِّينِ مَا لَمْ يَأْذَنْ بِهِ اللَّهُ وَلَوْلَا كَلِمَةُ الْفَصْلِ لَقُضِيَ بَيْنَهُمْ وَإِنَّ الظَّالِمِينَ لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ شوری:۲۱

" آیا دوئ لره شریکان دی چې هغوئ جوړ کړې دي دوئ لره هغه دین چې اذن ندي کړې په هغۀ سره الله او که نۀ وې خبره د فیصلې نو فیصله به شوې وې د دوئ کښې او یقینا ظالمانو لره دردناک عذاب دې"

**ثُمَّ جَعَلْنَاكَ عَلَى شَرِيعَةٍ مِنَ الْأَمْرِ فَاتَّبِعْهَا وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَاءَ الَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ جاثية:۱۸**

" بیا ما مقرر کړې دې تاله په صافه لارې ددین باندې نو روان شه په هغې او مۀ منه خواهشات د هغو چې نۀ پوهیږی"

**قُلْ يَا أَهْلَ الْكِتَابِ تَعَالَوْا إِلَى كَلِمَةٍ سَوَاءٍ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ أَلَّا نَعْبُدَ إِلَّا اللَّهَ وَلَا نُشْرِكَ بِهِ شَيْئًا وَلَا يَتَّخِذَ بَعْضُنَا بَعْضًا أَرْبَابًا مِنْ دُونِ اللَّهِ فَإِنْ تَوَلَّوْا فَقُولُوا اشْهَدُوا بِأَنَّا مُسْلِمُونَ ال عمران:٦٤**

" اووایه چې اې اهل کتابو راشئ یوې خبرې ته چې برابر ده په مینځ زمونږ او ستاسو کښې چې بندګی به نۀ کوو مونږه مګر د الله او نۀ به شریکوو ددۀ سره چاله او نۀ به جوړوو ځنې زمونږ ځنې نورو لره خدایان سیوا د الله تعالی نه نو که قبوله نۀ کړه دوئ نو اووایئ چې ګواه شئ چې مونږ مسلمانان یو"

**اتَّخَذُوا أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ أَرْبَابًا مِنْ دُونِ اللَّهِ وَالْمَسِيحَ ابْنَ مَرْيَمَ وَمَا أُمِرُوا إِلَّا لِيَعْبُدُوا إِلَهًا وَاحِدًا لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ سُبْحَانَهُ عَمَّا يُشْرِكُونَ توبة:۳۱**

" جوړوی دوی ملیان خپل او ملنګان خپل خدایان سوا د الله نه او مسیح ځوئې د مریمې ، او حکم نه وو شوې دوی ته مګر دا چې عبادت دې کوی د یو اله نشتې دې معبود سیوا د هغۀ نه پاک دې الله د هغو نه چې دوئ ورسره شریکوی "

**فائده**: شرک فی الحکم د شرک فی التصرف یو قسم وو څنګه چې د تفصیل نه معلومه شو . استاذان ئې په هغې کښې ذکر کوی او شیخ

اقران علیه الغفران د هغې د لاندې ذکر کړې دې خو د وقتی ضرورت دپاره مونږ جدا ذکر کړو لکه چې شرک فی الدعاء جدا ذکر شوې دې . اوس هم دا شرک ډیر وو او عام وو نو د پوهې دپاره مونږ جدا ذکر کړو چې دا شرک اوشمارلې شی نو ځان ترې نه بچ کړې شي . دا د شرک اعتقادی قسمونه وو .

**خبردارې**: که د الله تعالی د قانون مقابله کښې د بل چا قانون او حلال او حرام داسې ګڼړی چې ثواب پکښې ګڼړی په طریقه د عبادت نو داشرک اعتقادی دې او که وائی چې داسې کار کوو او طریقه روانه ده ثواب ئې نهٔ ګڼړی نو بیا داشرک عملی کښې راځی .

## شرک فعلی

شرک عملی په دوه قسمه دې تحریمات العباد ، نذورالعباد

**تحریمات العباد**: الله تعالی تربیت کونکې دې او اختیار مند دې نو هغه ځمونږ د فائدې دپاره په مونږ باندې ځنې څیزونه حرام کړی وو ځنې ابدی لکه مرداره ، خنزیر وغیره او ځنې وقتی طور لکه په احرام کښې خکار کول دیته تحریمات الله وائی دا منل او دې سره د حرامو معامله کول توحید دې . ددې مقابله کښې مشرکانو په عقیده د سپیرهٔ توب ځنې څیزونه په ځان بند کړی دی چې فلانکې څیز او ورځ نه مونږ یریږو وائی په مونږه خهٔ نهٔ راځی مونږه ورسره خرابیږو هیڅ څه ظاهری سبب پکښې نه وی او سپیرهٔ ئې ګڼړی یا لکه د ځنې زیارتونو اونې او هغې کښې خکار په ځان

حرام کړې او بند کړې چې بیا مونږ ته ضرر رسوی په مونږ څۀ نۀ راځی دیته تحریمات العباد وائی قران کریم پدې رد کوی او وائی چې دا پابندئ ختم کړئ.

يَا أَيُّهَا النَّاسُ كُلُوا مِمَّا فِي الْأَرْضِ حَلَالًا طَيِّبًا وَلَا تَتَّبِعُوا خُطُوَاتِ الشَّيْطَانِ إِنَّهُ لَكُمْ عَدُوٌّ مُبِينٌ بقرة:۱۶۸

" اې خلقو! خورئ د هغو نه چې په زمکه کښې دی حلال مزیدار او مۀ ځئ په قدمونو د شیطان یقینا دې ستاسو دپاره دشمن ښکاره دې"

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُلُوا مِنْ طَيِّبَاتِ مَا رَزَقْنَاكُمْ وَاشْكُرُوا لِلَّهِ إِنْ كُنْتُمْ إِيَّاهُ تَعْبُدُونَ بقرة:۱۷۲

" اې مومنانو! خورئ د مزیدار هغې نه چې ما درکړې دې تاسو ته او شکر اوکړئ د الله که یئ تاسو د هغۀ محتاجی کونکی"

اَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَوْفُوا بِالْعُقُودِ أُحِلَّتْ لَكُمْ بَهِيمَةُ الْأَنْعَامِ إِلَّا مَا يُتْلَى عَلَيْكُمْ غَيْرَ مُحِلِّي الصَّيْدِ وَأَنْتُمْ حُرُمٌ إِنَّ اللَّهَ يَحْكُمُ مَا يُرِيدُ مائدة:۱

" اې مومنانو پوره کړئ لوظونه خپل حلال دی تاسو لره بې زبانه څاروی هغه چې وئیلې کیږی تاسو ته حلال مۀ ګڼړئ ښکار چې تاسو په احرام کښې یئ یقینا الله فیصله کوی هغه چې خوښه ئې شی"

## نذورالعباد

د نذر معنی ده په ځان ضروری کول او منل مسلمانان او موحدین د الله تعالی د رضا او هغۀ ته د نزدیکت دپاره په ځان څه ضروری کړی چې د الله تعالی دپاره دا کار کوم څاروې به حلالوم، جمات به جوړوم جمات له به قالین اخلم وغیره نو دغه څیزونو ته نذورالله وئیلې شی دا توحید دې منل ئې عبادت دې او پوره کول ئې

ضرورى دي او حکم ئې حلت دې خوراک ئې روا دې ددې مقابله کښې مشرکانو وغيره هغوئ ته د تقرب دپاره او د هغوئ د نفع د حاصلولو دپاره او ضرر نه د ځان بچ کولو دپاره ځنې ځيزونه په ځان ضرورى کوى چې فلانکى بابا له به چيلې بوځم حلوه به اوړم ګنبد به پرې جوړوم جنډې به اوړم سنګ مرمر به پرې لګوم دا نذورالعباد دي ددې منل هم حرام او ددې استعمال هم حرام دې

إِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةَ وَالدَّمَ وَلَحْمَ الْخِنْزِيرِ وَمَا أُهِلَّ بِهِ لِغَيْرِ اللَّهِ فَمَنِ اضْطُرَّ غَيْرَ بَاغٍ وَلَا عَادٍ فَلَا إِثْمَ عَلَيْهِ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ. البقرة ١٧٣ :

" يقينا حرام کړې ده الله په تاسو مرداره او وينه بهيدونکې او غوښه د خنزير او هغه چې ياد شى پرې نوم د غيرالله ، پس هغه څوک چې محتاجه شو نهٔ وو نافرمان او نه زياتى کوونکې پس نشتې ګناه په دهٔ ، يقينا الله تعالى بخونکې مهربانه دې"

حُرِّمَتْ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةُ وَالدَّمُ وَلَحْمُ الْخِنْزِيرِ وَمَا أُهِلَّ لِغَيْرِ اللَّهِ بِهِ وَالْمُنْخَنِقَةُ وَالْمَوْقُوذَةُ وَالْمُتَرَدِّيَةُ وَالنَّطِيحَةُ وَمَا أَكَلَ السَّبُعُ إِلَّا مَا ذَكَّيْتُمْ وَمَا ذُبِحَ عَلَى النُّصُبِ وَأَنْ تَسْتَقْسِمُوا بِالْأَزْلَامِ ذَلِكُمْ فِسْقٌ الْيَوْمَ يَئِسَ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ دِينِكُمْ فَلَا تَخْشَوْهُمْ وَاخْشَوْنِ الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الْإِسْلَامَ دِينًا فَمَنِ اضْطُرَّ فِي مَخْمَصَةٍ غَيْرَ مُتَجَانِفٍ لِإِثْمٍ فَإِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ. المائدة ٣:

" حرام ده په تاسو باندې مرداره او وينه (بهيدونکې) او غوښه د خنزير او د هغه شى چې ياد شى نوم د الله په هغهٔ او د مرئ نه خفى شوې ښاروې او زخمى

شوې او ارتاؤ شوې او په ښکر وهلې شوې او هغه چې خوړلې وی درنده مګر کوم چې تاسو ذبحه کړئ او هغه چې ذبح شی په ځائ د عبادت د غیرالله او چې خپل قسمت معلوموی په غشو دا کار ګناه دې نن نا امیده شو کافران د دین ستاسو نه نو مهٔ یریږئ د دوئ نه او اویریږئ ځما نه نن مې پوره کړو تاسو لره دین ستاسو او پوره مې کړو په تاسو نعمت خپل او غوره مې کړو تاسو لره اسلام دین نو څوک چې مختاج شو په لوږه کښې چې نهٔ وو مائل ګناه ته نو یقینا الله بخونکې مهربانه دې"

## شفاعت قهريه

د شرک اعتقادی مبدأ هغه عقیده د شفاعت بلا اذن او د شفاعت قهریه ده د مشرکانو عقیده دا وه چې ځمونږه بزرګانو او نیکانو ډیر محنتونه او خوارئ کړی دی نو دوئ الله تعالی ته ډیر ګران دي الله تعالی ورسره مینه کوی مونږه ګناهګار یو ګنده یو چرته مونږ او چرته د الله تعالی نه غوختل نو ځمونږ خبره الله تعالی نهٔ منی او د دوئ هغه رد کوی نه نو مونږ چې دوئ ته اووایو نو دوئ ځمونږ سوال الله تعالی ته پیش کړی نو مونږ له الله تعالی یو څیز راکوی نه خو چې دوئ ترې اوغواړی نو الله تعالی خپله مرضی او اراده پریږدي او ځمونږ هغه کار اوکړی نو مطلب دا چې دوئ په الله ګران دی نو ځمونږ سفارش اوکړی او الله خپله مرضی پریږدی دا دې سفارش بلااذن او شفاعت قهریه چې د زور سفارش پښتانهٔ وائی ځنې منت د زوره بدتر وی دا د مشرکانو عقیده ده ددې د وجې نه علم او تصرف منلو او ددې د وجې نه هغوئ له ئې عبادتونه کول او

د هغوئ نه ئې حاجتونه غوختل قران پدې عقيده رد کوی دا د شرک جرړه وه

وَيَعْبُدُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ مَا لَا يَضُرُّهُمْ وَلَا يَنْفَعُهُمْ وَيَقُولُونَ هَؤُلَاءِ شُفَعَاؤُنَا عِنْدَ اللَّهِ قُلْ أَتُنَبِّئُونَ اللَّهَ بِمَا لَا يَعْلَمُ فِي السَّمَاوَاتِ وَلَا فِي الْأَرْضِ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَى عَمَّا يُشْرِكُونَ. يونس:۱۸

"او بندګی کوی سیوا د الله تعالی نه د هغو چې نه ضرر رسولې شی او نه نفع رسولې شی دوی ته او وائی دا خلق زمونږ سفارشیان دی په نیز د الله ، اووایه چې آیا خبروئ الله لره په هغې چې معلوم نه دی الله ته په آسمانونو کښې او نه په زمکه کښې پاک دې الله او لوئ دې د هغو نه چې شریکوئ ئې د الله سره"

أَلَا لِلَّهِ الدِّينُ الْخَالِصُ وَالَّذِينَ اتَّخَذُوا مِنْ دُونِهِ أَوْلِيَاءَ مَا نَعْبُدُهُمْ إِلَّا لِيُقَرِّبُونَا إِلَى اللَّهِ زُلْفَى إِنَّ اللَّهَ يَحْكُمُ بَيْنَهُمْ فِي مَا هُمْ فِيهِ يَخْتَلِفُونَ إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي مَنْ هُوَ كَاذِبٌ كَفَّارٌ. زمر:۳

" واورئ صرف الله لره ده صافه بندګی او هغه خلق چې جوړوی سیوا د الله نه خپل امدادیان (وائی چې) مونږ د دوی بندګی ځکه کوو چې اورَسَوِی مونږه الله ته درجې نزدې ته یقینا الله به فیصله اوکړی په مینځ د دوی کښې په هغه شی کښې چې دوی پکښې اختلاف کوی بې شکه الله خودنه نۀ کوی هغه چاته چې غټ دروغژن او غټ کافر وی"

وَقَالُوا اتَّخَذَ اللَّهُ وَلَدًا سُبْحَانَهُ بَلْ لَهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ كُلٌّ لَهُ قَانِتُونَ . البقرة:۱۱۶

" او وائی چې نیولې دې الله ولد هغه پاک دې بلکه صرف هغۀ لره دی څۀ چې په آسمانونو کښې دی او په زمکه ټول د هغۀ دی تابعدار"

## شرک فی البرکة

د برکة معنی ده ''ثبوت الخیر الالهی فی الشئ'' (راغب) دویمه معنی ''الاعطاء والنماء مع الخیر''

د برکت معنی ثبوت او بقاء هم ده او کثرت د اثارفاضلو دا دواړه معنی د الله سره مناسب دي باقی پاتې کونکې هم الله دې او ډیرونکې هم الله تعالی دې د مشرکانو دا عقیده وه چې مونږ د فلانکی بابا په نوم څیزونه اومنو نو ځمونږه غویان ساتی او ځمونږ فصل ډیروی نو پدې عقیده ئې شرک فعلی کولو . نو دا شرک فی البرکة مبدء د شرک فعلی دپاره ده لکه

تَبَارَكَ الَّذِي بِيَدِهِ الْمُلْكُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ . الملك:۱

''برکت دې د هغهٔ چې په قدرت د هغهٔ کښې بادشاهی ده او هغه په هر څهٔ باندې قدرت والا دې''

أَلَا لَهُ الْخَلْقُ وَالْأَمْرُ تَبَارَكَ اللَّهُ رَبُّ الْعَالَمِينَ الاعراف :۵٤

'' صرف هغهٔ لره دی پیدا کول د هر شی او حکم د هرشی برکت والا دې الله چې پالونکې د عالم دې''

ګنړ ایتونه دی چې الله ځان له د برکت صفت ثابتوی ...

د توحید فی العبادت والدعاء مقصودی مضمون وو ددې دپاره قران توحید فی العلم والتصرف دلیل کړي چې کله تصرف او اختیار د الله تعالی دې نو عبادت او دعاء هم د هغه حق دې نو په دلائلو کښې خالق لکل شئ هو الله او متصرف فی کل شئ هوالله دا راوړی او عالم بکل شئ هو الله خالق هم او متصرف هم دې نو دا دوه دلیل کړی او توحید فی العبادة پرې ثابت کړی دلائل عقلیه کښې ددې بیان

راځى . دا اهم مضمون د قران دې الله تعالى دِ مونږه ته ددې مزه نصيب کړى او الله تعالى دِ مونږه ددې خادمان اوګرځوى امين اولنې مقصد سرته اورسيدلو .

## دويم مقصد ايمان بالکتاب

د الله تعالى د پيژندګلو چې څنګه حق دې نو هغه شان مونږ په عقل باندې کولې نشو او کوم کارونه چې د الله تعالى د رضا وى نو هغه څيزونه مونږ په عقل معلومولې نشو نو الله تعالى د خپل معرفت دپاره او د خپلې رضا د کارونو د پيژندګلو دپاره د آسمان نه په هر دور کښې وحى راليګلې وى نو هغه منل په هغې ايمان راوړل دا دويم مقصد دې چې صداقة الکتاب او ايمان بالکتاب ورته وائى مونږ ته هغه آخرى کتاب د قران کريم په شکل هدايت راغلې دې نو قرآن کريم د توحيد حواله ده او د هغې دليل دې خلق په دروغو او منګهړتو واقعاتو پسې ګرځى نو دعوت ديته ورکوى چې دغه څيزونه پريږدئ او قرآن له راشئ نو دويم اهم مضمون قران کريم دا بيانوى دا کله د اکثرو سورتونو په سر کښې ذکر کوى خصوصا د مکى سورتونو اشاره وى چې دا راروانه مسئله څۀ کمزورى مسئله نده دا ددې لوئ کتاب په حواله کيږى ځکه د لوئ ذات د طرفه راغلې دې نو ځان پرې پوهه کړئ . لکه سورة زمر ، مومن ، ټولو حواميمو ابتداء شوه ځائ په ځائ په مينځ کښې د قران تذکره راوړى د ترغيب په طريقه چې دي طرفته راشئ کله قران دا داسې

بیانوی چې وائی قران د الله د طرف نه نازل شوې دې کله د قرآن اعجاز ذکر کوی کله د مخالفینو او نه منونکو داعتراض جواب ذکر کړی ،

ذَلِكَ الْكِتَابُ لَا رَيْبَ فِيهِ هُدًى لِلْمُتَّقِينَ بقرة:٢

'' په دی کتاب کښې څه شک نشتې خودنه ده دپاره د یریدونکو''

وَإِنْ كُنْتُمْ فِي رَيْبٍ مِمَّا نَزَّلْنَا عَلَى عَبْدِنَا فَأْتُوا بِسُورَةٍ مِنْ مِثْلِهِ وَادْعُوا شُهَدَاءَكُمْ مِنْ دُونِ اللَّهِ إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ بقرة:٢٣

''او که تاسو په شک کښې يئ د هغه کتاب نه چې نازل کړيدې مونږ په بنده خپل پس پيش کړئ يو سورت پشان ددۀ او طلب کړئ مددګاران خپل سیوا د الله تعالی نه که يئ تاسو رشتونی''

قُلْ لَئِنِ اجْتَمَعَتِ الْإِنْسُ وَالْجِنُّ عَلَى أَنْ يَأْتُوا بِمِثْلِ هَذَا الْقُرْآنِ لَا يَأْتُونَ بِمِثْلِهِ وَلَوْ كَانَ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ ظَهِيرًا بنی اسرائیل:٨٨

''اووایه که جمع شی انسانان او پیریان په دې خبره چې راوړی داسې قران نو نۀ شی راوړې مثل ددۀ اګر که وی ځنې د ځنو دپاره امدادی''

## دریم مقصد ایمان بالرسول

د توحید مبلّغ او د کتاب مبیّن معلّم هغه رسول دې یعنی د الله تعالی په مخلوق کښې د مخلوق د هدایت دپاره او هغوئ ته د توحید خودلو دپاره او د رسولو دپاره د ځنې پاکو خلقو انتخاب اوکړی چې هغوئ ته خپل کتاب وحی اوکړي ځکه په کتاب مونږ نۀ پوهیږو چې تر څو راته هغه اونۀ خائی نو د هغه هستئ منل او په هغه ایمان راوړل دا اهم مضمون د قران کریم دې چې دا پیغمبر اومنلې شی او دۀ ته

کومه وحی کیږی نو هغه اومنلې شی دا هم قران کریم په مختلفو اندازونو ذکر کړی چې وحی ورته شوی ده

نَحْنُ نَقُصُّ عَلَيْكَ أَحْسَنَ الْقَصَصِ بِمَا أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ هَذَا الْقُرْآنَ وَإِنْ كُنْتَ مِنْ قَبْلِهِ لَمِنَ الْغَافِلِينَ يوسف ۳

" مونږ کوو تاته خائسته بیان ځکه چې ما رالیګلې دې تاته دا قران او خامخا وی تهٔ پخوا ددینه د نا خبرو نه"

کله د غیبو واقعاتو په بیانولو باندې لکه

ذَلِكَ مِنْ أَنْبَاءِ الْغَيْبِ نُوحِيهِ إِلَيْكَ وَمَا كُنْتَ لَدَيْهِمْ إِذْ يُلْقُونَ أَقْلَامَهُمْ أَيُّهُمْ يَكْفُلُ مَرْيَمَ وَمَا كُنْتَ لَدَيْهِمْ إِذْ يَخْتَصِمُونَ ال عمران:٤٤

"دا خبرونه د غیب دی چې رالیږو تاته او نه وې تهٔ د دوئ سره کله چې غورزول دوی قلمونه خپل چې کوم یو به پالنه کوی د مریمې او نهٔ وی تهٔ د دوئ سره کله دوی جګړه کوله"

کله د مخالفینو اعتراضو او د هغې جوابونه کوی کله د رسالت د نه منونکو پلیتئ ذکرکوی دا مختلف اندازونه وی دا دریم مقصد چې ورته صداقت الرسول او مسئله د رسالت وائی .

## څلورم ایمان بالاخرة

د قران کریم په اهمو مسئلو کښې هغه د قیامت منل دي چې ددې دنیا پسې یو بل عالَم راروان دې چې د بدلې ورځ ده نن دا دنیا د عمل ده او آخرت د بدلې میدان دې یعنی لکه چې څنګه چې د دنیا په نن پسې صبا شته دې نو دغه شان دا ټوله دنیا نن ده او آخرت ئې صبا دې . دا دنیا به الله تعالی ورانوی او دي پسې به د محشر میدان

قائمولې شي نو دغه ورځ څنو خلقو بالكل نه منله او چا منله نو په خپله خوخه ئې منله قران كريم قيامت ثابتوى هم او دا هم وائى هلته خبره د حساب او د عمل ده او د قانون ده نو په نهٔ منونكو هم رد كوى او په يهودو او نصاراؤ هم رد كوى چې هغوئ په خپله خوښه قيامت منلو او قران كريم چې اثبات د قيامت كوى نو مختلفى طريقى وى د هغې كله قياس په ابتداء اوكړى كله قياس د زمكې په شنهٔ كيدلو كله علم او قدرت د الله تعالى ذكر كړى او كله د قيامت حكمت ذكر كړى . دا د ضرورى عقائدو نه ده څكه قران پدې زور وركوى . دا څلور اهم مضامين وو ديته اصول مهمّه ، سوابق ، مقاصد اربعه عاليه وئيلې كيږي . ددې څلورو دپاره خدمت پكار وى نو نور څلور مضامين هغه ددې خادمان دي.

## پنځم مقصد الجهاد فى سبيل الله

دغه څلور مسئلې چې اومنلې شوي نو اوس دا مسئلې به خوروِل غواړى او دا به په ځان او په جهان حاكم كول غواړى ددې دپاره چې كوم محنت د زده كړې نه واخلې تر حاكم كولو پورې او جنګ پورې چې كوم محنت كيږى هغې ته د قران په اصطلاح كښې جهاد وائى جهاد په شريعت كښې هغه عبادت ته وائې چې په نفس باندې ګران وى او پيدا كيږى د اصل ايمان نه او ايمان مضبوطوى .

" هوالمبالغة واستفراغ ما فى الوسع والطاقة من قول وفعل"

" خپل د خلې او بدن انتهائى كوشش كول "

جهاد دوه قسمه دي يو مکی جهاد اوبل مدنی جهاد مکی جهاد دا لسانی دعوت دي او د مسئلي زده کولو او عملی کولو او دعوت ورکولو په لار کښي چي کوم تکاليف راځی هغه په خنده پيشانۍ سره برداشت کول دا د مکی دور جهاد دي په کومو علاقو کښي چي د مسئلی نه خلق خبر نۀ دی او داعی کمزوري وی نو هلته مکی جهاد دور وی . دويم مدنی جهاد چي هغه د مکی دور او دعوت نه روستو شروع شی اول تهذيب الاخلاق وی بيا د کور سمول تدبيرالمنزل او بيا سياست مدنی د ملک سمول دا نظام جهاد دي او بيا قتال فی سبيل الله وی قران دواړه جهادونه په زور شور سره بيانوی د مکی دور جهاد په ٨٦ سورتونو کښي بيانوی او د مدنی دور جهاد په ٢٨ سورتونو کښي بيانوی . د دي د بيان هم مختلف اندازونه وی امر کوی او سستی کونکو ته زورنی بيانوی او منافقانو ته زورني او پليتئ د هغوئ وائی .

## شپږم مقصد الانفاق فی سبيل الله

جهاد بغير د مال نه ترقی نه کوی نو د جهاد دپاره مال لګول ضروری دي نو جهاد بدنی سره قران جهاد مالی ذکر کوی چي کله فنډ مضبوط نۀ وی نو جهاد مضبوطيږی نه ځکه د مجاهد ضروريات به د کوم ځائ نه پوره کيږی نو سرمايه دارو خلقو له پکار دي جي مال اولګوی نو قران اجرونه هم وائی او مثالونه هم او وجي هم چي مال اولګوئ . او چي څوک مال نه خرچ کوی نو هغوئ ته زورنی

ورکوی . نو جهاد مالی او بدنی دا د قران اهم مضمون دې قران دا دواړه په مختلفو اندازونو بیانوي .

## اووم مقصد التنظیم

د توحید ملګری او د مشن ملګری یعنی کوم کسانو چې دغه څلور اهم مضمونونه منلی وو او د ژوند مشن ئې دا وی چې په بدن او مال ددغې څلورو مسئلو خدمت اوکړی نو دا هر ملګرې ملغلره ده اوس دا ملغلرې په تار کښې پئیل او اودل غواړی نو خائست به ئې زیات شی او طاقت به ئې ډیر شی نو جهاد او انفاق بغیر د اتفاق نه نۀ کیږی چې کله مسلمانان دیته یو شی نو کار به اوشی دې یو کیدلو ته تنظیم وائی قران " موالات المؤحدین " ته ډیر ترغیب ورکوی چې یو شئ یو شئ او کوم اسباب چې د تفرقې وی نو د هغې نه ځان اوساتئ او کوم خلق چې تفرقه راولی نو د هغې نه بائیکات اوکړئ دا د قران اهم مضمون دې

فرد قائم ربط ملت سے ہے تنہا کچھ نہیں
موج ہے دریا میں اور بیرون دریا کچھ نہیں

## اتم مقصد اداب

چې کله ملګری ګنړ شی نو لوښي چې نزدی شی نو کړنګ کوی یوبل سره جنګیږی نو قران کریم ددې دپاره مشر او کشر ته اداب ذکر کوی چې ددې خیال ساتئ نو متفق او متحد به یئ امور انتظامیه هم ذکر کوی د هر څیز مختلف اداب وی د کور کلی علاقی

ملک اداب ذکر کوی .. دا څلور مضامين اصول ممدّه لواحق او خادم مسائل دي دا مقاصد ثمانيه شو دا اهم مضامين د قران کريم دي .

## د مقاصدو مينځ کښې ربط

د ټولو مقاصدو که فکر شوې وی نو يو بل سره ربط معلوم شو خو دا به قران کښې څه پدې ترتيب نۀ راځی کله به مخکښې روستو اوکله يو وی بله به نۀ وی د ترتيب ربط معلوم شو اوس ددې بل طرفنه اووايه چې د ادابو خيال ساتۍ چې تنظيم ترقی اوکړی چې تنظيم مضبوط وی نو بيت المال به مضبوط وی او چې بيت المال مضبوط وی نو جهاد کول به آسان وي نو جهاد هله کيږی چې يقين په آخرت مضبوط وی او جهاد سره دا يقين نور هم مضبوط شی آخرت کښې فائده د نبی ﷺ ايمان او د قران ايمان او د توحيد ورکوی که د توحيد پسې د قران تذکره راشی نو ربط چې توحيد د قران نه زده کړۍ فضول خرافات پريږدۍ . که توحيد پسې د رسالت تذکره راشی نو ربط به دا وی چې رسول الله ﷺ ددې داعی او معلم دې نو ددۀ په دعوت دا اومنۍ . او که توحيد پسې د آخرت تذکره راشی نو دا دوه جنګې مسئلې ذکرکوی نو د آخرت توخه توحيد دې او دا توحيد اومنۍ اخرت کښې به څۀ جواب ورکوۍ . او که د توحيد پسې د جهاد تذکره راشی که مکی سورت وی نو ددې مسئلې دعوت ورکړه او دا اورسوه که سورت مدنی وی نو ددې مسئلې دپاره دشمن سره اوجنګيږۍ . او که ورپسې د انفاق ذکر راشی نو ددې

دپاره مال اولګوئ او که د تنظیم نو ددې مسئلی دپاره یو شئ او د یو بل خیال ساتئ . او که د قران پسې د توحید ذکر راشی نو قران دا مسئله بیانوی دا اومنئ او که د رسالت ذکر راشی نو دا قران پدی وحی کیږی نو دا اومنئ . او که د قران پسې د آخرت تذکره راشی نو دا قران اومنئ نو آخرت کښې به کامیاب شئ او که ورپسې د جهاد ذکر راشی نو اشاره ده چې د قران نهٔ منونکو سره جنګ اوکړئ او که د قران پسی د انفاق مسئله راشی نو ددې قران د تبلیغ دپاره خرچ اوکړئ او که ورپسې د تنظیم او د ادابو تذکره راشی نو ددې قران دپاره یو شئ او د یوبل د ادابو لحاظ اوساتئ رسالت او قران په ربط کښې تقریبا یو شان دي که آخرت پسې ددې مسئلو نه یوه راشی نو اشاره ده چې دا د آخرت توخه ده نو تیاری کوئ . او که د جهاد پسې د اولو څلور مسائلو نه راشی نو اشاره ده چې ددې دپاره جهاد اوکړئ او انفاق او یو شئ او دا ادابو خیال اوساتئ . په ادنی تأمل سره ربط معلومیږی دا صرف د کشرانو د اجراء دپاره اولیکلې شو اگر قبول افتد زہے عزو شرف.

## دریمه خبره قران خپله خبره چاته کوی؟ مخاطب د قران

د دوو خبرو وضاحت مخکښې اوشو اوس دریمه خبره چې د قران مخاطب څوک دې او قران خپله خبره چاته کوی د قران کریم آواز صدا به صحرا نده یعنی مخاطب لری د قران مخاطب ذاتونه ندی بلکه مرضونه دی دا ډلې اصل کښې د مرضونو نومونه دی نو غټې ډلې

چې قران ورسره مخاطبه کوی نو یو منونکی دی مومنان دویم نهٔ منونکی د نهٔ منونکو مختلف ډلې دی .
(١) دهریان ــ(٢) مجوس ــ(٣) مشرکان ــ(٤) یهود ــ(٥) نصارٰی ــ(٦) منافقین ټولې ډلې اووهٔ شوی .

## مومنان

یعنی د دعوې منونکی منقادین دوئ ته قران کله ذمه وارئ خائی کله د دعوت او جهاد ترغیب ورکوی او کله د مصائبو برداشت تلقین ورکوی . او په جهاد کښې په سستئ زجرونه ورکوی نو دوئ سره د خبرو دا انداز وی نو آیت کښې سوچ کوه چې خبره چا سره ده منونکو سره که نهٔ منونکو سره . که نهٔ منونکی سره وی نو چاسره ده نو هغه ډلې.

## دهریان

دهر زمانې ته وائې دا هغه خلق چې د کارونو نسبت زمانې ته کوی بیا ځنې داسې دی چې د سره د الله تعالی وجود نهٔ منی او ځنې داسې دي چې الله منی خو متصرف زمانې ته وائی دا خلق د قران په دور کښې ډیرکم وو نو قران ئې په زوره نهٔ مشهوره وی خو د مرض رد کوی د الله تعالی وجود اوتصرف بیانوی اوس وخت کښې ورته کمیونسټ وائی په مختلف اندازونو سره په دوئ رد کوی دا ډیر حماقت وو نو قران ډیره توجه نده کړی .

### مجوس

د دوئ مشر زردشت وو خو غوړونه ئې واړۀ واړۀ وو نو میخ ګوش ورته وائی بیا عربۍ ته نقل شو نو مجوس شو د دوئ غلطه نظریه وه چې خالق الخیر جدا دې او خالق الشر جدا دې اول ته یزدان او دویم ته اهرمن وائی نو د دوئ نظریه د دوو خدایانو وه قران په دوئ هم رد کوی خو عربو کښې دا ډله کمه وه نو ډیره مخاطبه نده البته رد پرې قران کړې دې چې خالق کلّ شئ.

## مشرکین

د مشرکینو شرک وو د هغې بیان په تفصیل سره اوشو دا د قران وخت کښې ډیر وو اوس هم ډیر دی نو قران د دوئ اصلاح ډیره کوی او د شرک په هر قسم رد کوی مشرکان څلور قسمه دی .

**مشرکین بالعبادالصالحین**: چې نیکان بندیان د الله تعالی سره شریک او حصه دار کړي دي دا اولنې شرک وو چې دنیا ته راغلې وو قوم نوح ددې بنیاد ایخې وو . اوس هم اکثر بزرګان اولیاء انبیاء د الله سره شریکوی . قران پرې رد کوی لکه

وَقَالُوا لَا تَذَرُنَّ آلِهَتَكُمْ وَلَا تَذَرُنَّ وَدًّا وَلَا سُوَاعًا وَلَا يَغُوثَ وَيَعُوقَ وَنَسْرًا نوح:۲۳

" او دوئ اووې چې مۀ پریږدئ خدایان خپل او مۀ پریږدئ وَد او نه سُواع او نه یغوث او نه یعوق او نه نسر"

**مشرکین بالملائکه**: دا قسمه خلق هم وو چې فرشتو ته ئې د اللّٰه تعالی لونړه وئیلې او هغوئ ئې متصرف او کارساز ګڼړل قران کریم پرې رد کوی او د فرشتو عجز بیان کړی لکه

فَاسْتَفْتِهِمْ أَلِرَبِّكَ الْبَنَاتُ وَلَهُمُ الْبَنُونَ صافات:۱۴۹

" نو تپوس اوکړئ د دوئ نه چې د رب ستا دپاره جینکئ دی او دوئ لره ځامن دی"

**مشرکین بالجن**: چې پیریان ئې د اللّٰه تعالی سره حصه دار کړی وی . او هغوئ له د اللّٰه تعالی صفتونه ورکوی لکه قران کریم د جناتو عجز بیانوی او پداسې خلقو رد کوی لکه

وَجَعَلُوا لِلَّهِ شُرَكَاءَ الْجِنَّ وَخَلَقَهُمْ وَخَرَقُوا لَهُ بَنِينَ وَبَنَاتٍ بِغَيْرِ عِلْمٍ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَى عَمَّا يَصِفُونَ الانعام:۱۰۰

"او جوړوی اللّٰه لره شریکان د پیریانو او پیدا کړی دی اللّٰه هغو لره او جوړوی هغهٔ لره ځامن او لونړه په ناپوهئ سره پاک دې هغه او لرې دې د هغه خبرو نه چې دوئ بیانوی"

**مشرکین بالکواکب**: ځنو خلقو ستوری ، نمر، سپوږمئ، د اللّٰه تعالی سره حصه دار کړی وو قران کریم د ستورو نمر تسخیر ذکر کوی چې د اللّٰه تعالی تابعدار دي او په دغه خلقو رد کوی لکه د ابراهیم ؑ مناظره شوه یا لکه

وَمِنْ آيَاتِهِ اللَّيْلُ وَالنَّهَارُ وَالشَّمْسُ وَالْقَمَرُ لَا تَسْجُدُوا لِلشَّمْسِ وَلَا لِلْقَمَرِ وَاسْجُدُوا لِلَّهِ الَّذِي خَلَقَهُنَّ إِنْ كُنْتُمْ إِيَّاهُ تَعْبُدُونَ حم سجدة:۳۷

''او د دلائلو د هغهٔ نه شپه او ورځ او نمر او سپوږمۍ ده نو سجده مهٔ کوئ نمر او سپوږمۍ ته او سجده کوئ الله ته چې هغه پیدا کړیدی دوی لره که تاسو صرف د هغهٔ محتاجی کوئ''

**یهود**

بله ډله چې قران ورسره مخاطبه کوی هغه یهود دی اهل کتاب چې دوئ دعوی د اتباع د موسیعليه السلامکوله او دا ئې وئیل چې موسیعليه السلامآخری پیغمبر دې او تورات آخری کتاب دې دوئ په علم کښې ګمراه شوی وو سره ددې نه چې علم ورسره وو او انکار ئې د نبی ﷺ نه کولو نو دا علماء سوء وو قران دوئ سره خبرې کوی د دوئ د مرضونو بیان کوی او اصلاح ئې کوی او چې کوم پکښې خهٔ خلق وو نو د هغوئ صفت کوی.

**نصاری**

پنځمه ډله د نهٔ منونکو چې هغوئ د دعوت د قران نه انکار کوی او قران د هغوئ اصلاح کوی نو هغه نصاری دی عیسایان فرنګیان چې عیسیعليه السلام ته آخری پیغمبر وائی او انجیل ته آخری کتاب وائی. د نبی ﷺ پیغمبری یا منی نه یا منی خو صرف د عربو دپاره قران کریم د هغوئ د ګندو اعمالو اصلاح کوی او نورو ته د هغوئ د تقلید نه د پرهیز تلقین کوی. چونکه دوئ پیران وو نو د پیرئ د ګدئ اصلاح قران کوی.

## منافقين

دا هغه خلق وو چې يريدونکی مفاد پرست وو چې کوم طرفته فائده وی نو هغه کار کوی نه د اسلام په حقانيت عقيده لری او نه کافرو سره مکمل دی ګوری چې فائده په کوم طرف کښې ده نو په هغه طرف ځی او روان دي قران کريم د دوئ ګندګئ ډيرې بيانوی او دوئ ته ډيره توجه کوی ځکه چې د دوئ شکل د مصلح دې او کوی فساد نو د اصلاح په جامه کښې فساد کوي . نو دوئ ته د کلام توجه زياته ده .

## تبصره

دا د قران کريم مخاطب مطلب دا ندې چې دغه ډلی ختمې شوی نو د قران اواز فضول دې بلکه ددې مطلب چې دا مرضونه په چا کښې وی نو هغوئ ته آواز دې ځکه قران علاج دې نو چې مرض چرته دې نو دارو هغه ځائ ته ځی.

د عمر ﷺ قول دې

''ان بنی اسرائيل قد مضوا وانتم تعنون يا امة محمد'' بنی اسرائيل ختم شو اوس به تاسو مراد يئ''

نو ددې دا مطلب ندې چې دغه آيتونه د هغوئ پورې خاص وو .

شاه ولی الله ﷺ ذکر کوی چې دا ګمان مهٔ کوه چې د قران مخاصمه او مقابله د داسې خلقو سره وه چې هغوئ ختم شو بلکه نن هم د هغوئ نمونې موجود دی ددې بيا تفصيل سره ذکر کوی .

## څلورمه خبره دا مسئلې قران کريم څنګه بيانوی؟ يعنی انداز بيان د قران

د درې خبرو وضاحت اوشو يو قران کوم کتاب دې ؟ دويمه خبره چې قران څۀ وائی ؟ دريمه خبره چې چا ته خبره کوی اوس څلورمه خبره دا قران خپله خبره څنګه کوی . د قران کريم انداز دعوت درې قسمه دې دعوت بالحکمة ، دعوت بالموعظة ، دعوت بالجدال

ادْعُ إِلَى سَبِيلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ وَجَادِلْهُمْ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعْلَمُ بِمَنْ ضَلَّ عَنْ سَبِيلِهِ وَهُوَ أَعْلَمُ بِالْمُهْتَدِينَ سورة النحل:۱۲۵

"بَله لارې د رب ستا ته خلق په عقل سره او په ښۀ نصيحت سره او مناظره اوکړه د دوئ سره په هغه طريقه چې ښه وی يقينا رب ستا ښۀ پوهه دې په هغه چا چې ګمراه کيږی د لارې د هغۀ نه او هغه ښۀ پوهه دې په لار موندونکو باندې"

دعوت درې قسمه ځکه دې چې مخاطب درې قسمه دې يا طالب د دليل وی يعنی پوهه وی ، دويم امی وی په دليل نۀ پوهيږی دريم ملا چې اعتراض کوی د دعوت دا درې قسمه دی .

## دعوت بالحکمة

يعنی قران وائی چې خپله خبره خه کلکه او واضحه اوکړی نو قران خپله دعوی ثابتوی او واضحه کوی ئې قران کريم د ثابتولو دپاره څلور خيزونه پيش کوی ، دليل عقلی ، دليل نقلی ، دليل وحی ، حلف.

## دلیل عقلی

دلیل معنی ده رهبری کونکې لار خودنکې بوتلونکې ، عقلي معنی ده چې د حق پرست او د باطل پرست دواړو عقل دا خبره منی یعنی د ثبوت دپاره داسې یو څیز او خبره پیش کول چې د حق پرست او باطل پرست دواړو عقل هغه منی دیته دلیل عقلی وائی دا په هغه ځائ کښې پیش کیږی چې کله مخاطب او منکر دا اووائی چې خبره ځمونږ عقل نه منی دا ستا خبره د عقل نه خلاف ده لکه

أَجَعَلَ الْآلِهَةَ إِلَهًا وَاحِدًا إِنَّ هَذَا لَشَيْءٌ عُجَابٌ ص:٥

"ایا کړۀ ده ټولو خدایانو لره یو خدائ یقینا دا عجیبه شې دې"

نو قران عقلی دلائل شروع کړی دا د سورت د دعوی سره د عقلی دلیل ربط هم شو چې تاسو ولې ځما دعوی نه منی دا خو څه د عقل نه خلاف نده لږ سوچ خو اوکړۀ کنه دا ربط شو . الله تعالی د خپل ځان د خودلو دپاره دوه قسمه دلیلونه پیدا کړی دی آفاقی او انفسی لکه

سَنُرِيهِمْ آيَاتِنَا فِي الْآفَاقِ وَفِي أَنْفُسِهِمْ حَتَّى يَتَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُ الْحَقُّ أَوَلَمْ يَكْفِ بِرَبِّكَ أَنَّهُ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدٌحم سجدة:٥٣

" ښائم دوی ته دلیلونه خپل په اطرافو کښې او په نفسونو د دوئ کښې تردې چې ښکاره شی دوی ته چې دا توحید حق دې ایا نۀ پوره کیږی په توحید د رب ستا کښې چې دا الله هر شې ته حاظر ناظر دې"

یو آفاقی او بل انفسی عالم اکبر او عالم اصغر پدې بهر غټ عالَم کښې سوچ اوکړه که دا نۀ وی نو ځان وړوکی عالم ته سوچ اوکړه. نو

دليل عقلی قسمونه غټ دوه شو نو يو آفاقی بل انفسی بيا آفاقی کښې کله د آسمان حال خائ چې بره اوګوره لکه

اللَّهُ الَّذِي رَفَعَ السَّمَاوَاتِ بِغَيْرِ عَمَدٍ تَرَوْنَهَا ثُمَّ اسْتَوَى عَلَى الْعَرْشِ وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ كُلٌّ يَجْرِي لِأَجَلٍ مُسَمًّى يُدَبِّرُ الْأَمْرَ يُفَصِّلُ الْآيَاتِ لَعَلَّكُمْ بِلِقَاءِ رَبِّكُمْ تُوقِنُونَ الرعد:۲

"الله تعالی هغه دې چې اوچت ئې جوړ کړې دی اسمانونه بې د ستنو نه تاسو خو ئې وینئ بیا قائم شو په عرش باندې او په کار ئې لګولې دې نمر او سپوږمئ هر یو روان دې د یوې نیتې مقرر پورې تدبیرکوی د ټولو کارونو بیانوی دلیلونه امید دې چې تاسو په ملاقات د رب خپل یقین پیدا کړئ"

نو سماوی ، فوقی ، علوی ورته او مسخرات سماویه او کله د مینځ د فضا څیزونه ذکر کیږی چې جوّی او فضائی ورته وائی لکه نمر سپوږمئ مارغان ذکر شی کله د زمکې څیزونه نعمتونه او قدرتونه خائی نهرونه دریابونه ښاروی وغیره نو ارضی سفلی ورته وائی . بیا کله عقلی محض وی چې د مخالف نه پکښې تپوس نۀ وی او کله د مخاطب نه تپوس وی نو هغې ته اعترافی وائی چې ته اووایه نو بیا د مخاطب جواب نقل وی او کله نۀ وی نو اعترافی من الخصم او کله سکوتی وی

## دليل نقلی

د دعوې د ثبوت او استشهاد دپاره دویم څیز پیش کولې شی چې هغې ته دلیل نقلی وائی یعنی لار خودونکې د نقل دا په هغه ځائ کښې پیش کولې شی چې کله مخاطب اووائی چې تۀ په دې خبرې

کښې يواځې ئې مونږه دا خبره ستا نه مخکښې د چا نه نده اوريدلې لکه

مَا سَمِعْنَا بِهَذَا فِي الْمِلَّةِ الْآخِرَةِ إِنْ هَذَا إِلَّا اخْتِلَاقٌ ص:٧

"مونږه ندې اوريدلې دا خبره په مخکښې دين کښې نور څهٔ ندی خو دروغ دی"

نو ددې جواب کښې قران دليل نقلی پيش کوی نو دا ربط هم شو د دعوې سره چې څهٔ پدې مسئله کښې يواځې نهٔ يم دا په مختلف قسمونو دې يو د تيرو کتابونو نه دويم د تيرو انبياء کرامو نه اجمالاً يا جدا جدا دريم د تيرو علماء نه څلورم د ملائيکو نه پنځم د پيريانو نه شپږم د وحوشو او طيور نه چې مارغان هم دا مسئله کوی . لږ په ادنی سوچ سره پته لږی .

## دليل وحی

لار ښود او رهبر د وحی چې ديته دليل وحی وائی دا په هغه ځائ کښې وی چې کله مخاطب دا اعتراض اوکړی چې دا خبره تهٔ د ځان نه کوی نو داعی وحی حواله کښې پيش کړی دا د سورت د دعوي سره د ربط طريقه هم شوه او په اوحی ، امرت ، نزّل ، وغيره الفاظو سره ذکر کيږی .

## الحلف

چې کله د مخاطب ټول اعتراضونه دفع شی او بيا هم نه منی او نه کړه نه کړه کوی او د لانسلّم په ډيرئ ناست وی نو قران د هغې نه پس حلف قَسم ذکر کوی

قَسم يو عبادت دې چې په چا قسم کولې شی نو هغه عالم الغيب او متصرف اوګڼرلې شی دا به صرف د الله تعالی په نوم باندې وی ځکه وائی چې " من حلف بغير الله فقد اشرك"

دويم قسم د شهادت دې او د ګواهئ چې د خپلې دعوې دپاره ګواهان پيش کړی چې په جواب قسم باندې دا مقسم به ګواه دې لکه "قسم به لب میگون تو، وزلف شب گون تو، که تو محبوب دلربائی"

" يعنی ستا دا شرابی شونډې او ستا تورې زلفې پدې ګواه دی چې تۀ د مينې قابل ئې " دا د مينې ثبوتونه او ګواهان شو . قران کريم کښې چې کوم قسمونه شوی دی هغه اکثر ددې قِسم نه دی چې ګواه پيش کوی دا هم يو قسم دليل وي ځکه ځمونږ استاذان معنی د شاهد او ګواه کوی چې "والعصر" ګواه ده زمانه ... دا شواهد قران کريم د اثبات د دعوې دپاره پيش کوی ... نو دا څلور څيزونه دپاره د اثبات د دعوې شو .

## وضاحت د دعوی دپاره

قران کريم چې مسئله ثابته کړی نو بيا واضحه کړی چې د چا زړۀ کښې څه قسمه پټوالې وی او خفاء وی چې لرې شی د هغې دپاره قران مثال او تنوير ذکر کوی . مثال د پوهې او وضاحت دپاره په هر ژبه کښې ضروري څيز ګڼرلې شی قران هم امثله ذکر کوی او دويم تنوير بر دعوی چې د دعوی څنې اړخونه او طرفونه مخاطب منی نو

د تنویر روشنایۍ دپاره دعوی دوباره ذکر کړی چې دغه منې نو دا هم اومنۍ دیته تنویر وائی .

## الموعظة الحسنة

دویمه طریقه د قران کریم د دعوت ده موعظه حسنه ځکه ستا مخاطب به کله داسې وی چې د دلیل طالب به نۀ وی او نه به په دلیل پوهیږی نو هغۀ ته د ترغیب او ترهیب په طریقه بیان اوکړه چې زړۀ ئی نرم شی او د خپل عزت او بدن خیال ورسره پیدا شی او د خپلې فائدې دپاره فکر مند دیته موعظة حسنه وئیلې شی په موعظة حسنه کښې څو څیزونه وی چې هغې ته د منکرینو د اصلاح طریقی وئیلې شی، زجر، تخویف، بشارت، تزهیدمن الدینا، التحذیر عن وسوسة الشیطان، الابتلاء بالنعم والنقم.

### زجر

زجر په لغت کښې رټنې ته وائی د قران په اصطلاح کښې " طرد المنکرین علی افعالهم واقوالهم واحوالهم القبیحة" انکارکونکي د دعوی لره منع کول او شړل د هغوئ د بدو خبرو او کارونو او قبیح احوالو نه "

" *منکرین دعوی کو انکی ناجائز حرکات اور نا معقول مطالبات پر اللہ کی طرف سے جھڑکی کو زجر کہا جاتا ہے*" (نیلویؒ مراة القران)

پښتو کښې ورته مونږ زورل او رټل وایو کله د مقاصدونه په انکار باندې زورنه کله په استهزاء وغیره باندې او کله د هغوئ ته په بدو خبرو باندې زجرونه ورکوی ...

## تخويف

د تخويف معنی ده يرول ، د دعوی د نهٔ منونکو دپاره يرول چې دا دعوی اومنئ ګنې د الله تعالی ګرفت ډير مضبوط دې "دعوی منوانے کیلئے اللہ تعالی کی گرفت اور عذاب سے ڈرانے کا نام تخویف ہے" (مراة القران)

تخويف غټ په دوه قسمه دې يو دنيوی چې دنيوی عذاب نه يروی که مو اونهٔ منله نو دنيا کښې به تباه او برباد شئ لکه فلانکی چې تباه شوی وو .

دويم تخويف اخروی يعنی د آخرت د عذاب نه يرول که مو اونه منله نو د آخرت انجام به مو دا شی د برزخ عذاب هم د آخرت د ابتداء نه دې نو تخويف برزخی قران ذکر کوی نو جدا ځکه نهٔ ذکر کيږی چې د آخرت د احوالو نه دې شاه ولی اللهؒ ديته تذکير بايام الله وائی د دنيا عذاب ته او د آخرت هغې ته يعنی تذکير فيما بعد الموت وائی دا د هغهٔ اصطلاح ده .

## بشارت

د دعوی د ترغيب دپاره د هغې سره د دعوې منلو ته شوق پيدا شی نو هغې ته بشارت وائی .

بشارت لغت کښې الخبر السارّ ته يعنی خوشحالونکی خبره " الاخبار بالمحبوب يظهر اثره فی البشرة" "هغه خوښه خبره کول چې په مخ ئې اثر ښکاره شی " .

دا هم کله د دنيا وی چې په دنيا کښې به کامياب شې نعمتونه به ورکړی لکه

وَلَوْ أَنَّهُمْ أَقَامُوا التَّوْرَاةَ وَالْإِنْجِيلَ وَمَا أُنْزِلَ إِلَيْهِمْ مِنْ رَبِّهِمْ لَأَكَلُوا مِنْ فَوْقِهِمْ وَمِنْ تَحْتِ أَرْجُلِهِمْ مِنْهُمْ أُمَّةٌ مُقْتَصِدَةٌ وَكَثِيرٌ مِنْهُمْ سَاءَ مَا يَعْمَلُونَ المائدة:٦٦

" که دوی عمل کړې وې په تورات او په انجيل او په هغه چې نازل شويدى دوى ته د رب د دوى نه نو دوى به خوړلې وې د پاسه د دوئ نه او لاندې د خپو د دوى نه ځنې په دوى کښې يو جماعت دې برابر او زيات د دوى نه ناکاره کار کوى "

وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنْكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَى لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُمْ مِنْ بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا وَمَنْ كَفَرَ بَعْدَ ذَلِكَ فَأُولَئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ نور:٥٥

"وعده کړى ده الله د مومنانو سره ستاسو نه او چې کوى نيکى چې مشران به کړى دوى لره په زمکه کښې لکه چې هغۀ مشران کړى دى هغه خلق چې وو مخوا د دوى نه او مضبوط به کړى دوى لره په دين د دوى کوم چې هغۀ غوره کړې دې هغوئ لره او وربه کړى دوئ په بدله د ويرې د دوى کښې امن محتاجى به کوى صرف ځما او نۀ به شريکوى ځما سره يو شې او چا چې انکار اوکړو پس ددې نه نو دوى نا فرمان دى"

او کله د آخرت وى چې آخرت کښې به جنتونه درکړى داسې داسې نعمتونه به درکړى . دا برزخى راځى خو آخرت کښې حساب دې .

## تزهيد من الدنيا

د دعوى نه رکاوټونه او موانع ډير دى يو د هغې نه دنيا ده او د دنيا محبت دې چې کله د دنيا د مال دولت او جاه او بال بچ محبت زړۀ ته

کوز شي نو هغه به مسئلې منلو ته نهٔ تیاریږی نو د هغې دپاره قران کریم د دنیا تزهید او بې رغبتی ذکر کوی چې د زړهٔ نه د دنیا محبت اوباسئ . دا په مختلف اندازونو ذکر کوی او ورسره ترغیب الی الاخرة ذکر کوی چې ددې په ځائ باندې آخرت ته توجه اوکړئ لکه

زُيِّنَ لِلنَّاسِ حُبُّ الشَّهَوَاتِ مِنَ النِّسَاءِ وَالْبَنِينَ وَالْقَنَاطِيرِ الْمُقَنْطَرَةِ مِنَ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ وَالْخَيْلِ الْمُسَوَّمَةِ وَالْأَنْعَامِ وَالْحَرْثِ ذَلِكَ مَتَاعُ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَاللَّهُ عِنْدَهُ حُسْنُ الْمَآبِ ال عمران:١٤

" خائسته شوی ده خلقو ته مینه د خوند د څیزونو چې ښځې او ځامن او خزانې جمع کړې شوی دی د سرو زرو نه او د سپینو او اسونه نشان دار او څاروی او فصل دې دا سامان د ژوند نزدې دې او د الله په نیز ښهٔ ځای دې"

## التحذير عن وسوسة الشيطان

د نهٔ منلو دویم رکاوټ هغه د شیطان تابعداری او د هغهٔ د وسوسې پسې تلل که هغه شیطان انسی وی او که جنّی وی نو شیطان دشمن دې ورسره دشمنی اوکړئ او غلط ماحول هم دشمن دې نو د غلط ملګری د تابعدارئ نه ځان اوساتئ . د دواړو نه قران منع کوی لکه

يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّ وَعْدَ اللَّهِ حَقٌّ فَلَا تَغُرَّنَّكُمُ الْحَيَاةُ الدُّنْيَا وَلَا يَغُرَّنَّكُمْ بِاللَّهِ الْغَرُورُ (٥) إِنَّ الشَّيْطَانَ لَكُمْ عَدُوٌّ فَاتَّخِذُوهُ عَدُوًّا إِنَّمَا يَدْعُو حِزْبَهُ لِيَكُونُوا مِنْ أَصْحَابِ السَّعِيرِفاطر:٥،٦.

" اې خلقو! بې شکه وعده د الله حقه ده نو دوکه دِ درنهٔ کړی تاسو لره ژوند لنډ او دوکه دَ نه کړی تاسو لره په الله دوکه ورکونکې یقینا شیطان ستاسو

دشمن دې نو اوګنړئ تاسو هغۀ لره دشمن بې شکه بلې دې ډله خپله چې شي دوزخيان "

غلط ماحول هم شيطان دې نو د غلط ماحول نه ځان اوساتئ لکه

وَإِذَا رَأَيْتَ الَّذِينَ يَخُوضُونَ فِي آيَاتِنَا فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ حَتَّى يَخُوضُوا فِي حَدِيثٍ غَيْرِهِ وَإِمَّا يُنْسِيَنَّكَ الشَّيْطَانُ فَلَا تَقْعُدْ بَعْدَ الذِّكْرَى مَعَ الْقَوْمِ الظَّالِمِينَ الانعام:٦٨

" او کله چې تۀ اووينې هغه خلق چې بحث کوی په آيتونو ځما کښې پس مخ واړوه د دوی نه تردې پورې چې بحث شروع کړی په بله خبره کښې او که هير کړی لتانه شيطان پس مه کښينه روستو د نصيحت نه سره د ظالمانو"

## الابتلاء بالنعم والنقم

الله تعالی په نۀ منونکو کله ښۀ حالت راولی نعمتونه خوشحالئ چې دوئ شکر اوباسی او کله سختئ عذابونه چې دوئ را اوګرځی ديته ابتلاء بالنعم والنقم وائی.

وَقَطَّعْنَاهُمْ فِي الْأَرْضِ أُمَمًا مِنْهُمُ الصَّالِحُونَ وَمِنْهُمْ دُونَ ذَلِكَ وَبَلَوْنَاهُمْ بِالْحَسَنَاتِ وَالسَّيِّئَاتِ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ - سورة الاعراف : ١٦٨

" او کړۀ مې دوی لره په زمکه کښې ډلې ، ځنې په دوی کښې نيکان دی او ځنې نه دی داسې او ازمينبت مې اوکړو په دوی په خوشحالو او په تکليفونو سره اميد دې چې دوی واپس شی "

## دعوة بالجدال

دريمه طريقه د دعوت هغه دې دعوت بالجدال ځکه د قران کريم مخاطب کله داسې وی چې د هغۀ په زړۀ کښې ستا د خبرې خلاف

خبره هم وی او ستا په خبره اعتراضات شکونه شبهات او نیوکې لری نو دا ختمول د هغهٔ د شکونو شبهاتو جوابات ورکول کله په توحید اعتراضات وی کله به قران کله رسول او کله په آخرت نو په مقاصد به اعتراضات کوی نو د هغه دا اعتراضات په احسن طریقه ختم کړه سنجیدګئ طریقې سره مقابله اوکړه د احمقانو سره حماقت مهٔ کوئ. په توحید اعتراضات او شبهات دی د دوئ دلیلونو ته مونږ شبهات وایو ځکه هغه څهٔ دلیل خو نهٔ وی هغه شبهات رد کوی لکه حوامیمو کښې شبهات رد کوی دا انعام وغیره کښې چې مونږه د مشرانو په دین یو کله قیاس فاسد کوی کله په تقدیر دلیل نیسی شیخ القران علیه الغفران العرفان کښې تفصیل کړې دې دیته دعوت بالجدال وئیلې کیږی چې پدې دریو دعوتو هم اونهٔ منی نو په بهترین انداز بیان اوشو نو اوس مباهله اوکړه.

## الاموِرالممدّہ للداعی

دا مخکښې تولې خبرې داعی محنت کولو چې چاته مسئله بیانوی نو د هغهٔ سره خواری کوی چې اومنی. نو داعی هم انسان دې نو زړهٔ ته خفګان وغیره راځی چې دا څهٔ څهٔ کوم او دوئ څهٔ کوی. نو قران داسې امور ذکر کوی چې هغه د داعی دپاره په میدان د دعوت کښې مفید وی. دا په مکی سورتونو کښې زیات وی ځکه مکی سورتونو کښې مکی جهاد د دعوت تذکره زیاته وی. هغه څو څیزونه دی (١)

الامور المصلحة ـ(٢) التسلية ـ(٣) التشجيع ـ(٤) القصص ـ(٥) العقبات .

## الامورالمصلحة

ددې نه مراد هغه اعمال او كارونه چې شخصى دى يعنى د داعى د ذات سره تعلق لرى چې غم او خفګان راځى نو دا نيک کارونه کوه چې زړهٔ دِ مضبوط وى نو الله تعالى سره به تعلق مضبوط وى نو د هغه د طرف نه به كلكون راځى . دا مونځ ، روژه ، حج ، زكوٰة ، استغفار ، ذكر ، صبر وغيره دا اعمال ذكر كوى چې دې سره ربط او تثبت نصيب شى . لكه

وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ وَمَا تُقَدِّمُوا لِأَنْفُسِكُمْ مِنْ خَيْرٍ تَجِدُوهُ عِنْدَ اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌبقرة:١١٠

''او كوئ مونځ او وركوئ زكوة او څه چې اوليګئ تاسو مخکښې د ځان خپل دپاره څه نيكى نو بيا به ئې مومئ په نزد د الله تعالى يقينا الله تعالى هغه چې كوى تاسو ئې وينئ ''

### التسلية

داعى پريشانه شى مصائب پرې راځى خلق ورته بدې ردې وائى نو الله تعالى ورله تسلى وركوى چې زغم كوه برداشت كوه دا ځما دپاره دي د نورو انبياء تذكره ورته اوكړى چې هغوئ هم دا مصائب برداشت كړى دى لكه

قَدْ نَعْلَمُ إِنَّهُ لَيَحْزُنُكَ الَّذِي يَقُولُونَ فَإِنَّهُمْ لَا يُكَذِّبُونَكَ وَلَكِنَّ الظَّالِمِينَ بِآيَاتِ اللَّهِ يَجْحَدُونَ (٣٣) وَلَقَدْ كُذِّبَتْ رُسُلٌ مِنْ قَبْلِكَ فَصَبَرُوا عَلَى مَا كُذِّبُوا وَأُوذُوا حَتَّى أَتَاهُمْ نَصْرُنَا وَلَا مُبَدِّلَ لِكَلِمَاتِ اللَّهِ وَلَقَدْ جَاءَكَ مِنْ نَبَإِ الْمُرْسَلِينَ انعام:٣٣،٣٤

”يقينا پوهيږم په دی چې خفه کوی تاله هغه خبرې چې وائی دوئ يقينا دوی نه دروغژن کوی تاله ليکن دا ظالمان د آيتونو د الله نه انکار کوی او دروغژن کړی شوی دی ډير رسولان مخوا ستانه نو صبر اوکړو دوی په دروغژن کيدو او په ضرر تردې چې راغې دوئ ته امداد ځمونږه او نشته بدلونکې د حکمونو د الله او يقينا راغلی دی تاته څه واقعات د پيغمبرانو“

## التشجيع

د تشجيع معنی ده بهادر کول يعنی داسې امور بيانول چې په تبليغ کښې نور هم جرأت پيدا کړی د تيرو انبياء مصائب بيانول چې په هغې سره د زړۀ سوری او دراړونه بند شی لکه سورة قصص کښې واقعه د موسی ﷷ چې پاڅه په بهادرئ سره مسئله بيان کړه نو ديته تشجيع وائی .

## القصص

په دعوت کښې د ترغيب دپاره واقعات او قصص بيان شی د کڼرو عبرتونو دپاره د قصص بيانولو ډير فوائد وی ځنې قران کريم بيانوی لکه

وَكُلًّا نَقُصُّ عَلَيْكَ مِنْ أَنْبَاءِ الرُّسُلِ مَا نُثَبِّتُ بِهِ فُؤَادَكَ وَجَاءَكَ فِي هَذِهِ الْحَقُّ وَمَوْعِظَةٌ وَذِكْرَى لِلْمُؤْمِنِينَ هود:١٢٠

" او دا ټول بیانوم تاته واقعات د رسولانو هغه چې تسلي پرې درکړم زړهٔ ستاته او راغلي دي تاته په دې سورت کښې حق او وعظ او نصیحت دپاره د مومنانو "

قَدْ كَانَ فِي قَصَصِهِمْ عِبْرَةٌ لِأُولِي الْأَلْبَابِ مَا كَانَ حَدِيثًا يُفْتَرَى وَلَكِنْ تَصْدِيقَ الَّذِي بَيْنَ يَدَيْهِ وَتَفْصِيلَ كُلِّ شَيْءٍ وَهُدًى وَرَحْمَةً لِقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ

یوسف:١١١

" یقینا دې په بیان د دوی کښې عبرت عاقلانو لره نه دې قران د ځانه جوړه خبره لیکن تصدیق د هغه کتاب چې مخکښې وو ددهٔ نه او تفصیل د هرشی دې او خودنه ده او مهربانی ده د هغو دپاره چې ایمان راوړی"

**العقبات**

عقبه غونډئ ته وائی داعی چې کله د دعوت په میدان کښې قدم کیږدې نو پدې باندې امتحانات راځی چې هغه امتحانات پاس کړی نو د کامیابئ مقام ته به اورسی هغه شپږ امتحانات دی چې سورة الانعام ئې بیانوی استاذان ورته عقبات سته وائی.

## پنځمه خبره چې بیان اوکړې نو څه به اوشی ؟ یعنی اثر د قران کریم

چې کله تهٔ په دغه انداز بیان کوی نو څه اثر به کوی نو ستا مخاطب به دوه قسمه وی یو چې د هغهٔ په زړهٔ کښې تخم د هدایت وی طلب محبت او شوق وی دویم هغه چې هغهٔ کښې تخم د ضلالت او ګمراهئ وی مرض او شک وی نو چې بیان کوی ستا بیان فضول نهٔ ځی ځکه د انابت والا ته به هدایت ملاؤ شی بیا هم بیان کوه د

هدايت والا هدايت به زيات شي استقامت به ورته ملاؤ شي بيا هم بيان كوه دا نه چې ضرورت نشته دې استقامت والا ته به ربط القلب ملاو شي نو دا د هدايت مراتب شو دا كليات شو ددې ډير مراتب دي نو دا خلق به هم ستا د بيان نه بې حاجته او ماره نهٔ وي .
دا مراتب كله قران ځانله ځانله ذكر كوي او كله يو ځائ ذكر شي د نمونې دپاره

نَحْنُ نَقُصُّ عَلَيْكَ نَبَأَهُمْ بِالْحَقِّ إِنَّهُمْ فِتْيَةٌ آمَنُوا بِرَبِّهِمْ وَزِدْنَاهُمْ هُدًى (١٣) وَرَبَطْنَا عَلَى قُلُوبِهِمْ إِذْ قَامُوا فَقَالُوا رَبُّنَا رَبُّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ لَنْ نَدْعُوَ مِنْ دُونِهِ إِلَهًا لَقَدْ قُلْنَا إِذًا شَطَطًا كهف:١٣،١٤

" مونږ بيانوو تاته خبر د دوی په رشتيا يقينا دوی هلكان دی چې ايمان ئې راوړې دې په رب خپل او ما زيات كړې دې د دوی هدايت او ټاپه مِ لګولی ده په زړونو د دوی كله چې دوی اودريدل نو اووې دوی رب ځمونږه رب د اسمانونو او د زمكې دې هيڅ كله نهٔ بلو سيوا د هغهٔ نه بل اله يقينا به اووايو په دغه وخت غلطه خبره"

دويم ستا مخاطب چې شكی وو نو بيان كوه چې شك ئې زائله شي ځكه مرض لا په اول مرتبه كښې دې كه علاج اونكړی نو ضلالت به راشي ګمراه به شي بيا هم بيان كوه كيديشي علاج اوكړی خو چې كله پس د بيان نه علاج اونكړی نو جدال شروع كړی د حق پرست سره جنګ شروع كړی تهٔ بيا هم بيان كوه كيديشي واپس شي توبه كړی خو بيا هم توبه اونهٔ باسی نو مهر به پرې اولګی او حجت به پرې قائم شي دا څلو مراتب د ضلالت شي دا هم كله قران ځان ځانله ذكر كوی كله يو ځائ

وَلَقَدْ جَاءَكُمْ يُوسُفُ مِنْ قَبْلُ بِالْبَيِّنَاتِ فَمَا زِلْتُمْ فِي شَكٍّ مِمَّا جَاءَكُمْ بِهِ حَتَّى إِذَا هَلَكَ قُلْتُمْ لَنْ يَبْعَثَ اللَّهُ مِنْ بَعْدِهِ رَسُولًا كَذَلِكَ يُضِلُّ اللَّهُ مَنْ هُوَ مُسْرِفٌ مُرْتَابٌ (٣٤) الَّذِينَ يُجَادِلُونَ فِي آيَاتِ اللَّهِ بِغَيْرِ سُلْطَانٍ أَتَاهُمْ كَبُرَ مَقْتًا عِنْدَ اللَّهِ وَعِنْدَ الَّذِينَ آمَنُوا كَذَلِكَ يَطْبَعُ اللَّهُ عَلَى كُلِّ قَلْبِ مُتَكَبِّرٍ جَبَّارٍ مومن: ٣٤،٣٥

" او یقینا راوړی وو تاسو ته یوسف ؑ ښخوا صاف دلیلونه نو همیشه وئ تاسو په شک کښې د هغه نه چې راوړې ئې وه تاسو ته تردې چې کله وفات شو نو اووې تاسو چې هیڅ کله به راونه لیږی الله روستو د هغهٔ نه رسول ددې شرک د وجې نه غلطوی الله هغه څوک چې هغه ظالم شکی وی دوی هغه دی چې جګړه کوی په آیتونو د الله تعالی کښې بې د دلیل نه چې راغلې دې دوی ته لوئ دې دا سرې په غضب کښې په نیز د الله او په نیز د مومنانو ددې جګړې د وجې نه مهر وهلې دې الله په هر زړهٔ د متکبر ظالم باندې "

مرتاب یو ، یضل دویم ، یجادلون دریم ، یطبع څلورمه مرتبه شوه .

دا هغه اصول شو چې تعلق ئې لرلو د کل قران کریم سره اوس هغه اصول چې تعلق لري د فهم د سورت سره .

## دویم قسم اصول اصول د زده کولو د سورت

د هر سورت د زده کړې دپاره د هر سورت نه مخکښې پنځه خبرې پیژندل ضروری دي . ــ(١) ترتیب نزولی او مصحفی ــ(٢) ربط د سورت د مخکښې سره ــ(٣) دعوی د سورت ــ(٤) تقسیم او خلاصه د سورت ــ(٥) امتیازات د سورت .

## ترتیب نزولی او مصحفی

قران کریم په لوح محفوظ کښې چې په کوم ترتیب لیکلې شوې دې نو هغې ته ترتیب مصحفی او عثمانی وائی . او دنیا ته چې د ضرورت په وخت کوم راغلې دې نو هغې ته ترتیب نزولی وائی ځکه قران علاج دې نو چې مخې ته کوم مرض وو او کوم آیت د هغې مناسب وو نو هغه به راتلو که د زده کړې ترتیب یو وی د بیان بل اوس مونږه زده کړه کوو نو د فاتحې نه شروع کوو خو چې کله بیان کوو نو چې کوم ځائ کوم مرض وی نو د هغې بیان اوکړو ددې د زده کولو فائده بیان کښې هم چې اول کوم بیان کول غواړی او څه ته ضرورت دې او احکامو کښې ناسخ او منسوخ کښې هم وی .

## ربط د سورت

د یو سورت د بل سورت سره جوړ او تعلق ته ربط وائی لکه د بقرې او ال عمران څه مناسبت دې چې ال عمران ئې د بقرې نه روستو راوړو یو د نوم ربط وی بل د مضمون ربط وی . مونږ اکثر را روان قران کریم کښې د مضمون ربط بیان کړې دې آخر کښې به ان شاء الله د نوم ربط اولیکلې شی .

## دعوی د سورت

یعنی د سورت مرکزی مسئله مضمون معلومول چې دا اوږد سورت د کومې مسئلې خدمت کوی هغې ته دعوی ، مقصد ، مرکزی مضمون ، محور د سورت دا ټول نومونه اغستلې شی (۱) دعوی به

اکثر د مقاصد ثمانیو نه وی او یا د هغه تبعی مضامینو نه چې د مقاصدو سره ئې ربط زیات وی . د اوږد سورت ګنړې دعوې کیدې شی او د ګنړو مختصرو سورتونو یوه دعوی کیدلې شي . د سورت ټول آیتونه د دعوی خدمت کوی د دعوې حیثیت د سورت دپاره داسې وی لکه تخم د اونې دپاره چې په تنه پانړه څانګه کښې د هغې اثر وی دغه شان د دعوی هم په هر آیت کښې اثر وی .

## تقسیم او خلاصه د سورة

د تقسیم مطلب دا دې چې د سورت آیتونه ویشل چې په کومو کښې کومه مسئله بیانیږی دا څنو سورتونو کښې وی او څنو کښې نوی هغه ګډوډ انداز سره خپل مضمون چلوی چې د هغې مضمون مناسبت زیات وو . د خلاصې مطلب دا چې اوږد مضمون په لنډو ټکو کښې ذکر کول چې مختصر انداز سره ددې سورة اهم مضامین بیان شی او تبعی مضامین ذکر نکړې شي.

## امتیازات

یعنی په هر سورت کښې امتیازی خبرې کومې دي چې هغه په بل سورت کښې نهٔ وی دیته خصوصیات او امتیازات وائی نو ربط په منزله د مابه الاشتراک او جنس دې او امتیاز په منزله فصل دې دا پنځه خبرې هر سورت کښې پیژندل ضروري دی .

## دریم قسم اصول د زده کولو د آیت

د هر آیت په زده کړې کښې د پنځو خبرو خیال ساتل پکار دی ــ(۱) مقصد د آیت کریمه چې دې سره به د دعوې سره ربط معلوم شی چې دې آیت کښې څه دی دعوی ده که دلیل که زجر د کوم مضمونونو نه پکښې یو دې. ــ(۲) د آیت لفظی ترجمه په آسانه مورنئ ژبه کښې . ــ(۳) مختصر وضاحت د پوهې دپاره . ــ(٤) اشکال او د هغې حل که پکښې وی . ــ(٥) فقهی مسئله مختصر که پکښې وی .

### یو څو اصطلاحات

**ادخال الهی**: د مضمون په درمیان کښې د مضمون نه علاوه یوه خبره ذکر شی چې هغه ددې روان مضمون نه معلومیږی په نحو کښې ورته جمله معترضه وائی قران کښې مونږ جمله معترضه نۀ وایو بلکه ادخال الهی او فرمان شاهی ورته وایو هغه د مضمون سره څه نا څه مناسبت وی اګر چې د روان مضمون حصه نۀ وی نو ادخال الهی ورته وائی کله په هغې کښې جواب د شبهې وي.

**اعاده بعد عهد**: قران کریم یو مضمون شروع کړی نو د هغې حکم یا نتیجه بیان نۀ کړی او د هغې نور متعلقات شروع کړی نو چې بیا کله د هغې حکم او نتیجه ذکر کوی نو دوباره هغه سر د کلام رامعاد کړی دیته اعادۀ بعد عهد وائی لکه

المائده: ۱۱۰ او بیا ۱۱٦ اوګوره نو پته به اولګی اصل مقصود د اول نداء نه دا أءنت قلت للناس دې خو هغه ذکر نکړو او متعلقات شروع کړل نو هغه بیا د مقصود دپاره دوباره ذکرکړو.

**اندماج ، ادماج**: قران کریم چې واقعه ذکر کوی نو د هغې مقصودی حصه ذکر کړی او غیر مقصودی پریږدی چې په معمولی فکر سره معلومیږی دیته ادماج وائی لکه واذ قال ربك للملائکة .. نو بیا د آدم جوړخ خاوره وغیره ذکر نه کړو او وائی چې وعلّم ادم الاسماء ... داسې واقعاتو کښې ډیر وی.

**براعة الاستهلال**: قران کله اوږد مضمون په لنډو ذکر کړی چې هغې کښې راروان ټول مضمون ته اشاره وی نو داسې عبارت ابتداء کښې ذکر شی چې راروان مضمون ته اشاره وی لکه د سورت قصص ابتدائی دوه آیتونه .

**تمهید**: د مقصدی مضمون (دعوی) د بیان نه مخکښې څه خبرې ابتداء کښې ذکر کول چې هغې ته ذهن برابر کړی چې قبلول ئې آسان شی لکه د سورت البقرې شل آیتونه داسې هر سورت کښې تمهید په طور څه آیتونه وی .

**ثمره**: چې کله مقصودی مسئله د دلیلونو نه مخکښې ذکر شی نو ورته دعوی وائی او چې کله دلائل بیان شی او بیا دعوی یا د دعوی څه حصه ذکر شی نو هغې ته ثمره او نتیجه وائی.

# د قرآن کریم خلاصه

د پوهې په اعتبار قران کریم څلور حصې دې اوله حصه د انعام تر ابتداء یعنی د مائدې تر ختمه پورې چې دیکښې بیان دې د خالقیت د اللّٰه تعالی دویمه حصه د انعام د ابتداء نه تر بنی اسرائیل تر ختمه پورې پدې کښې بیان د تربیت د اللّٰه تعالی دریمه حصه د کهف نه تر احزاب تر ختمه پورې دیکښې د برکت مسئله ذکر کوی څلورمه حصه د سبا نه تر آخره دیکښې د مالکیت مسئله ذکر کوی او د قیامت مسئله ذکر کوی.

هره حصه په الحمدللّٰه سره شروع کیږی . د اللّٰه تعالی د پیژندګلو څلور غټې طریقې دی یو خالقیت چې د نیشت نه شتهٔ کونکې دې او دویمه طریقه د شتهٔ کولو نه ورستو تربیت کونکې هم اللّٰه تعالی دې او دریمه طریقه چې خیرونه او برکتونه ورکونکې هم اللّٰه تعالی دې څلورمه طریقه چې مالک اختیارمند د دنیا او آخرت کښې هم هغهٔ دې نو دا څلور طریقې په څلور حصو کښې ذکر کوی نو ځکه قران څلور حصې شو.

مختصری طریقې سره اصول او اصطلاحات بیان کړې شو چې راروان قران کریم کښې کوم مضامین لیکلې شوی دی هغې کښې به مددګار وي تفصیل او د مسئلې اثبات وغیره باندې اصول کښې زور ندې ورکړې شوې . صرف د اصطلاحاتو وضاحت کړې شوې دې د اصولو اصطلاحاتو د شیوخو طرز او د آیتونو مناسبت طریقه په آسانه خودلې شوې ده د ربط او ضبط خیال ساتلې شوې وی د

نمونې دپاره يو آيت دوه خودلې شوى دي چې يادول آسان شي . الله تعالى دى مفيدعام اوګرځوى او په خپل دربار کښې د خپلى رضاء ذريعه اوګرځوى آمين يا رب العالمين .

✤✤✤

بسم الله الرحمن الرحیم

## د سورتونو د نومونو ربط

د الله تعالی کتاب عجیبه کتاب دې او په عجیبه طرز ئې خدمتونه شوي دي یو بل سره لکه دزنځیر تړلې شوې دې سورتونه او آیتونه ئې د یو بل سره تړلي شوي دي د مولانا حسین علیﷺخدمت پدې دور کښې د تخم حیثیت لري د هغهٔ شاګردانو په عجیبه عجیبه طرز خدمتونه اوکړل د آیتونو ربطونه د سورتونو ربطونه اولیکلې شو بیان شو په هغې کښې یو طرز وو ربط اسمی د قران د سورتونو د نومونو یو بل سره مناسبت دا د شیخ القران مولانا غلام الله خان صاحب طرز وو د هغهٔ خصوصی شاګردان په درسونو کښې ددې بیان کوی او ځما په استاذانو کښې ځما ډیر ګران استاذ شهید ناموس صحابه شیخ التفسیر والحدیث مولانا محمد حسین نیلوی ﷺ به په عجیبه انداز بیانولو او ځما محترم محبوب استاذ شیخ القران والحدیث علامه غلام حبیب صاحب هزاروی ﷺ په درس کښې هغه بیانولو نیلوی صاحب ﷺ به اردو کښې او شیخ ویسهرح به په عربئ کښې بیانولو دلته د دواړو په طرز پښتو کښې لیکلې کیږی د استاذانو د طرز دپاره او د بصیرت د سیوا کیدلو دپاره.

په تسمیه کښې تلقین او تعلیم ددې خبرې چې د هرکار په شروع کښې صرف د الله تعالی نه مدد اوغواړئ نو په **فاتحه** کښې ځمونږ وعده چې صرف ستا عبادت به کوو نه د بل چا او په خپلو ټولو

حاجتونو کښې به صرف ستا نه مدد غواړو نه که د بل چانه نو په **بقره** کښې پدې پوهه کوی چې د غوانه مدد مهٔ غواړئ او مهٔ ئې بندګی کوئ لکه چې بهودو کوله او د نصارؤ غوندې هم مهٔ کیږئ چې هغوئ د **ال عمران** بندګئ کوله او مدد ئې ترینه غوختلو . او د خپل جماعت او تنظیم قائم او مضبوط ساتلو دپاره د کمزورو حقونه خصوصا د زنانو **نساء** په شرعی طریقې سره اداء کړئ چې کله مو داسې اوکړل نو الله تعالی به دربانډې د خیروبرکت **مائده** نازله کړی خو پدې شرط چې په **انعام** او فصلونو کښې به د غیر الله حصه نه منئ او د ځان نه پدیکښې تحریمات نهٔ کوئ نو الله تعالی به مو د دوزخ نه څه چې د **اعراف** نه هم بچ کړی او چې د کافرو سره ددې مسئلې دپاره جهاد کوئ نو **انفال** غنیمتونه به درکړی . او د **توبې** او براءت د مشرکان به توفیق درکړی لکه چې قوم **یونس** له ورکړې شوې وو، نو بیان او تبلیغ داسې اوکړئ لکه چې د **هود** والو کړې وو او **یوسف** په جیل کښې دا دعوت د توحید چلولې وو او دا اهمه مسئله **رعد** او نورې فرشتی هم بیانوی . **ابراهیم** هم خپل اولاد په واد غیر ذی زرع کښې ددې مسئلی دپاره پریخودل او د توحید اعلان ئې کړې وو . دائې د منلو وخت دې نو اومنئ ګنې بیا به لکه د **حجر** والو ارمان کوئ . خو هلاک شو چې نه وه منلې که ددې نه عبرت نهٔ اخلئ نو د **نحل** د حال نه عبرت واخلئ که عبرت مو وانغستلو نو لکه د **بنی اسرائیلو** چې فساد ئې کولو نو تباه شو تاسو به هم تباه شئ

او که چرته دا مسئله مو اومنله نو داسې مدد به درله اوکړی او ربط القلب به درله په زړونو راولی لکه د اصحب **کهف** او **مریم** او صاحب **طه** او د ټولو **انبیاء** کرامو علیهم الصلوٰت والسلام . د **حج** هم دا تعلیم دې چې عقیده او عمل د شرک نه پاک کړئ لکه د **مومنانو** هم دا صفت وی ، د مومنانو کامیابی په هغه **نور** ده چې په کوم باندې الله تعالی **فرقان** نازل کړې دې او دا د **شعراء** کلام ندې او د **نمل** او هدهد هم دا بیان دې نو **قصصُ** د موسیؑ ته اوګوره کامیابی به ستا وی په غیرالله اعتماد کونکې داسې دې لکه د **عنکبوت** او غلبه به درته نصیب شی لکه د **روم**، نو دغلبې مسئله د توحید لکه د **لقمان** بیان کړه چې د **سجدة** د **احزاب** صرف د الله تعالی دپاره شی ( لیکون الدین کله لله) که دوئ نه منی نو داسې به تباه شی لکه قوم **سبا** چې تباه شو . ځکه چې دوئ صرف **فاطر** ذات ته رامدد شه نه وائی ، نو لکه د صاحب **یسین** په نرتوب مسئله بیان کړه چې اوګوره عاجزی د **صافات** او د **ص** والو مصیبتونه د **زمر** د مشرکانو به کمزوری شی په دعوت او تبلیغ د **مومن** سره او **سجده** به د یو الله تعالی اوکړی خو چې ستاسو **شوری** برابر وی . دا اهم کار دې دنیا خو داسې ده لکه **زخرف** اعتماد کونکې پرې داسې دې لکه په **دخان** اعتماد کونکې او په آخرت کښې به **جاثیة** شی نو په **احقاف** لکه د **محمد** د **فتح** اعلان اوکړه په شرط د قوانینو د **حجرات** او **ق** ، شی به کافر **ذاریات** په استقامت د صاحب **طور** اوبه ځلیږې پشان د

**نجم** او **قمر** په فضل د **رحمن** په ورځ د **واقعه** باندې . او استعمال کړه **حدید** په ورځ د **مجادله** کښې نو شی به مات په اول **الحشر** په اصولو د **ممتحنه** باندې او په **صف** د قتال لکه د یوم **الجمعة** ، او **منافقون** به په ورځ د **تغابن** تاوانیان او خسران د امر شی پشان د **طلاق** والو. نو اې هغه ذاته چې اختیار د **تحریم** او **ملک** د هر یو څیز د هغه په لاس کښې دې په **قلم** د لوح محفوظ مونږ نیک بخته او سعیدان کړه په ورځ د **حاقة** باندې اې ذا**المعارج** ذاته ، نو بیان اوکړه د مسئلې لکه د **نوح** او د **جنّ** او اې **مزمله** په قران ملګرې تیار کړه اې **مدثره** د رب لوئې بیان کړه چې په ورځ د **قیامة** باندې د **دهر** نعمتونه حاصل کړې او د هلاکتونو د **مرسلات** نه بچ شی نو چې کله **نبأ** د **نازعات** اولګی نو **عَبَسَ** به شي د **تکویر** او د **انفطار** د وجې **مطففین** او د وجې د **انشقاق** د آسمان ذات **البروج** نه نو لکه د **طارق** د شپې د رب **اعلی** تسبیح بیان کړه چې د **غاشیې** نه بچ شې نو په وخت د **فجر** کښې په **بلد** کښې **شمس** د قران بیان کړه چې **لیل** په **ضحی** بدل شي او **انشراح** د صدر د پشان د صاحب **تین** نصیب شې نو اې د **علق** نه انسان پیدا کونکیه مونږ ته **قدر** د **بینة** نصیب کړه چې په یوم **الزلزال** نشو افسوس کونکي . او کړه مونږ ستا په تابعدارئ کښې لکه **عادیات** چې په امن شو د مصیبت د **قارعې** نه او مهٔ غافله کوه مونږ په **تکاثر** سره او کامیاب کړه په اعمالو د **عصر** سره او بچ کړه مونږ د بدعملو د **همز** او اصحب **الفیل** او د شرک د

**قریشو** او د **ماعون** نه راکړه مونږ ته اوبهٔ د **کوثر** په لاس د **محبوب** مونږه د بائیکاټ اعلان کوو د **کافرون** نه نصیب کړه ځمونږ **نصر** چې تباه شي دشمن لکه د ابی لهب او بچ کړه مونږ د **لهب** نه نصیب کړه ځمونږ **اخلاص** په هرعمل کښې اې ربّ **الفلق** او ربَّ **الناس** ستا عبادت کوو او ستانه مدد غواړو ایاك نعبد وایاك نستعین .

✤✤✤

## دا ربط اسمي په نظم کښې د مدرسه جواهر القران یو مخلص قیدی طالب العلم محمد ادریس (سوات کبل) د قلم نه

ډیــــــر حمدونـــــــه دي د پــــــاک غــــــني ســــــبحان
عجیبــــــه ئــــــې دي کتــــــاب او لــــــوئ ئــــــې شــــــان
هــــــر ســــــورة ایــــــت ئــــــې یــــــو بــــــل نــــــه زاریګــــــی
خــــــو چــــــې څــــــوک ئــــــې حقیقــــــت بانــــــدې پــــــوهیږی
دا کمــــــــــــال د مولانــــــــــــا حســــــــــــین علی دي
پــــــه ربطونــــــو کښــــــې ئــــــې یــــــو ربــــــط اســــــمی دي
بیــــــان کــــــړې ښــــــکلی شــــــیخ غــــــلام الله دي
دغــــــه طــــــرز عجیبــــــه د نیلــــــوی شــــــاه دي
مولانــــــا غــــــلام حبیــــــب هــــــم داســــــې وائي
پــــــه قــــــران کښــــــې ملغلــــــرې درتــــــه خــــــائی
ددې ټولــــــــــو خلاصــــــــــه وائی صــــــــــفا
خــــــوږ اســــــتاذ مفــــــتی عامــــــر مجتــــــبیٰ
تســــــمیه کښــــــې غــــــواړه صرف د رب امــــــداد
فاتحــــــه کښــــــې هــــــم وعــــــده اوکــــــړه عبــــــاد
چــــــې دربــــــار د حــــــاجتونو مــــــو یــــــو رب دي
سرټیټــــــــــی کــــــړه صرف الله تــــــــــه دا ادب دي
یهــــــودی نشــــــې چــــــې غــــــوا له عبــــــادت کــــــړې
نــــــه چــــــې دا پلیــــــت عمــــــل ځانلــــــه عادت کــــــړې
نصــــــارٰی نشــــــې چــــــې سرټیــــــټ کــــــړی عمــــــران تــــــه

ګني داسې به رسوا شي ټول جهان ته
د تنظيم کلکون دی اوکړه خامخا
حق ادا کړه د کمزورو او نساء
چې حقونه دی ادا کړو په شريعت
مائده به درله درکړی رب عزت
پدې شرط چې په انعام او په فصلونو
نه منختې به کوې د درګاهونو
عذاب څه کړې چې به بچ شی د اعراف
چې په دې مسئله اوکړو چا جهاد
رب به درکړی خهٔ انفال غنيمتونه
توبه اوکړه بس کړه پريده ګناهونه
چې توبه او براءت دی شو حساب
قوم يونس غوندې به بچ شې له عذاب
تبليغ اوکړه مسئله د هود پشان
لکه يوسف توحيد بيان کړه په زندان
رعد فرشته هم دا کوی اعلان
ابراهيم بچی پريدی په بيابان
نن ئې ومنه دا وخت دې بيا به نه وی
لکه کړې به بيا د حجر لوئ ارمان
راشئ واخلئ لګ د نحل نه عبرت
فساد مهٔ کوئ شئ غرق به په ذلت

بنی اسرائیل غونډې به تاسو هم تباه کړی
پریخودل د مسئلې دې لوئ ذلت
مسئله او منه بس کړه تابعدار شه
ربط القلب به دِ نصیب شی لګ هوښیار شه
لکه کهف او مریم طٰهٰ ته ګوره
د تمامو انبیاؤ په کردار شه
حج کښې وائی عقیده عمل دی صاف کړه
مومنون کښې مومنانو خهٔ اوصاف کړه
کامیابی دی ده په نور کښې په جهان
صاف وئیلی دی اللّٰه پدې فرقان
دا توحید د شعراؤ کلام ندې
څکه نمل او هدهد وائی دا خهٔ دې
تسلی کړه په قصو د موسٰی
اعتماد د مشرک دې لکه جولا
عنکبوت کښې لګ برداشت کړه امتحان
آخرفتحه به وی ستا لکه رومیان
مسئله د غلبې کوه لقمان شه
په سجده او په احزاب کښې د رحمٰن شه
ګنې شې به تل تباه لکه سبا
چې فاطر ذات ته ته نهٔ وائی اله
مسئله لکه یسین په جوش بیان کړه

عاجـــزی هـــم د صٙـــفٙت والـــو پښـــان کـــړه
کــــــړه رایــــــاد د ص والــــــو تکلیفونــــــه
چـــې زمـــر د مشرـــک نـــه کـــړی راحتونـــه
پـــه تبلیـــغ د مـــومن صرف ســـجده الله تـــه
چـــې حـــاضروی هـــر ســـړې خپلـــې شـــوړی تـــه
کار پرینګـــــدې چـــــې زخـــــرف دې دا جهـــــان
اعتمـــاد پـــرې داســـې دې لکـــه دخـــان
آخـــرت کښـــې جاثیـــه بـــه شی تمـــام
پـــه احقـــاف د محمـــد وکـــړه اعـــلان
فتحـــه شـــته خـــو حجـــرات ق قـــوانین کـــړه
تـــول کافـــر پـــرې زاریـــات زیـــرو زمـــین کـــړه
مســـتقیم صـــاحب طـــور شـــه خـــۀ پـــوهیږې
چـــې د نجـــم او قمـــر غونـــدې ځلیـــږی
هـــم رحمٰـــن درسره مـــل دې واقعـــه کښـــې
چـــې ګـــذار د حدیـــد اوکـــړې مجـــادله کښـــې
پـــه اول حشرـــ بـــه مـــات شی لښـــکرونه
پـــه اصـــول ممتحنـــو تـــول فوجونـــه
پـــدې صـــف د القتـــال یـــوم الجمعـــة کښـــې
منـــافق بـــه تـــاوانی او شرمنـــده کښـــې
بیـــا پـــه ورځ د تغـــابن بـــه شی فـــراق
پـــه خسرـــان بـــه شی پښـــان د طـــلاق

ســــتا پــــه لاس دي د تحــــريم او ملــــك اختيــــار
پــــه قلــــم د لــــوح مــــونږ اوليكــــه مختــــار
پــــــه حاقــــــة ذاالمعارجــــــه فنــــــارا
كــــړه توحيــــد راتــــه د نــــوح او جــــن عطــــا
مزمــــلَ پــــه قــــران خلــــق تيــــار كــــړه
مــــدّثرَ د الله لــــوئی بــــار كــــړه
پــــه قيامــــت كښــــې را د دهــــر نعمتونــــه
رانــــه لــــر كــــړه مرســــلت هلاكتونــــه
چــــې نبــــأ د نــــازغات شی يــــو گفتــــار
عــــبس شی پــــه تكــــويرا و انفطــــار
دغــــه تــــول مطففــــين بــــه شی غــــروب
انشــــقاق او پــــه آســــمان ذات الــــبروج
شــــه طــــارق د شــــپې اعلی تســــبيح بيــــان كــــړه
غاشــــيې نــــه شــــه بــــچ فجــــر كښــــې قــــران كــــړه
پــــه بــــلد كښــــې شــــه شــــمس ليــــل بــــه دی ضــــحٰی شی
صــــاحب تــــين شــــان بــــه دی صــــدر انشرــــاح شی
اې د علــــق نــــه خــــالق د انســــان
مــــونږ تــــه قــــدر بينــــة كــــړه را عيــــان
چــــې پــــه ورځــــې د زلــــزال نــــه كــــړو ارمــــان
تابعــــدار مــــو عاديــــات كــــړه پــــه قــــران
امــــن را د قــــارعې د مصــــيبت نــــه

مــــونږه بـــچ کـــړه تکـــاثر او د غفلـــت نـــه
پـــــه اعمـــــالو د العصرـــــــکړو اقــــرار
بـــچ کـــړه مـــونږ د همـــزه فیـــل د کـــردار
د قریشــــو شرك مـــاعون نـــه مـــو کـــړه لــــر
اوبـــــهٔ را پـــــه لاس د خپـــل محبـــوب کـــوثر
بـــائیکاټ د کافــــرون کـــــړو نَصَرـــــ راکــــړه
پـــه لهــب کښــي د توحیــد دشـــمن تبـــاه کـــړه
چـــي ســـتا خـــوښ شی پـــه اخـــلاص شی مصـــطفیٰ
هـــم قریـــب شی هـــم شی تاتـــه مجتـــبیٰ
اي ځمـــــونږ رب الفلـــــق د هـــــر شرنـــــه
رب النـــــاس پنـــــاه غـــــوارو زورور نـــــه
امـــداد غـــوارو ســـتا عبـــاد یـــو خـــهٔ قـــویم
مـــونږه کلـــک کـــړي پـــه صراط مســـتقیم
کـــړه عمـــل ځمـــونږ قبـــول پروردګـــاره
لـــړي نکـــړي مجـــروحی د خپـــل دربـــاره
خـــوږ اســـتاذ مـــو زر رهـــا کـــړي له زندانـــه
اي رحیمـــــه اي رحمانـــــه اي ســـــبحانه

✤✤✤

## د ټول قران کریم لنډه خلاصه

په تسمیه کښې مسئله ده چې صرف د الله په نوم مدد اوغواړئ

**فاتحه**: کښې مسئله د توحید ځکه چې د الوهیت او خدائتوب ټول صفتونه صرف د الله تعالی دي نو

**بقره**: کښې څلورمسئلې چې اې انسانانو صرف د هغه الله بندګی اوکړئ او رسالت د نبی ﷺ اومنئ او ددې مسئلو دپاره جهاد او انفاق اوکړئ د الله د شمنانو سره اوجنګیږئ.

**ال عمران**: کښې جواب د شبهاتو چې که دوئ شبه کوی چې عیسیٰ ﷺ ابن الله دې نو جواب اوکړه چې پدې تاسو نه پوهیږئ او دا دس من البغات دې اوګوره هغه او د هغۀ خاندان ټول الله تعالی ته عاجزان دی دا مسئله په تعلیم د نبی ﷺ اومنئ چې څوک د هغه تابعداری نۀ کوی نو هغۀ کښې خباثتونه دی په هغۀ پسې مۀ ځئ او ددې مسئلو د خدمت دپاره تنظیم برابر کړئ جهاد او انفاق اوکړئ.

**النساء**: کښې د جهاد او انفاق دپاره اې مومنانو خپله معاشره وړه او غټه په دې احکامو برابر کړئ شپاړس احکامات د وړې معاشرې او نهۀ احکامات د غټې معاشرې

**مائده**: کښې چې معاشره سمه شوه نو حلال د الله حلال اوګنړئ د ځان نه تحریمات مۀ کوئ او د غیرالله منختې مۀ خورئ نو د خوراک د مجاهد اصلاح ده

**انعام**: کښې د هر قسمه شرک او د مشرک رد چې عقیده او عمل د شرک نه پاک کړئ

**اعراف** : کښې دا مسئلې اورسوه په بهادرئ سره او اتباع د ما اُنزل اوکړه تسلی ساته کامیابې ستا ده

**انفال** :کښې چې تا بیان اوکړو اوس هم نه منی نو ځان په پنځه صفتونو خائسته کوه او قوانین د جهاد او قتال زده کړه او جنګ ورسره اوکړه

**توبه**: کښې اعلان د قتال او هغه خلق خائی چې چاسره جنګ پکار دې مشرکان او اهل کتاب او منافقانو سره مسلمانانو ته وائی سستی مۀ کوئ جهاد اوکړئ د دغه خلقو سره

**یونس** :کښې چې عقیده د هؤلاء شفعاءنا عندالله لری نو دا هم مشرکان دي دوئ سره اوجنګیږی نو هغه مسئله چې د هغې دپاره جهاد کیدلو

**هود**: کښې چې عبادت صرف د الله تعالی حق دې ځکه هغه عالم الغیب دې نو مسئله اورسوه تسلې ساته تۀ خفه ئې کامیابی به ستا وی پدې واقعات د انبیاء کرام ذکر کوی

**یوسف**: کښې بل ځوک غیب دان او کار ساز نشته دې اوګوره لوئ لوئ انبیاء یعقوب او یوسف علیهماالسلام په غیبو نۀ پوهیږی او تسلی ساته چې کامیابی ستا ده ځکه حالك کحال یوسف د یوسف ﷺ او ستا حال یو شان دې

**رعد**: کښې وائی چې له دعوة الحق په خپلو حاجاتو کښې صرف الله رامدد کړه ځکه هغۀ له ده بلنه رشتيا نو هغه کړه رامدد او په هغې دلائل قسماقسم

**ابراهيم**: کښې ترغيب فی التبليغ چې مسئله اورسوه او څلور ځله لفظ الم اول ځل لفظ الم نه ورستو جدال المشرکين مع الانبياء دويم الم نه روستو جدال المشرکين فيما بينهم دريم ځل الم نه بعد الامثلة للفريقين څلورم ځل لفظ الم نه بعد زجر او تخويف او دليل نقلی د ابراهيم نه

**حجر**: کښې چې نۀ منی نو پښيمان به شی او د هغې نمونې.

**نحل**: کښې چې د آخرت خو پريده د دنيا عذاب راغې نو د هغې نه د بچاؤ بندوبست په توحيد اوکړئ نو د توحيد مسئله او په هغې ادله متنوعه قسماقسم دلائل ذکر کوی اول قسم ادله چې خالق لکل شئ هو الله آسمانونو ته اوګوره ځاروو او ځان ته اوګوره . او د شپې ورځې انقلاباتو ته اوګوره نو د هغې تنيجه چې افمن يخلق کمن لا يخلق بيا ادله چې عالم بکل شئ هو الله نو روستو بيا دلائل شروع کړی چې نعمتونه ټول د هغۀ د طرفنه دی . وان لکم فی الانعام غوا ميښې ګډی بيزې ته اوګوره ، څکلې دي اوبه خوړلی دی واخۀ يو طرفته وينې بل طرفته غوشايه روان ترې نه شوده . نو دا درله چا کړي دی دارنګی واوحی ربك الی النحل مچئ ته اوګوره څښکلی دی اوبه خوړلی دی ګلان لګئ کښې دی زهر خلې کښې ګبينان په لاره ده روان دا درله چا کړي دی نو والله خلقکم ځان ته اوګوره د

ځوانۍ نه شوې بوډا ، روان ئې په همسا دا انقلاب درکښې راوستې دې بیا چا .

عصا هر دم اشاره میکند پیرے
که امروز است یا فردا جا اینجاست یا آنجا

همسا درته وائې چې د قبر دې یا دا ځائ دې یا دا یا دا ځائ دې یا دا.

**بنی اسرائیل**: کښې هغه څلور خبرې چې مرتکب د هغې مستحق د عذاب ګرځي . شرک مستمرّه سبب لنزول العذاب ، بې عزتي د شعائرالله سبب لنزول العذاب ، اخراج الرسل من البلاد سبب لنزول العذاب څلورم استهزاء بالرسل سبب لنزول العذاب.

**کهف**: کښې چې عالم الغیب صرف یو الله تعالی دې اصحاب کهف ، بنی اسرائیل ، موسی ﷺ او خضر ﷺ او ذوالقرنین لوئ لوئ هستئ دی خو په غیبو نۀ پوهیږی او دا دنیا ډیره معمولی ده پدې مۀ نازیږه خساسة الدنیا بوجوه الثلاثه دا دنیا به درنه واغستې شی لکه د باغ والا نه چې باغ واغستې شو او ددې دنیا وخت ډیر لږ دې او دا دنیا به درباندې وبال شی .

**مریم** :کښې عجز دنیکانو بندیانو او فرشتو چې ټول الله ته دی عاجز.

**طه** :کښې چې خپله پرې مصیبتونه راغلی وو ابتلوا بالمصائب او تسلي په واقعه د موسی ﷺ.

**انبياء**: كښې چې ټولو په مشكلاتو كښې الله تعالى رامدد كړې وو او الله تعالى ئې اكرام كړې وو نو يو الله تعالى رامدد كړئ په حاجاتو كښې

**حج**: كښې نو منخته صرف د الله په نوم كوى او د ځان نه حرمتونه مه كوى عمل د شرک نه پاک كړئ.

**مومنون**: كښې اوصاف د كاميابئ او رد د شرک فعلى او اعتقادى په ادلّو باندې.

**نور**: كښې چې عقيده مو پاكه شوه نو معاشره د فحشاء نه پاكه كړئ كه راغلى وى نو سزا وركوئ څلور قوانين او لار د فحشاء اونيسئ د هغې دپاره اووۀ اداب ذكر كوى چې د توحيد په نورانيت باندې پوهه شئ.

**فرقان**: كښې چې كله د فحشاء پريخوده نو بركتونه به دركړى نو د خير او بركت ذمه وار صرف الله دې.

**شعراء**: كښې تسلى نبىﷺ ته په نجاة المومنين او هلاک الجاحدين او كه بل څوک بركت وركونكې وې نو دا قومونه به ئې بچ كړې وې.

**نمل**: كښې دوه مسئلې چې عالم الغيب الله دې او سلامتيا الله تعالى وركوى په اول دوه واقعې چې موسى عليه السلام او سليمان عليه السلام په غيبو نه پوهيږى اوګوره موسى خبر نه شو د همسا او نور الهى ته ئې نار اووى اوګوره سليمان عليه السلام وو پيغمبر د بلقيس د مملكت نه وو كله خبره او د هغې نتيجه قل لا يعلم من فى السموات والارض الغيب الاالله. او په دويمه مسئله دوه واقعى اوګوره صالح عليه السلام او لوط

ﷺله سلامتیا الله ورکړه د هغې نتیجه الحمد لله وسلٰم علی عباده الذین اصطفی .

**قصص**: کښې مسئله په بهادرئ اورسوه حالك کحال موسی بدءً وّ آخراً کامیابی به ستا وی.

**عنکبوت**: کښې نو امتحانات به راځی برداشت کړه اول امتحان د نفس د طرفنه دویم امتحان د مور پلار د طرفنه دریم امتحان د علماء سوء د طرفنه چې آزار او ګناه دِ ځمونږه په غاړه او امتحان به ځومره وی واقعه د نوح ﷺ او څنګه به وی واقعه د ابراهیم ﷺ اورته به دِ غورځوی . او چې څوک دِ تنګوی او مسئله نه منی هغه به تباه شی اوګوره مدین ، عاد ، قارون ، فرعون او هامان څنګه تباه شو.

**روم**: کښې چې امتحانات دِ برداشت کړل نو کامیابی ستا ده ته خو پریږده چې تهٔ په چا خوشحالیږی هغهٔ له به هم الله فتحه ورکړی .

**لقمان**: کښې مسئله د کامیابئ او فتح چې مسئله د توحید ده په ادلو باندې

**سجده**: کښې رد د شفاعت قهری چې د الله نه څوک په زوره خلاصول نشی کولې .

**احزاب**: کښې د رد د شرک دپاره مثالونه او ترغیب اتباع ته چې د مایوٰځی تابعداری اوکړئ مدد به مو الله تعالی کوی لکه احزاب کښې چې درله مدد کړې وو او ۱۲ خطابونه نبی ﷺ ته ۱۲ خطابونه امت ته .

**سبا**: کښې دفعه د شبهاتو چې داود ﷺ او سليمان ﷺ به ناشنا کارونه کول جواب دا ورلره الله تعالی ورکړی وو او جنات په غيبو نۀ پوهيږی شفعاء ندی او ملائک هم عاجز دی نو

**فاطر**: کښې صرف هغه به حاجاتو کښې رامدد کړئ رد د شرک فی الدعاء په هغې ادله عقليه .

**يسين**: کښې چې چا نور سفارشيان منل نو هغه خو ئې بچ نۀ کړل تباه شو اأتخذ من دونه الهه ان يردن الرحمن بضرّ لاتغن عنی شفاعتهم شيئاولاينقذون او درې ځله لفظ صيحة چې انسانه پيدا ئې د نطفه او راتلل دې وو دنيا ته په صيحه او تلل دِ وو د دنيا نه په صيحه او پورته کيدل دِ په صيحه نو مسئلې د توحيد خوند اوګوره صاحب يسين وائی ياليت قومی يعلمون .....

**صافات**: کښې عجز د چونړ شوی مخلوقات چې ټول الله تعالی دی عاجز.

**ص**: کښې ابتلوا بالمصائب امتحانات او مصائب پرې راغلی وو.

**زمر**: کښې نو چې داسې ده نو فاعبدالله مخلصًا له الدين او پدې ادله ذکر کوی .

**مومن**: کښې فادعواالله نو چې د عبادت حقدار الله دې نو مشکلاتو کښې صرف الله تعالی رامدد کړه . دا د ټولو حواميمو مسئله ده . په نورو کښې جواب د شبهاتو.

**حم سجده**: کښې جواب د څلور شبهاتو چې مسئله ظاهره نشی . اوله شبهه مونږه ستا په خبره نۀ پوهيږو جواب قل انما انا بشر مثلکم

یوحی الیّ انما الهکم اله واحد دویمه شبهه مونږ له خوب کښې راځی مونږ لیدل چې ځمونږ مدد کوی جواب وقیضنا لهم قرناء ، فزینو لهم ما بین ادیهم وما خلفهم . چې دا دِ هغه زورِ یاره وی شیطان ځوانئ کښې به د مونځ نه بندولی اوس د ایمان نه بندوی دریمه شبهه چې قران په بله ژبه کښې ولی نۀ راځی . جواب ولوجعلنه قرانا اعجمیًا لقالوا لولا فصلت ایاته ءاعجمی و عربی . څلورم شبهه په یو ځل ولې نه راځی جواب ولقد اتینا موسی الکتاب فاختلف فیه .

**شوری**: کښې د دریو نورو اعتراضونو جوابونه چې مسئله بد نامه کړی اوله شبه چې دا مسئله مخکښې چا نده کړې جواب کذالك یوحی الیك و الی الذین من قبلك الله العزیز الحکیم دویم جواب شرع لکم من الدین ما وصی به نوحا..... دویمه شبه عام کتابونه ستا خلاف دی په کتابونو کښې ستا خلاف عبارتونه ملاویږی جواب وما اختلفتم فیه من شئ فحکمه الی الله دویم جواب الذی نزل الکتاب والمیزان دریم جواب وکذالك اوحینا الیك روحا من امرنا دریمه شبهه چې عام مولیان ستا خلاف دي جواب وما تفرقوا الا من بعد ما جاءهم من العلم .. چې دا باغیان دی ضدیان دي .

**زخرف**: کښې د مرکزی شبهې جواب چې مونږ دوئ ته وایو او دوئ الله ته وائی نو جواب چې ولایملك الذین یدعون من دونه الشفاعة .

**دخان**: کښې د بلې شبهې جواب څه که پوره کولې نشې نو واو خو به وری کنه نو جواب انه هوالسمیع بې اسبابو اوریدونکې صرف الله تعالی دي .

**جاثية**: کښې د بلې شبهې جواب چې دا ځمونږه د پلار نيکه طريقه ده جواب ثم جعلنك على شريعة من الامر فاتبعها.

**احقاف**: کښې د بلې شبهې جواب د دوئ بلنه د خير نه خالی نده د دوئ نوم اغستو کښې خير دې جواب فلولانصرهم الذين اتخذو من دون الله قربانا الهة ... پخوانی ئې ولې نۀ وو بچ کړی نو اورسوه دا مسئله .

**سورة محمد** : کښې چې نۀ منې نو "فضرب الرقاب" جهاد ورسره اوکړه .

**فتحه**: کښې اعلان د کاميابۍ او د فتح چې انا فتحنالك فتحا مبينا نو

**حجرات**: کښې چې فتح درته ملاؤ شوه نو قانون د الله تعالى به جاری کوئ نو

**ق**: کښې مسئله د قيامت چې کذالك الخروج سره د توحيد نه چې پدې کاميابی ده .

**ذاريات** : کښې ترقی چې ان الدّين لواقع چې د خروج نه بعد بدله يقينی ده .

**طور**: کښې د هغې نه ترقی چې ان عذاب ربك لواقع ما له من دافع نو د عذاب نه د بچاو دپاره

**نجم** : کښې اثبات د رسالت او رد په مشرکينو چې دشرک نه ځان اوساتئ او يو د الله عبادت اوکړئ .

**قمر**: کښې رد د شرک فی البرکة انا کل شئ خلقناه بقدر چې خیرونه هغه ورکوی او چا چې نه وه منلی تباه شوی دی.

**رحمن**: کښې ترقی چې برکتونه الله ورکوی درې رکوع درې مسئلې اول کښې دلائل دویمه کښې تخویف او دریمه کښې بشارت.

**واقعه**: تتمه د رحمن ده او ترقی چې فسبّح باسم بربك العظيم الله د شریکانو نه پاک اوګڼړئ.

**حدید**: د حدید نه تر تحریم مسئله د جهاد او انفاق چې شرک کوی نو جنګ ورسره اوکړئ او مال اولګوی نو حدید کښې دوه مسئلې چې انفاق اوکړئ په اوله حصه کښې بالوجوه الخمسة مال ستا ندې د الله دې نو ورکړه ، دویم که ستا وی نو الله تعالی ته پاتیږی دریم ځه الله تعالی له ئې قرض ورکړئ ، څلورم حقیقت د مال اوګوره ، پنځم که ته وائې ما ځان له ساتلې دې ضرورت او مصیبت له جواب چې مال دفع نشی کولې چې راوستې الله دې مال لیکل نه دفع کوی دویمه حصه کښې مسئله د جهاد فی سبیل الله.

**مجادله**: کښې زجر منافقانو ته چې تنظیم کښې فساد اچوی درې زجرونه په لفظ د الم او درې قاعدې دپاره داخراج د منافقانو په لفظ د یاایهاالذین امنو سره.

**حشر**: کښې تخویف دنیوی پس د زجر نه.

**ممتحنه**: کښې بائیکاټ د دشمنانو د الله نه او زجر هغه چاته چې کافرو سره دوستی کوی.

**صف** : كښې زجر منافقانو ته چې په خلهٔ وايئ او كوئ نه نو جهاد اوكړئ .

**جمعه** : كښې ترغيب الى الانفاق چې دينى مجالسو ته حاضر شئ چې د انفاق بيان واورئ .

**منافقون**: كښې زجر هغه چاته چې د الله په دين مال نه لګوى او ترغيب الى الانفاق مومنانو ته چې ستاسو د منافق غوندې نشئ .

**تغابن**: كښې مقاصد اربعه چې د كوم دپاره جهاد او انفاق كيږى سره د ترغيب الى الانفاق والجهاد .

**طلاق**: كښې اصلاح د معاشرې او مقاصد اربعه په عكس د تغابن .

**تحريم**: كښې تنوير په ماسبقه .

**ملك**: كښې نفى دشرک فى البركة او يولس دلائل په رد د يوولسمې باندې .

**قلم**: كښې ترغيب الى التبليغ مسئله اورسوه او څوک چې تا مسئله كښې سستوى نو د هغهٔ لس پليتئ ذكر كوى .

**حاقة**: كښې تخويف اخروى چې قيامت كښې به تباه شى .

**معارج** : كښې تفصيل د حاقې او د بچ كيدلو د عذاب نه اعمال ذكر كوى .

**نوح** :كښې تحضيض فى التبليغ مسئله اورسوه او دليل نقلى او يره ددنيا د عذاب په واقعه د نوح عليه السلام باندې .

**جن**: كښې نفى د شرک اعتقادى كوى په نقل د جناتو باندې .

**مزمل**: کښې ترغیب الی القران چې قران اورسوه.
**مدثر** : کښې ترغیب الی التبلیغ چې په بهادرئ اورسوه او منکر د قران ته زورنه.
**قیامه** : کښې اثبات د قیامت تر سورة الاعلی پورې د لسو سورتونو کښې اول اثبات د قیامت
**دهر**: کښې وضاحت د قیامت د انسان په پیدائش او لس بشارتونه.
**مرسلات**: کښې تخویف او لفظ ویل سره لس تخویفات.
**نباء**: کښې تفصیل د یوم الفصل او لس مشترک څیزونه او دلائل.
**نازغات**: کښې د زنکدن حالات او یره د دنیا او تفصیل د سورت نباء.
**عبس**: کښې تخضیض فی التبلیغ.
**تکویر**: کښې د فناء د عالم دولس احوال ٦ احوال د قیامت نه مخکښې او ٦ احوال پس د فناء د عالم نه.
**انفطار**: کښې خلاصه د ماسبقه او رد د شفاعت قهری.
**مطففین**: کښې چې داسې حالات راځی ترغیب ایمان ته چې بیا څوک د رجسټر نه خپل نوم ورانولې نشی.
**انشقاق**: کښې ترغیب اعمال صالحو ته پس د ترغیب نه ایمان ته او فناء د عالم.
**بروج**: کښې نمونې د باطل پرستو او د هغوئ انجام.

**طارق** :کښې اثبات د قیامت او حفاظت د اعمالو او چې اعمال محفوظ دی فمهل الکفرین امهلهم رویدا .

**اعلی**: نه ترسورة الیل پورې پنځه سورتونو کښې تزهید من الدنیا او ترغیب الی الآخرة نو اعلی کښې دوه مسئلې ماله اومنه دوه به تاله درکړم ماله دا اومنه چې خالق لکل شئ هوالله او دویمه چې عالم بکل شئ هوالله نو دوه به تالره درکړم قران به درکړم دویم جنت به درکړم .

**غاشیة**:کښې تخویف او بشارت .

**فجر**: کښې ترغیب انسان ته چې د نیلام وختونه درنه لاړل وخت مه ضائع کوه عبادت اوکړه چې جنت حاصل کړې.

**بلد**: کښې زورنه اسراف کونکو ته او د کلې د اصلاح دپاره اصول.

**شمس** : کښې تفرقه د اعتقاد د صحیح اعتقاد او د غلط اعتقاد فرق او د هغې شواهد .

**لیل**:کښې تفرقه د عمل او د هغې شواهد .

**ضحی**: نه تر آخر تر قرانه مقاصد اربعه بیانیږی قران خلاصیږی نو مقاصد دوباره بیانوی . ضحی کښې تسلی نبی ﷺ ته او ترغیب بیان ته .

**انشراح**:کښې تسلی امت ته په خطاب د نبی ﷺ باندې .

**تین**:کښې ترغیب الی التبلیغ چې مشقتونه برداشت کړه لکه دې اصحابو چې برداشت کړی وو.

**علق**: کښې مقاصد اربعه او ترغیب قران ته .

**قدر**: کښې عظمت د قران .

**بینه**: کښې امتنان او احسان په مخلوق په رالیږلو د نبیﷺ او زجر نه منونکو ته .

**زلزال**: کښې اثبات د قیامت.

**عادیات**: کښې تیقظ او بیداری انسان ته چې تهٔ مال پسې ئې او د مالک ناقدری کوی د اسونو نه هم لاندې شوې .

**قارعه**: کښې اثبات د قیامت او د هغې خطرناکۍ سره تخویف .

**تکاثر**: کښې تزهید من الدنیا .

**همز**: نه تر ماعون څلور نخښې د باطل پرستو ، همز کښې چې د حق پرستو عیب لټوی .

**فیل**: کښې د دین ځایونه به ورانوی .

**قریش**: کښې بله نخښه مال پسې به منډې وهی او دین ته به اوزګار نه وی .

**ماعون** : کښې بله نخښه چې د کمزورو حق ضائع کوی یتیم له دیکې ورکوی .

**کوثر**: نه څلورو سورتونو کښې د حق پرستو نخې ذکر کوی کوثر مال او بدن ماله راکه دوه به تاله درکړم خیر کثیر به درکړم دشمن به دِ تباه کړم .

**کافرون**: کښې بله نخښه چې د کافرانو نه بائیکاټ .

**نصر**: کښې بله تخنبه چې د بائیکاټ نه ورستو غلبه او امداد به راځی نو توحید بیانوه استغفار کوه الله ته توجه ساته چې دا سورت نازل شو ابوبکر ژړل نورو خاندل صحابو تپوس اوکړو وې ولې خوشحالی پکار ده نو هغه اووې دومره نه پوهیږې د محبوب جدائی راغله د هغهٔ کار پوره شو اوس دلته څه کوی د مجبوب جدائی ډیر زور لری

یـار مــن چــون شــد جــدا　　فریــاد مــن پــیش خــدا

هــرگاه خــوانیم ایــں دعا　　الله یجمـــــع بیننــــــا

**لهب**: کښې نمونه د امداد دشمن به دِ تباه کړم .

**اخلاص**: کښې هغه مسئله چې د هغې د وجې نه مدد راځی او دشمن تباه کیږی چې د توحید مسئله ده .

**فلق**: کښې د خزانې د توحید حفاظت د ظاهری او جسمانی آفتونو نه پناه .

**ناس**: کښې د روحانی شرونو نه حفاظت چې هغه شیطان وی او د انسان درې حالته چې هر حالت کښې د الله محتاج وی ماشوموالې نو رب الناس او ځوانی نو ملك الناس او بوډا والې نو اله الناس ، د قران ابتداء فاتحه کښې هم دغه درس وو الله،رب العالمین، او مالك یوم الدین نو اول او آخر یو ځائ کړه د توحید پنډ جوړ کړه چې بې ځایه ئې ارتاؤ نکړی او سرته ئې اورسوه . الله دِ څمونږ خاتمه هم په توحید کړی امین یا رب العالمین .

بسم الله الرحمن الرحيم

## قرانی معلومات

(۱) د قران کريم اولنۍ وحی په مکه مکرمه کښې په يو غر کښې چې جبل النور ورته وائی او په هغې کښې يو غار وو چې غار حرا ورته وائی په هغې کښې راغلې وه.

(۲) اوله وحی د هجرت نه ۱۳ کاله مخکښې د رمضان په مياشت کښې په يويشتم تاريخ د پير په ورځ شروع شوې ده. د عيسوی کال په اعتبار ۱۰ اګست ۶۱۰ء وه. دغه وخت د نبی ﷺ عمر د سپوږمۍ د کلونو په حساب څلويښت کاله شپږ مياشتې او دولس ورځې وو او د نمر د کلونو په حساب يو کم څلويښت کاله درې مياشتې او دوويشت ورځې وو.

(۳) په کومه شپه کښې چې قران کريم د لوح محفوظ نه د دنيا آسمان ته راغلې دې هغې ته ليلة القدر او ليلة مبارکة وائی.

(٤) قران مجيد په يو ځل د لوح محفوظ نه د دنيا آسمان ته راغلې دې او بيا لږ لږ د ضرورت مطابق دنيا ته راتلو نو درويشت (۲۳) کاله کښې دنيا ته پوره شو.

(۵) اولنی آيتونه د سورة العلق پنځه آيتونه راغلی وو. اقراء باسم ربك الذی ... وعلم الانسان مالم يعلم پورې.

(٦) بيا څه ورځې وحى بنده شوه نو بيا اول سورة المدثر نازل شو نو ځکه ځنې وائى چې اول سورة المدثر نازل شوې دې نو اول وحى د سورة العلق ده او په دعوت کښې اول آيتونه د سورة المدثر دى . په يوځل چې ټول مکمل سورة نازل شوې دې هغه سورة الفاتحه ده .

(٧) د قران کريم د نازليدلو طريقه داده چې جبرئيل به څه ايتونه راوړل او نبى ﷺ ته به ئې اورول .

(٨) د قران مجيد د سورتونو او آيتونو ترتيب چې کوم ځمونږ مخې ته دې چې اول سورة الفاتحه او آخرى سورة الناس دې ديته ترتيب مصحفى ، لوحى او عثمانى وائى دا جبرئيل ﷺ نبى ﷺ ته خودلې دې په دغه طريقه لوح محفوظ کښې وو او عثمان ﷺ جمع کړې دې روستو ځکه ورته ترتيب عثمانى وائى .

(٩) چې کوم د نازليدلو ترتيب دې نو هغې ته ترتيب نزولى او ترتيب مسعودى وائى ځکه چې عبدالله ابن مسعود ﷺ په دغه طريقه جمع کړې دې .

(١٠) کوم سورتونه چې د هجرت نه مخکښې نازل شوى دى هغې ته مکى سورتونه وائى دا د اکثرو عالمانو په نيز (٨٦) شپږ اتيا سورتونه دى .

(۱۱) کوم سورتونه چې د هجرت نه روستو نازل شوى وى نو هغې ته مدنى سورتونه وائى دا د اکثرو عالمانو په نيز (۲۸) اته ويشت سورتونه دى .

(۱۲) په مدنى سورتونو کښې اولنې سورة سورة البقرة نازل شوې دې .

(۱۳) د قران مجيد آخرى سورة چې مکمل آخرى نازل شوې دې او د هغې نه روستو بل مکمل سورة نهٔ وى راغلې هغه سورة النصر اذا جآء نصر الله دې .

(۱٤) د صلحى او جنګ باره کښې چې آخرى سورة نازل شوې دې نو هغه سورة التوبه ، سورة البراءة دې .

(۱۵) د احکامو د حلالو او حرامو باره کښې چې آخرى آيت نازل شوې دې نو هغه آيت د سورة المائدة ۳ " اليوم الکملت لکم دينکم واتممت عليکم نعمتى ورضيت لکم الاسلام دينا " دې چې د حجة الوداع په موقع نازل شوې دې . ددې وجې نه سورة المائدې ته آخرى سورة وائى خو په احکامو کښې .

(۱٦) بلکل آخرى وحى چې د هغې نه روستو بيا وحى د قران نده شوى هغه د سورة البقرة ۲۸۱ ، واتقوا يوما ترجعون فيه الى الله

دې چې ددې نه روستو وحی نده راغلې نبی ﷺ اتلس (۱۸) ورځی تقریبا ژوندې وو بیا وفات شو.

(۱۷) دا قران موجوده طریقې سره عثمان ﷺ جمع کړې دې ځکه عثمان ﷺ ته جامع القران وائی. ددې نه مخکښې چې په کومو اووهٔ قرأتونو لوستل جائز وو نو په هغه طریقه ابوبکر ﷺ جمع کړې وو.

(۱۸) چې په نبی ﷺ به وحی اوشوه نو نبی ﷺ به لیکونکې را اوغوختلو هغه به اولیکله دغې صحابو ته کاتبین وحی وائی هغه مشهور دادی په مکه کښې کاتبین وحی ابوبکر صدیق، عمر فاروق، عثمان غنی، علی المرتضی، عبدالله بن مسعود، عبدالله ابن عمر وغیره رضوان الله علیهم اجمین او مدینه منوره کښې کاتبین د وحی زید بن ثابت، ابی بن کعب، معاذ بن جبل، ابو درداء، ابوزید، ابو ایوب انصاری، عبدالله بن ارقم، امیر معاویة، عبدالله بن رواحة وغیرة تقریبا ۳۸ اتهٔ دیرش صحابه کرام کاتبین وحی وو.

(۱۹) قران کریم کښې ټول سورتونه یو سل څوارلس (۱۱٤) دی.

(۲۰) چې څوک قران کریم یو هفته کښې لوستل غواړی نو چې کومه حصه د ورځې تلاوت کیږی هغې ته منزل وائی دا منزلو

نه د قران کريم اووۀ دی د کومو سورتونو نه چې منزل شروع کيږی د هغه سورتونو په سر کښې چې کوم ټکی راځی هغه داسې جمع شوی دی "فمنی بشوق" (فاتحه ، مائده ، یونس ، بنی اسرائیل ، شعراء ، الصفت ، ق )

(۲۱) څوک چې قران کريم په مياشت کښې لوستل غواړی چې مکمل ختم شی نو کومه حصه چې د ورځې تلاوت کوی هغې ته پاره ، سيپاره وائی نو دا قاريانو برابر تقسيم په ورځو کړې دې نو پارې ديرش دي .

(۲۲) او قاری په رمضان کښې په تراويح کښې تلاوت کړې وو نو چې په کوم ځائ رکوع کړې ده نو هغه ځائ باندې شاګردانو ته د رکوع نخه کړې ده نو هغه ته رکوع وائی او رکوع ګانې د قران کريم (۵۵۸) پنځه سوه اته پنځوس دی .

(۲۳) په قران کريم کښې د تلاوت اتفاقی سجدې څوارلس دی او اختلافی پنځلس دی .

(۲٤) په قران کريم کښې ټول شپږ زره دوه سوه شپږ ديرش (٦٢٣٦) آيتونه دی.

(۲۵) قران مجید کښې ټول کلمات اووۀ اويا زره ، نهه سوه ، څلورديرش (۷۷۹۳٤) دي .

(٢٦) قران كريم كښې ټول ټكى درې لاكهه ، دريوشت زره ، شپږ سوه ، اويا (٣٢٣٦٧٠) دى.

(٢٧) په قران كريم كښې زور ، زير او پيښ د عراق ګورنر حجاج بن يوسف كړى وو چې د بنو اميو مشهور خليفه عبدالملک بن مروان په دور كښې عجمو ته قران لوستل ګران شو نو هغهٔ حجاج ته اووې چې د هغهٔ ګورنر وو چې دا حركات اوكړه چې خلقو ته لوستل د قران كريم آسان شى.

(٢٨) په قران كريم كښې دوه آيتونه داسې دى چې په هغې كښې ټول حروف تهجى راغلى دى يو آيت د سورة ال عمران ١٥٤ ثم انزل عليكم من ..... دويم آخرى آيت د سورة الفتح ٢٩ محمد الرسول الله ....

(٢٩) په قران كريم كښې سورة المجادلة داسې سورت دې چې په هر آيت كښې د الله تعالى اسم اعظم راغلې دې .

(٣٠) په قران كريم كښې د ټولو نه اوږد آيت د سورة البقرة ٢٨٢ آية المدائنة دې .

(٣١) په قران كريم كښې د ټولو نه اعظم يعنى افضل آيت كريمه هغه آية الكرسى سورة البقرة ٢٥٥ دې . چې پكښې د الله تعالى نومونه صفتى او ضمير سره اولس ځله راغلې دې .

(۳۲) قران کريم د ټولو نه اجمع آيت چې ټول دين ئې راجمع کړې وى نو هغه د سورة النحل ۹۰ ان الله يامر بالعدل والاحسان ..... دې .

(۳۳) په قران کريم کښې د ټولو نه ارجٰى يعنى د اميد آيت کريمه هغه د سورة الزمر ۵۳ قل يٰعبادى الذين اسرفوا ... دې .

(۳٤) په قران کريم کښې د ټولو نه اخوف يعنى يرونکې آيت کريمه فمن يعمل مثقال ذرة شرا يره د سورة الزلزال ۸ اية دې .

(۳۵) په قران کريم کښې د ټولو نه اوږده رکوع د سورة التوبه اومه ۷ رکوع ده د آيت نمبر ٤۳ درې څلويښتم نه تر يو کم شپيتم پورې ده .

(۳٦) په قران کريم کښې چې کومه رکوع کښې د ټولو نه زيات آيتونه دى هغه د سورة الصافات دويمه رکوع ده چې د آيت ۲۱ نه تر ۷٤ پورې ده درې پنځوس ۵۳ ايتونه پکښې دى .

(۳۷) په قران کريم کښې د ټولو نه اوږد سورة سورة البقرة ده چې ۲۸٦ آيتونه او څلويښت رکوع ګانى دى .

(۳۸) په قران کريم کښې د ټولو نه مختصر او لنډ سورة سورة الکوثر دې .

(۳۹) په قران کریم کښې د ټولو نه اعظم او اشرف افضل سورة سورة الفاتحه ده .

(٤٠) په قران کریم کښې د ټولو نه لنډ آیت حٰم چې دوه ټکی دی ددې نه علاوه د سورة المدثر آیت ۲۱ ثمّ نظر دې چې شپږ ټکی پکښې وی . الرّحمن هم دې خو دې کښې ټکی اووهٔ دی البته کلمه یوه ده .

(٤١) په قران کریم کښې یو آیت چې لس ځله پکښې قاف راغلې دې د سورة المائده ایت ۲۷ واتل علیهم نبأ ابنی ادم .... دې . دویم بقرة ٢٤٦ الم تر الی الملاء .. ، ال عمران ۱۸۱ لقد سمع الله ... ، النساء ۷۷ الم تر الی الذی ... ، او رعد ١٦ قل من رب .... ، او سورة المزمل آخری آیت ان ربك یعلم ....

(٤٢) په قران کریم کښې د نبی ﷺ نوم څلور ځله راغلې دې . سورة ال عمران ١٤٤ ، سورة الاحزاب ٤٠ ، سورة محمد ۲ ، سورة الفتح ۲۹ .

(٤٣) کلمه توحید لا اله الا الله یعنی د الله د نوم سره دوه ځلې راغلې ده سورة الصافات ۳۵ سورة محمد ۱۹ کښې . او ضمیر وغیره سره د امام رازی د وینا مطابق تقریبا ۳۳ ځله ده .

(٤٤) د قران کريم په هره سيپاره کښې د موسی ﷺ نوم شته دې سيوا د پنځمې او څوارلسمې سيپارې نه.

(٤٥) په قران کريم کښې لفظ د کلاّ ۳۳ ځله راغلې دې.

(٤٦) په قران کريم کښې خطاب مومنانو ته په يايها الذين امنوا سره ۸۲ ځله دی اول په بقره ۱۰٤ کښې يهاالذين امنوا لا تقولوا راعنا، او آخرې سورة التحريم ۸.

(٤٧) په قران کريم کښې صرف د يو صحابی نوم راغلې دې زيد رضي الله عنه احزاب ۲۷ کښې.

(٤٨) په قران کريم کښې صرف د يوې زنانه نوم راغلې دې مريم علی نبينا وعليه السلام.

(٤٩) په قران کريم کښې د ۲٦ انبياء کرامو نومونه راغلی دی. آدم، نوح، هود، صالح، ادريس، ابراهيم، اسماعيل، اسحاق، يعقوب، يوسف، موسی، هارون، شعيب، داود، سليمان، يونس، لوط، يسع، زکريا، يحيیٰ، الياس، عيسیٰ، ذوالکفل، ايوب، عزير، محمد، صلوٰت الله عليهم والتسليمات

(٥٠) په قران کريم کښې مکمله بسم الله الرحمن الرحيم د سورة په مينځ کښې يو ځائ راغلی ده سورة النمل ۲۰ کښې. د

سورتونو په ابتداء کښې ۱۱۳ ځله ده د یو سورت په اول کښې نشته دې سورة التوبه کښې .

(۵۱) قران کریم کښې شپږ سورتونه د حیواناتو په نوم دی . بقرة ، انعام ، نحل ، نمل ، عنکبوت ، فیل.

(۵۲) په قران کریم کښې د یو دیرش حیواناتو تذکره راغلې ده . ـ(۱) ماشې ـ(۲) غوا سخې ـ(۳) شادو ـ(٤) خنزیر ـ(٥) درنده ـ(٦) کارغهٔ ـ(۷) ګډ ـ(۷) بیزه ـ(۹) اوښ ـ(۱۰) اوښه ـ(۱۱) اژدها ـ(۱۲) مار ـ(۱۳) نرې مار ـ(۱٤) ملخ ـ(۱٥) سپګئ ـ(۱٦) چیندخ ـ(۱۷) مهیان ـ(۱۸) مارغهٔ ـ(۱۹) کورنی څاروی ـ(۲۰) د ګبین مچئ ـ(۲۱) اس ـ(۲۲) قچر ـ(۲۳) خر ـ(۲٤) مچ ـ(۲٥) میږې ـ(۲٦) ملاچرجک ـ(۲۷) جولاګې ـ(۲۸) وینهٔ ـ(۲۹) شرمخ ـ(۳۰) سپې ـ(۳۱) هاتهی . د ټولو نه وړوکې اول ذکر کړې دې او د ټولو نه غټ هاتهی په آخره کښې ذکر کړې دې .

(۵۳) په قران کریم کښې شپږ سورتونه د پیغمبرانو په نوم دی یونس ، هود ، یوسف ، ابراهیم ، محمد ، نوح علهیم السلام دوه د نبی ﷺ په صفتی نومونو مزمل او مدثر ، یو د مجموعة الانبیاء په تذکره .

(٥٤) په قران کريم کښې درې سورتونه داسې دی چې هغې سورتونو کښې هغه نوم نشته نور هر سورت کښې هغه نوم راغلې دې ، الفاتحه ، الانبياء ، الاخلاص . دا نومونه په دغه سورتونو کښې دننه نشته دې .

(٥٥) په قران کريم کښې اتۀ سيپارى په سورت شروع شوى دى اوله ، پنځلسمه ، اوولسمه ، اتلسمه ، شپږيشتمه ، اتويشتمه ، يوکم ديرشمه ، ديرشمه ،

(٥٦) په قران کريم کښې د څلور فرشتو نومونه راغلى دى ، جبرئيل ، ميکائيل ، رعد ، مالک .

(٥٧) په قران کريم کښې د يوکم ديرشو سورتونو په سر کښې حروف مقطعات راغلى دى . دا حروف مقطعات هغه حروف دى چې دا د يو بل سره تړلې کيږى نه او جدا جدا لوستلې کيږى . حروف مقطعات ټول څوارلس ټکى دى کم عسل بقص حي طاهر.

(٥٨) په قران کريم کښې په يو ځائ د دولسو مياشتو ذکر راغلې دې ، ان عدة الشهور عند الله اثنا عشر شهراً.

(٥٩) په قران کريم کښې صرف د يوې مياشتې نوم راغلې دې چې رمضان دې .

(٦٠) په قران کريم کښې صرف د دوو ورځو نوم راغلې دې چې ، د خالی ورځ او د جمعې ورځ ده .

(٦١) په قران کريم کښې صرف يو شين باندې تنوين راغلې دې ولها عرش عظيم النمل ٢٣ .

(٦٢) په قران کريم کښې د پنځو جماعتونو تذکره راغلې ده مسجد حرام ، مشعر حرام د مزدلفی والا ، مسجد ضرار ، مسجد قباء ، مسجد اقصٰی .

(٦٣) په قران کريم کښې د اووۀ کافرو نومونه راغلې دی . فرعون ، جالوت ، اٰزر ، هامان ، قارون ، ابولهب ، سامرې .

(٦٤) د قران کريم سورتونه عالمانو تقسيم کړی دی ، سبع طوال د البقرة نه تر التوبه پورې انفال او توبه په يو حساب دی دويم مِئِين چې تقريبا په سلو آيتونو څه لږ او زيات باندې مشتمل وی د سورة يونس نه تر سورة فاطر ٢٦ سورتونه دی . دريم المثانی چې هغې کښې مضمون دوباره راځی د يسين نه تر الحجرات پورې دا څوارلس سورتونه دی . څلورم مفصّلات دا مختصر سورتونه دی د يو قول مطابق د ق نه تر آخره دويم قول د حجرات نه تر آخره . دا بيا درې قسمه دی طوال مفصل د يو قول مطابق د ق نه تر مرسلات ٢٨ سورتونه د دويم قول مطابق تر

بروج پورې او اوساط مفصّل د يو قول مطابق د النباء نه تر ضحى پورې او د دويم قول مطابق د سورة البروج نه تر البينه پورې قِصارِ مفصّل د يو قول مطابق د سورة الانشراح نه تر آخر پورې د دويم قول مطابق د زلزال نه تر آخره.

(٦٥) د سحر مونځ کښې به اکثر نبی ﷺ د طوال مفصل نه يو يا دوه سورتونه لوستل او د ماسخوتن مونځ کښې اوساط مفصل او د ماښام مونځ کښې قصار مفصل او مازيګر په حکم د ماښام کښې دې او ماسپخين په حکم د ماسخوتن کښې دې.

(٦٦) آية ته آية ځکه وائی چې ديته به اول او آخر کښې علامه وه ځکه آية علامی ته وائی.

(٦٧) سورت ته سورت ځکه وائی چې د سورت يو معنی ده پاتې نو دا هم د قران پاتې حصه وه. او يا ديوال ته وائی نو دې هم د خپل مضمون نه چاپيره وی. يا سورت درجې ته وائی نو ددې هم لويه درجه ده.

(٦٨) په قران کريم کښې د ټولونو نه زياته تذکره په پيغمبرانو کښې د موسی ﷺ شوې ده.

(٦٩) اعراف، هود، انبياء، مريم، شعراء، صافات، ص، دې سورتونو کښې د انبياء تذکره ډيره راغلې ده.

(۷۰) سورة الانعام کښې په یو رکوع کښې د اتلسو انبیاء نومونه راغلی دی په رکوع ۱۰ کښې د ایة ۸۳ نه تر ۸٦ پورې . ابراهم ، نوح ، اسحاق ، یعقوب ، داؤد ، سلیمن ، ایوب ، یوسف ، موسی ، هرون ، زکریا ، یحی ، عیسی ، الیاس ، اسماعیل ، یسع ، یونس ، لوط ، علیهم الصلوٰت والتسلیمات .

(۷۱) د سورة المزل آخری آیت یو رکوع دې یعنی ټوله رکوع یو آیت کریمه دې او ټول حروف هجاء پکښې دې علاوه د شین نه . او قاف پکښې لس ځله دې .

(۷۲) قران کریم کښې د جنت لس نومونه راغلی دی ـ۱ـ جنت المأوٰی ـ۲ـ جنت عدن ـ۳ـ جنت نعیم ـ٤ـ حنت الفردوس ـ۵ـ دارالسلام ـ٦ـ دارالخلد ـ۷ـ دار المقامة ـ۸ـ جنة الخلد ـ۹ـ روضة ـ۱۰ـ جنت .

(۷۳) په قران کریم کښې د دوزخ اووۀ طبقات ذکر دی ، ـ۱ـ جحیم ـ۲ـ جهنم ـ۳ـ سعیر ـ٤ـ لظی ـ۵ـ سقر ـ٦ـ حطمة ـ۷ـ هاویة .

(۷٤) په قران کریم کښې په یو آیت کښې اولوالعزم پیغمبران پنځه ذکر دی سورة الاحزاب کښې ”وَإِذْ أَخَذْنَا مِنَ النَّبِيِّينَ مِيثَاقَهُمْ وَمِنْكَ وَمِنْ نُوحٍ وَإِبْرَاهِيمَ وَمُوسَى وَعِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ

وَأَخَذْنَا مِنْهُمْ مِيثَاقًا غَلِيظًا“ (۷) جناب رسول الله ﷺ ، نوح ، ابراهيم ، موسى ، عسٰى عليهم السلام.

اولــــوالعزم نـــــوح والخليـــــل ممجـــــد

ومـــــوسى وعيسىـــــ والنـــــبيّ محمـــــد

(۷۵) د جنت او دوزخ مینځ کښې چې کومه پرده ده اعراف ددې ذکر صرف يو سورة کښې راغلې دې سورة الاعراف ٤٦ ، ٤٨ کښې .

(۷٦) په قران کريم کښې لفظ د الله برغ چې مينځ کښې څه جدا والې نۀ وى نو يو ځائ راغلې دې او د هغې مينځ کښې دعا قبليږى سورة الانعام ۱۲٤ ” وَإِذَا جَاءَتْهُمْ آيَةٌ قَالُوا لَنْ نُؤْمِنَ حَتَّى نُؤْتَى مِثْلَ مَا أُوتِيَ رُسُلُ اللَّهِ اللَّهُ أَعْلَمُ حَيْثُ يَجْعَلُ رِسَالَتَهُ“ ....

(۷۷) فيه په قران کريم کښې برغ يو ځائ راغلى دې چې مينځ کښې جدا والې نۀ وى .سورة التوبه ۱۰۸ ”أَحَقُّ أَنْ تَقُومَ فِيهِ فِيهِ رِجَالٌ يُحِبُّونَ“

(۷۸) په قران کريم کښې اماله په يو ځائ کښې شوى ده مجرها سورة هود ٤۱ کښې .

(۷۹) په قران کريم کښې د فيه د هاء لاندې کهړا زير يو ځائ راغلې دې سورة الفرقان ۶۹

(۸۰) په قران کريم کښې د عليه په هاء باندې پيش يو ځائ کښې راغلې دې عليهُ الله سورة الفتح ۱۰ کښې .

(۸۱) په قران کريم کښې د تحتها په دويمه تاء فتحه زبر يو ځائ راغلې دې تجرى تحتَها الانهر سورة التوبة ۱۰۰ کښې .

(۸۲) په قران کريم کښې درې سورتونه داسې دى چې د هغې هر آيت دو زبر تنوين باندې ختميږى سوا د يو آيت نه بنى اسرائيل ايت نمبر ۱ ، بنى اسرائيل ، کهف ، مريم ددې سورتونو نور ټول آيتونه په دور زبر تنوين باندې ختميږى.

(۸۳) په قران کريم کښې داسې سورة چې هغې کښې صرف يو ځل کسره يعنى زير راغلې وى سورة الاخلاص.

(۸۴) سورة يسين ته " قلب القران " يعنى د قران زړهٔ وئيلې شى .

(۸۵) سورة الرحمن ته " عروس القران " يعنى د قران د خائست ځائ وئيلې شى .

(۸۶) حواميم هغه اووهٔ سورتونه دى چې د هغې په سر کښې حٰم راغلې دې . نو هغې ته "لباب القران" يعنى د قران نچوړ او

خلاصه وائی او "حديقة القران" يعنی د قران باغيچه ورته هم وائی

(۸۷) د سورة الکهف د وليتلطف د قران کښې د ټکو د شمير په لحاظ سره د قران کريم نيمه ده تاء د اول نه چې ټکی شمار کړی نو نيمه راځی او د طاء نه مخکښې لام چې د آخر د غاړې نيمه راځی.

(۸۸) په قران کريم کښې د نبی ﷺ کوم غزوات ذکر کړی دی څه تفصيلا او چاته اشاره شوی ده. ــ(۱) غزوة بدر ــ(۲) غزوة احد ــ(۳) غزوة خندق، احزاب ــ(٤) غزوة بنو قينقاع ــ(٥) غزوة بنی نضير ــ(٦) غزوة حمراء الاسد ــ(۷) غزوة بدرالصغری جيش السويق ــ(۸) غزوة ذات الرقاع ــ(۹) غزوة بنی المصطلق او المريسيع ــ(۱۰) غزوة بنی قربظه ــ(۱۱) غزوة الحديبية ــ(۱۲) غزوة خيبر ــ(۱۳) غزوة الفتح الاعظم، فتح مکه ــ(١٤) غزوة حنين ــ(١٥) غزوة الطائف ــ(١٦) غزوة تبوک.

(۸۹) قران ته قران ځکه وائی چې د لوستو کتاب دې او ډير لوستلې کيږی.

(۹۰) قران کریم کښې د نبی ۲۷ ﷺ نومونه راغلی دی . ــ(۱) محمد ﷺ ــ(۲) احمد ــ(۳) عبدالله ــ(٤) شاهد ــ(٥) بشیر ــ(٦) نذیر ــ(۷) مبشر ــ(۸) منذر ــ(۹) عزیز ــ(۱۰) رؤف ــ(۱۱) رحیم ــ(۱۲) مزمل ــ(۱۳) مدثر ــ(١٤) هادی ــ(١٥) یسین (د یو قول مطابق ) ــ(١٦) طٰهٰ (د یو قول مطابق) ــ(۱۷) رحمة ــ(۱۸) نعمة ــ(۱۹) نور ــ(۲۰) حق ــ(۲۱) سراج منیر ــ(۲۲) شهید ــ(۲۳) داعی الی الله ــ(٢٤) خاتم النبین ــ(٢٥) نبی ــ(٢٦) رسول ــ(۲۷) عبده .

(۹۱) قران کریم کښې د پنځو سورتونو په سر کښې الحمد لله راغلې ده فاتحه ، انعام ، کهف ، سبا ، فاطر .

(۹۲) قران کریم د پوهې په اعتبار څلور حصې دې اول حصه فاتحې نه تر مائدې تر ختمه پورې حصه د خلق یعنی دا ذکر کوی چې پیدا کونکې الله تعالی دې دویمه حصه د انعام نه تر بنی اسرائیل تر ختمه پورې چې پیدا کولو نه روستو تربیت کونکې هم الله تعالی دې دریمه حصه د کهف نه د احزاب تر ختمه پورې چې برکت ورکونکې هم الله تعالی دې څلورمه حصه د سبا نه تر آخره چې اختیار مند الله تعالی دې او قیامت

به راځی د الله نه څوک بغير د اجازت د الله تعالى نه څوک خلاصولې نشی .

(۹۳) د قران کريم اهمې مسئلې هغه اتهٔ دی ــ(۱) توحيد د الله تعالى صحيح پيژندګلو او حق ادا کول ــ(۲) صداقة الرسول د نبی ﷺ پيغمبری منل ــ(۳) صداقة القران قران کريم د توحيد دليل منل ــ(٤) ايمان په آخرت ــ(٥) جهاد فی سبيل الله ــ(٦) انفاق فی سبيل الله ــ(۷) تنظيم ــ(۸) اداب .

(۹٤) د قران کريم اول تفسير په عربئ ژبه کښې تفسير طبری د ابن جرير دې بعضی عالمان وائی چې ابن برِّجان د معنی لحاظ سره د ابن جرير مخکښې دې.

(۹٥) د قران کريم اول تفسير په عجمئ ژبه په فارسۍ کښې اوله ترجمه شاه ولی الله رحمه الله کړی ده چې د هغې نوم فتح الرحمن دې.

(۹٦) د قران کريم اول تفسير په اردو ژبه کښې مولانا شاه عبدالقادر موضح القران تفسير ليکلې دې .

(۹۷) د قران کريم اول تفسير په پښتو ژبه په ۱۷٦۰ء کښې تفسير افضلية مولانا رکن الدين پشاور هزارخوانی ليکلې دې .

(۹۸) د قران کريم اول تفسير په انګلش ژبه کښې جارج سيل (George Sale) نوم انګريز د ”دی قران“ (The quran) په نوم په ۱۷۳٤ء کښې ليکلې دې.

(۹۹) په هندوستان کښې اولنې تفسير په احکامو د قران کښې هغه تفسير احمديه د ملا جيون دې.

(۱۰۰) په قران کريم کښې د الله تعالی نوم اسم اعظم دوه زره شپږ سوه اووۀ نوی (۲٦۹۷) ځله راغلې دې.

تمت بالخير

✤✤✤

## دعا

د لوئ الله تعالی د هغۀ مناسب حمدونه چې په جيل کښې ځما د عاجز نه دا خدمت واغستو ځه هيڅ داسې عمل نه لرم چې الله ته وسيله کړم سيوا د فضل د الله تعالی نه چې په ما فضل کړی د خپل کتاب محبت راته نصيب کړو او دا فضل ئې چې په ما اوکړو دا فضل الله تعالی ته وسيله کوم چې الله تعالی دِ ما معاف کړی او ځما داجی ، مور بی بی او ځما رونړه خالدشهاب ، هارون الرشيد ، فاروق احمد او ځما عاجزانې خويندې دِ الله تعالی معاف کړې او خوشحالی دی ورته نصيب کړی او الله تعالی دِ ځما د رونړو نسلونه په قران او سنت آباد کړی او الله تعالی دِ د سپورې او محتاجې ورځې نه اوساتی

الله تعالی دِ ځما بچې حماس او صارم د دین داعیان کړی او الله تعالی دِ د هغوئ مور ته صبر جمیل او خوشحالی نصیب کړی . ځما استاذان چې کوم وفات شوي دی الله تعالی دِ اوبخی او درجات دِ اوچت کړی او د دین مراکز دِ الله اباد ساتی د هغوئ په نسلونو ترقیامت او د ژوندو استاذانو عمرونو او صحتونوکښې دِ برکتونه اوغورځوی او نسلونه دِ د ټولو په علومو د قران او سنت اباد کړی ځما ملګری دِ الله د خپلی رضا خادمان اوګرځوی د وفات شوو درجات دِ الله اوچت کړی او د ژوندو محافظ دِ شی د مدرسې جواهرالقران د خادمانو او طلباؤ او استاذانو دِ الله تعالی حافظ او ناصر شی الله تعالی دِ جواهر القران د خپلې رضا او محبت مرکز اوګرځوی د ګټو او لوټو دِ الله حفاظت اوکړی ځما د جیل ملګری دِ ټول الله تعالی د دین د خدمت دپاره رها کړی ماسره چې په دې لیک چا مرسته کړی ده او حوصله افزائی ځما کړې ده الله دِ ورته د دنیا او آخرت خوشحالئ نصیب کړی ځهٔ جیل کښې یم چې څوک ځما او ځما د بچو او رونړو ، خویندو او مدرسې او ملګرو سره تعاون کوی الله تعالی دِ د هغوئ مرسته اوکړی الله تعالی دِ د ټولو خوشحالی نصیب کړی الله تعالی دِ دا په خپل دربار کښې قبول کړی او ځما د والدینو او استاذانو او رونړو خویندو او ملګرو له صدقه جاریه کړی امین .

سبحنك اللّٰهُمَّ وبحمدك اشهد ان الا اله الاانت استغفرك واتوب اليك.

۲۳ جمادی الثانی ۱٤٤۱هجـ ۱٦ فروری ۲۰۲۰

بمقام فضاکټ جیل سوات  عشاء ۸:۴۲

احقر مجتبیٰ عامر بن عبدالمتین عفا اللّٰه عنهما

سلیم خان صوابی حالا اسیر فضا کټ سوات

✤✤✤